د عامې روغتيا وزارت

دپوهاند غضنفر د روغتيايي علومو انستېټيوټ

د فارمسي څانګه

# اسلامي ثقافت

ليکوال:

قاضي احمد ګل احمدي

Download from: www.aghalibrary.com

د عامې روغتيا وزارت

د پوهاند غضنفر د روغتيايي علومو انسټيټيوټ

د فارمسي څانګه

# اسلامي ثقافت

ليکوال: قاضي احمد ګل احمدي

١٣٩٤

Download from: www.aghalibrary.com

**احمدي، احمد ګل. ۱۳۹۴**

**اسلامي ثقافت، ليکوال: قاضي احمد ګل احمدي، کابل: د عازم خپرندويه**

**لومړی چاپ: ۱۳۹۴**

اسلامي ثقافت

---

ليکوال:

قاضي احمد ګل احمدي

اډوونکی\ ايډيټر:

ډاکټر اجمل عازم

خپرندوی:

د عازم مطبعه او خپرندوی

چاپ شمېر:

۵۰۰ ټوکه

لومړی چاپ:

۱۳۹۴

Download from: www.aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحيم

Download from: www.aghalibrary.com

## د عامې روغتيا د وزارت پيغام

د عامې روغتيا وزارت خوښ دی، چې د پوهاند غضنفر د روغتيايي علومو انستيټوټ د فارمسي څانګې نوی تعليمي نصاب يې بشپړ کړ، دا درسي نصاب کولای شي، چې اړمنو هېوادوالو ته د غوره خدماتو وړاندې کولو په برخه کې د دې څانګې د زده کوونکو اړتياوې پوره کړي.

پرته له شکه د يوې ټولنې پرمختګ، وده او سوکالي د هغې د افرادو په غوره روغتيا پورې تړلې ده، د افرادو ساتنه او د روغتيا ښه والی هم پر خپل وار د روغتيايي خدماتو د وړاندې کوونکي سيستم، ښه مديريت، تنظيم او د دې خدمتونو په جريان کې د اصولو او بنسټيزو معيارونو پلي کولو ته اړتيا لري. په حقيقت کې داسې معياري روغتيايي خدمتونه، چې له دارو درملو څخه د معقولې استفادې ترڅنګ يې کيفيت، اغېز، خونديتوب، تدارک، وېش او کارونه له ټاکلو شرايطو او اصولو سره د ډاډ وړ وي، له پوهه او ماهرو مسؤلينو او کار کوونکو پرته ممکن نه دي، دې ته په پام، چې فارمسي د روغتيايي سستم يو عمده رکن دی او درمل د روغتيايي خدماتو وړاندې کوونکو سيستمونو اساسي عنصر جوړوي؛ نو ځکه د درمل ورکولو د خدماتو په لړ کې د کميت او کيفيت له پلوه د ماهرو او مسلکي کسانو شتون ډېر ارزښت لري. څرنګه چې په هېواد کې د فارمسي لپاره د لوړو زده کړو بنسټونه محدود دي او د هغو فارغين نه شي کولای، چې د بشري سرچينو له مخې د فارمسي په برخه کې د هېواد ټولو اړتياوو ته ځواب ووايي؛ له همدې کبله اړينه ده، چې د دې څانګې نيمه لوړې موسسې هم له پامه و نه غورځول شي. له نېکه مرغه د فارمسي په برخه کې مسلکي کسانو ته د هېواد اړتيا پوره کولو لپاره د خصوصي سکټور رول مخ پر پراخېدو دی ؛ مګر د دې فارغينو د زده کړو ډاډمن کيفيت ډېر ارزښت لري، چې بايد جدي پاملرنه ورته وشي.

په نړۍ او سيمه کې بدلونونو او پرمختګونو ته په پام سره پخواني نصاب د دې وړتيا نه درلوده، چې د ټولنې اوسنۍ اړتياوې پوره کړي؛ نولازمه ده، چې له بدلونونو سره يو ځای له روغتيا سره تړلې وسايل او کارکونکي هم نوي شي او نويو اړتياوو ته پام وشي، تر څو د خدماتو کيفيت وده وکړي او زموږ د روغتيايي سيستم مشتريان د خپلې غوره روغتيا هدف ته ورسيږي او له دې نظام څخه خوښي وښيي.

پورتنيو ځايونو ته په پام سره د پوهاند غضنفر د روغتيايي علومو انستيټوټ د يوه مناسب نوښت او پر ځای پرېکړې په نيولو سره لاس په کار شوی او د دې انستيټوټ د فارمسي څانګې نصاب يې د کابل پوهنتون د فارمسي پوهنځي له نصاب سره په همغږۍ نوی کړی او خپل مسؤليت يې ترسره کړی دی، چې د عامې روغتيا وزارت د ياد انستيټوټ مسؤلينو ته د دې بريا مبارکي وايي او د دوی لپاره د نورو برياوو هيله لري.

دا نصاب د يوې منظمې او معياري پروسې له مخې نوی شوی، چې په کې د اکاډميکو او اړوندو اجرايوي بنسټونو پوهو او نظر خاوندانو کسانو يوې کمېټې ونډه درلوده، يادې کمېټې هم خپل مسؤليت په ډېر ښه ډول سرته رسولی او د هېواد د خلکو په وړاندې يې خپل رسالت ادا کړی دی، چې د عامې روغتيا وزارت ورته د قدر په سترګه ګوري او د کمېټې له غړو او ټولو هغو اشخاصو څخه، چې په يو نه يو ډول يې په دې ملي پروسه کې ونډه درلوده؛ د زړه له تله مننه کوي.

همدا راز لازمه ده، چې د کابل پوهنتون د فارمسي له پوهنځي څخه د تخنيکي مرستو او فارمسي سيستمونو د پياوړتياله پروژې(SPS)څخه مننه وکړم، چې د روغتيا د مديريتعلومو د ادارې(MSH)او د امريکا د متحده اياالاتو د نړېوالې پرمختيايي کمېټې(USAID)له لوري پلی کيږي او نصاب د نوي کولو د پروسې له پيله تر پايه يې ګڼې مالي او تخنيکي مرستې کړيدي. درنښت

د عامې روغتيا وزير

ډاکټر فيروزالدين فيروز

## مننه او کورودانی

Download from: www.aghalibrary.com

د خدای تعالی(ج) شکر دی چې ما ته يې توفيق راکړ، تر څو د فارمسي مسلک د زده کوونکو لپاره د تعليمي موادو د برابرولو لوی مسؤوليت په بريا او لويو برياليتوبونو سره بشپړ کړم، زه د پوهاند غضنفر د روغتيايي علومو د انستيټوټ په استازيتوب خوښ يم، چې د دې انستيټوټ او نورو خصوصي انستيټونو ته د ۲۱کتابونو علمي کريکولم وړاندې کوم، دا کريکولم د هېواد د روغتيايي خدمتونو د درمليز پرمختګ په برخه کې يو لوی بدلون او مهم اسناد بلل کيږي. د فارمسي څانګې د نصاب نوي

د کاري ډلې غړي:

۱) پوهاند محمد نسیم صدیقي، د فارمسي پوهنځي رئیس

۲)ډاکټر کیمیا عزیزي، د پوهاند غضنفر د روغتیایي زده کړو انستیتوټ رئیسه

۳) ډاکټرمحمدظفر عمري، د MSH/SPS پروژې رئیس

۴) پوهنمل اقا محمد ژکفر، د فارمسي پوهنځي مرستیال

۵) ډاکټر سید عرب شاه عربشاهي، د افغانستان د خصوصي روغتیایي انستیټوټونو د ټولنې رئیس

۶) فارمسسټ عبدالخلیل خاکزاد، د ابن سینا د فارمسي انستیټوټ رئیس

۷) محمد داود معصومي، د پوهاند غضنفر د روغتیایي زده کړو انستیټوټ د فارمسي څانګې آمر

۸) احمد نجیب راشد، د MSH/SPS پروژې د کریکولم نوي کولو سلاکار

مرستندویه غړي:

۱) پوهنمل محمد شفیق مشال، د فارمسي پوهنځي استاد

۲) احمد جاوید احسان، دMSH/SPS پروژې د فارمسي خدمتونو مسؤول

۳) ډاکټر عبدالستار جبارزی، د پوهاند غضنفر د روغتیایي زده کړو انسټېټوټ علمي مرستیال

۴) ډاکټر صنیع الله زلمی، د کابل طبي پوهنتون استاد

۵) عبدالظاهر صدیقي، د MSH/SPS پروژې سلاکار

۶) فارمسسټ مریم فهیم، د پوهاند غضنفر د روغتیایي زده کړو انسټېټوټ استاده

۷) ډاکټر ذبیح الله مومند، د پوهاند غضنفر د روغتیایي زده کړو انسټېټوټ د زده کړیالانو عمومي مدیر

۸) ډاکټر ذبیح الله غوثي، د MSH/SPS پروژې د بشري منابع مشر

**د سر خبرې**

Download from: www.aghalibrary.com

خوښ یو چې دې درسي کتاب د کابل پوهنتون د محترمو استادانو، فارمسي پوهنځي او پوهاند غضنفر د روغتیایي علومو په زیار د چاپ وياړ تر لاسه کړ.

درسي مواد د یوه تحصیلي نصاب مهم رکن جوړوي، چې د هغو په مرسته علوم، مهارتونه او ذهني او سلوکي بدلونونه له تحصیلي پروګرام څخه ګټه اخیستونکو ته رسول کیږي، دا کتاب د پوهاند غضنفر د روغتیایي انستیټوټ له نوي کریکولم سره سم لیکل شوی او د کتاب لیکنې ټول مروج اصول پکې مراعات شوي، چې په دې سره به د کتابونو او درسي موادو د کمښت په برخه کې د فارمسي ځانګې ستونزې حل شي.

دا کتاب د هغه چا(مرستیال فارمسسټ، مسلکي څوارلسم پاس) له سویې سره سم لیکل شوی، تر څو ترې په سمه توګه ګټه پورته کړي او د دې لپاره تدوین شوی، چې په مرکز او ولایاتو کې د پوهاند غضنفر د روغتیایي علومو د فارمسي ځانګې او د روغتیایي علومو ټول خصوصي انستیټوونه یې تدریس کړي.

د پوهاند غضنفر د روغتیایي علومو د فارمسي ځانګې لپاره د کریکولم د نوي کولو کاري ګروپ د دې کتاب په لیکنه کې د درنو لیکوالو خواریو ته د قدر په سترګه ګوري او د هېواد د بچیانو د خدمت په لار کې ورته له لوی خدای(ج) څخه نور بریالیتوبونه غواړي.

درنښت

د فارمسي ډیپارټمنټ د نوي کریکولم کاري ډله

پوهاند غضنفر د روغتیایي علومو انستیټوټ

Download from: www.aghalibrary.com

# لیکړ

د عامي روغتیا د وزارت پیغام 4
تشکر او مننه ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.
د کاري ډلي غړي: ب
مرستندویه غړي: ERROR! BOOKMARK NOT DEFINED.
د سر خبرې ب
سریزه: ش
سریزه: 1
د اسلامي ثقافت تعریف: 1
لومړی څیرکی 1
مطالب 1
په اصطلاح کې اسلامي ثقافت 2
د اسلامي ثقافت موخې: 2
۲- د اسلامي شخصیت بنسټ: 2
۳-له اسلامي معتقداتو څخه دفاع: 2
۴- له نااسلامي فرهنګونو سره مقابله: 2
د اسلامي ثقافت اهمیت: 3

Download from: www.aghalibrary.com

لومړی ځواب 3
۱) فرض کفايي: 3
۲) فرض عین: 3
څلورم ځواب: 4
ژوندی وجدان: 4
عالي شخصیت: 4
د لومړي څپرکي پوښتنې: 5
مقدمه: 6
د اسلام تعریف 6
لومړی تعریف: 6
دوهم تعریف: 7
دویم څپرکی 6
ایمان او اسلام 6
د څپرکي ښوونيزی موخې: 6
دریيم تعریف: 8
څلورم تعریف: 8
پنځم تعریف: 8
شپږم تعریف: 11
د اسلام نور تعریفونه 12
اختلاف تناقض نه دی 12
د متعددو تعریفونو د ارائه کولو موخه 12
غوره شوی تعریف 13
د اسلام ارکان 13
ایمان: د ایمان تعریف 14
د ایمان ډولونه: 15
۱) مجمل ایمان: 15

Download from: www.aghalibrary.com

۲) مفصل ایمان: 15
له تحریف څخه وړاندې د آسماني ادیانو عقیدوي یووالی 15
د آیت مضمون: 16
د آیت مضمون: 17
د ایمان ارکان 17
د مؤمن په دولونه 18
د ایمان او اسلام تر منځ مناسبت 18
د انساني ټولنې په برخه کې د ایمان ونډه 20
د کورنیو او ټولنیزو اړیکو په برخه کې د ایمان ونډه 20
د مور په اړه 20
د مېرمنې په برخه کې: 22
د لور او خور په اړه: 22
د ټولو خپلوانو ګاونډیانو او ټولو خلکو په اړه 23
کونډو مېرمنو، یتیمانو، فقیرانو او مسکینانو ته پاملرنه 23
د ښوونځي، مدرسي او پوهنتون په برخه کې 24
د ښوونځي، پوهنتون او تحصیلي مؤسسي په دننه کې 26
د قانون او دولت په برخه کې 26
په نړۍ کې ولې امنیت نشته؟ 27
د دې لپاره چې په نړۍ کې هم عدالت نشته، د بشریت تر ټولو خطرناک دښمن چې د اسرائیلو صهیونیستی نظام دی، او ټل دولتي تروریزم تطبیقوي د سترو ځواکو دولتونو له خوا یې ملاتړ کېږي، دغه تروریستي هېواد حق لري چې اټومي وسلې جوړې کړي، ولې دېر نور هېوادونه حق نلري چې حتی له اټومي انرژۍ څخه د هغې په سوله ایز دول هم ګټه واخلي. 27
د دویم څپرکي پوښتنې: 27
الف: تشریحي پوښتنې: 27
مقدمه: 28
د اسلامي نړۍ لید تعریف: 28
د اسلامي نړۍ لید غوره توب: 29
دریېم څپرکی 28

Download from: www.aghalibrary.com

## اسلامی نړۍ لید 28

په اسلامي نړۍ لید کې فکري خط 29

## د اسلامی نړۍ لید موضوعات 30

د دریيم څپرکی پوښتني: 31

الف: تشریحی پوښتني: 31

## څلورم څپرکی 32

## خدای پیژندنه 32

د خالق په شتون باندې د عقل شهادت 33

توحید 34

د توحید ډولونه 34

د ربوبیت توحید 34

په الوهیت کې توحید: 34

د الوهیت توحید د ډولونو شرح 35

د اسماء او صفاتو توحید 36

تحریف: 36

١.لفظي تحریف: 36

٣.تحریف معنوي: 36

تعطیل: 36

تکییف: 36

د اسماء او صفاتو د توحید غوښتنه 37

لومړی اصل: 37

دویم اصل: 37

دریيم اصل: 37

په توحید کې د گمراهی لامل: 37

Download from: www.aghalibrary.com

**په اسلام کې د توحید اهمیت او مقام 38**
**د توحید عناصر 38**
لومړی عنصر: 38
دوهم عنصر: 38
دریم عنصر: 38
**په ژوند کې د توحید ارزښتناکي نښې 39**
**١- توحید د انسان د آزادي لامل 39**
**٢- توحید د متعادل شخصیت د رامنځته کولو لامل 39**
**توحید د برابری او وروری بنسټ 39**
**شرک: 40**
**د شرک ډولونه 40**
اکبر شرک 40
**د اکبر شرک کفاره: 40**
اصغر شرک: 40
د اصغر شرک کفاره: 40
د خفیه شرک کفاره: 41
**د شرک دخفیه (پټوالي) لامل 41**
**اسلام د شرک لارې بندوي: 41**
**افراط اوزیادروي 41**
**د نیکانو اوپارسایانو په اړه غلو 41**
**د قبرونو تعظیم 42**
**د قبر مسجد ګرځول 42**
**د قبر په لوري لمونځ 42**
**د قبرونو لوړول 42**
**د قبرونو اختر او جشن نیول 42**
**د شرک مفسدات او زیانونه 43**
**شرک د انسان د تحقیر لامل 43**
**شرک د خرافاتو لامل او خاله ده 43**
**شرک د وېرو سرچینه ده 43**
**شرک ستر ظلم دی 43**
**د ځلورم څپرکي پوښتني 44**

Download from: www.aghalibrary.com

الف: تشریحي پوښتني: 44
سریزه: 45

## پنځم څپرکی 45

## د کرامت، شفاعت او توسل د کلماتو تعریف 45

ورځني خواړه يې د عبادت په محراب کې: 46
د حضرت بي بي عايشي صديقي رضی الله عنها كرامت 47
۲- شفاعت 48
د شفاعت تعريف 48
د شفاعت ډولونه 48
د شفاعت شرطونه 48
لومړی: 48
دويم: 49
دریم: 49
د دريیم شرط په اړه: 49
توسل 49
تعريف: 49
د توسل ډولونه 50
مشروع او نامشروع توسل 50
د ژوندي صالح شخص د دعا په وسيله توسل 51
نامشروع توسل 51
د پنځم څپرکي پوښتني 52
الف: تشریحي پوښتني 52
مقدمه: 53

## شپږم څپرکی 53

## په اسلامی نړۍ لید کی انسان پيژندنه 53

Download from: www.aghalibrary.com

په قرآن کريم کې د انسان شخصت 54
په اوسني وخت کې د انسان ستونزه 56
۱-د وسيله جوړوني برخه: 56
نو ستونزه په کوم ځای کې ده؟ 57
په اسلامي نړۍ ليد کې انسان جوړونه 58
د شپږم څپرکي پوښتني 61
الف: تشريحي پوښتني: 61
سريزه: 62

## اوم څپرکی 62

## طبيعت پيژندنه 62

طبيعت ته يوه نظر: 63
د اسلام له ليدلوري څخه له نړۍ سره اړيکه 63
دنيا د وسيلي په حيث 64
۲- دنيا د هدف په توګه: 64
د طبيعت پيدايښت او د هغه اجزاوې 66
د اووم څپرکي پوښتني 66
الف: تشريحي پوښتني: 66
سريزه: 68
لمونځ په لغت او اصطلاح کې 68

## اتم څپرکی 67

## سلام په مقدس دين کې دعباداتو فلسفه 67

صلاة(لمونځ) په قرآني اصطلاح کې 68
د مؤمنانو لمونځونو فلسفې 69
۳- له پروردګار (ج)سره د عهد او پيمان نوی کول: 71

Download from: www.aghalibrary.com

**۷- د متحرک (ګرځنده) قرآن فلسفه او له لمونځ سره يې اړيکه:** **73**
**۱۰- لمونځ د پر وردګار(ج)د شکرګذارۍ نمونه:** **74**
۱۶ – لمونځ د دين ستن ده: 75
**۳۱- سجده د بنده ګۍ د کمال نښه:** **81**
**د حضرت محمد (ص) د لمونځونو خصوصيت او ځانګړتيا** **83**
۳) د لمانځه د ارکانو ادا کول: 84
**د ځينو صحابه وو او د خداى د دوستانو لمونځ** **87**
**په بيړې سره د لمونځ کولو حکم** **88**
**د مرګ پر مهال درې سزاوې** **89**
**له مرګ نه وروسته درې سزاوې:** **89**
**د قيامت په ورځ درې سزاوې** **89**
**د روژې حکمت او فلسفه** **89**
**رمضان د اسلامي شريعت په لغت او اصطلاح کې** **90**
**د فرد او ټولنې په جوړښت کې د روژې ونډه** **91**
**۳- د نفس روزنه او داړه نفس ته يې لوړول:** **93**
**حکمت او فلسفه** **94**
دزکات ونډه: 95
۱-د فرد په جوړښت کې: 95
۲- د انساني ټولنې په جوړښت کې د زکات ونډه: 95
**الف: په ټولنيزه برخه کې:** **96**
ب: په سيا سي برخه کې: 96
ج: په اقتصادي برخه کې: 97
**د عمر بن عبد العزيز خلافت اقتصادي الګو (نمونه)** **97**
د: په کولتوري برخه کې: 97
**د زکات فلسفې** **97**
**زکات د مؤمنانو د ژغورنې يوه علامه:** **99**
**د حج فلسفه او حکمت** **100**
**د حج ونډه:** **100**
۲- د ټولنې په جوړښت کې د حج ونډه: 101
ب: د حج سياسي ونډه 102
ج: د حج اقتصادي ونډه: 103

Download from: www.aghalibrary.com

د: د حج کولتوري ونډه: 103
**د حج فلسفه: 104**
د حج اخلاقي فلسفه: 104
**د ملتونو د اتحاد د نړۍ اعلامیې فلسفه: 110**
**د زمزم فلسفه: 111**
**د حج فلسفه 112**
**د اتم څپرکي پوښتني 113**
**الف: تشریحي پوښتني: 113**
**مأخذونه او مراجع: 114**

Download from: www.aghalibrary.com

## سريزه:

له الله (ج) څخه مننندوی يم چې خپل دغه کمزوري بنده ته يې توان وروباخښه تر څو د اسلامي ثقافت کتاب چې زموږ د ګران اسلامي هېواد افغانستان د ځوانانو لپاره يو له ډېرو مهمو او بنسټيزو مضامينو څخه دی، چاپ کړم. نوموړی مضمون چې د پوهنتونونو او دولتي او خصوصي انسټيټيوټونو په بېلا بېلو ټولو پوهنځيو کي تدريسيږي؛ اکثراً د کتابونو او چپټرونو په شکل وي؛ مګر په دې برخه کې د لا ډېر خدمت په موخه مي دا اړينه وګڼله چي کتاب ورڅخه ترتيب او تنظيم کړم، تر څو په دې هېواد کې زده کړيالان له ستونزو سره مخ نشي او د نوموړي کتاب موضوعات او مطالب چې په لاس کې مو دي؛ له اصلي مصادرو او سرچينو څخه را اخيستل شوي او له کوم بدلون او زياتوني نه پرته په کتاب کې ځای شوي او همدارنګه د کتاب په پای کې مې سرچيني او مأخذونه را نقل کړي، چې د اړتيا په وخت کې زده کړيالان او نور د کتاب لوستونکي او ګټه اخيستونکي اصلي مرجع ته مراجعه وکړای شي.

په پای کې له ټولو لوستونکو، زده کړيالانو او استادانو څخه په درنښت هيله من يم، چې دی کتاب کی له تېروتنو او چاپي تېروتنو سره د مخامخ کېدو په صورت کې بنده ته خبر ورکړي، تر څو په بل چاپ کي سمونه پکي وشي.

**درناوی**

**قاضي احمد ګل احمدي**

Download from: www.aghalibrary.com

Download from: www.aghalibrary.com

# لومړی څپرکی

## مطالب

### د لومړي څپرکي ښوونيزې موخې:

- د اسلامي ثقافت په هکله پوهاوی تر لاسه کول.
- اسلامي ثقافت مضمون څخه د اړتیا په هکله پوهاوی تر لاسه کول.
- له عصري زده کړو سره د اسلامي ثقافت د تړاو په هکله پوهاوی ترلاسه کول.

### سریزه:

په دې څپرکي کې د تعریف، موضوع، موخو او د ثقافت د مضمون د موخو په اړه په لنډ ډول بحث کېږي او همدارنګه د دیني او عصري زده کړو د تړاو، د اسلام له لیدلوري د دیني او عصري زده کړو د یادولو د حکم په هکله به لنډ بحث وشي.

### د اسلامي ثقافت تعریف:

**ثقافت په لغت کې:** د ثقافت کلمه له عربي کلمې ثقف څخه اخیستل شوې چې په بېلو معناوو لکه: مهارت پیدا کول، اخیستل، بریالیتوب، تهذیب، د کوږ شي سمولو په معنا راغلې ده.

د محیط المحیط مؤلف وایي: ثقافت له علمي او عملي اړخه د یو شي په پوهېدلو کې د مهارت په معنا دی. (فی ادراک الشی علماً و عملاً) محیط المحیط المعلم بطرس البستانی بیروت کتبهٔ لبنان ۱۹۸۷ م ص ۸۲ اصل الثقافة فی اللغة مأخوذ من الفعل ثقف، بضم القاف وکسر هأ و له عدهٔ معان منها أالادراک و أالاخذ والظفر قال تعالی (...وَ اقْتُلُو هُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْ هُمْ) النساء ۹۱.اخذق والفطة والفهم یقال: دجل ثقف وثقف ای اصبح حذقاً وفهما وفطنا التهذیب والتأدیب یقول: ثقف المعلم الطالب. ای هذبه و علمه و ادبه تقویم المعوج،یقال ثقفه تمثیفا، ای سواه وقومه بعد اموجاج لسان القرب تألیف محمد بن منظوره قاهره دارالحدیث ط ۱۴۲۳ ـ ۱۰۲۰۳/ ۶۸۴ ـ ۶۸۵ و مختار الصحاح تألیف محمد بن ابی بکر الرازی، قاهره دارالحدیث ط اول ۱۴۲۱ ـ ۲۰۰ط ۵۸ ـ ۵۹

Download from: www.aghalibrary.com

ثقافت په دري ژبه کې په ځینو ځایونو کې د فرهنګ د کلمې معادله، په (فرانسوي ژبه کې) د کلتور او په انګلیسي ژبه کې د کلچرculture د معادلې کلمې په توګه کارول شوې ده؛ ولې د فرهنګ کلمه نشي کولای چې د ثقافت د کلمې لپاره دقیقه ژباړه واوسي.

**په اصطلاح کې اسلامي ثقافت**: اسلامي پوهانو د اسلامي ثقافت په هکله ډېر تعریفونه بیان کړي دي چې د ټولو خلاصه په لاندې تعریف کې تر مطالعې لاندې نیول کېدای شي: اسلامي ثقافت د اسلام له عقیدوي، عملي، اخلاقي، سیاسي، ټولنیز او اقتصادي پېژندګلوی څخه عبارت دی چې په غېرتخصصي توګه یې پېژندل په هر مسلمان باندې فرض عین دی.

## د اسلامي ثقافت موخې:

د اسلامي ثقافت موخې په لاندې شکل سره خلاصه کېږي:

۱- د اسلامي ثقافت له دندو څخه یوه د سمې اسلامي عقیدې ځای پر ځای کول دي، چې د الله(ج) وحدانیت یې اساس او بنسټ جوړوي، مؤمن ځوان باید په اکاډمیک شکل الله (ج) د هغه له ټولو صفاتو سره وپېژني.

د اسلام مقدس دین ټل د انسانانو د پوهولو لپاره هڅه او هاند کړې دی او د عقل د څښتنانو لپاره یې حقیقتونه بیان کړي دي او له دروغجنو امورو، خرافاتو، کیسو جوړولوو، د فکري جمود اوهام او نورو د انساني عقل پر خلاف چارو څخه یې پرهېز کړي؛ بناءً هر هغه څه چې د انسان عقل درغل او لار ورکی کړي؛ منع او حرام ګرځول شوي دي.

**۲- د اسلامي شخصیت بنسټ:** اسلامي ثقافت د انسان جوړوني لپاره ښوونځی دی او دا چې پوهنتون د انسان جوړوني فابریکه ده، د هغه اساسي زړه اسلامي ثقافت جوړوي. له دې امله په مسلمان ځوان باندې لازم دي چې د اسلام ټولې روحي، رواني، بدني، عقلي او فرهنګي برخې وپېژني او په عالي اسلامي شخصیت او په ننني ټولنه کې ژوند وکړي.

**۳-له اسلامي معتقداتو څخه دفاع:** اسلامي ثقافت په اکاډمیک ډول له اسلامي معتقداتو څخه د دفاع او د اسلامي فکر د رېښه وال کېدو سنګر دی، یوه ځوانان د اسلامي ثقافت په پېژندلو سره پوهېږي چې هغوئ وړاندې له دې چې انجینیر، ډاکټر، ژورنالیست، فارمسسټ، وټرینر، کرنپوه، میخانیک، ټولنپوه، حقوقپوه او هنرمند وي؛ هغه یو مسلمان دی او باید خپل ټول ژوند د قرآني لارښوونو تر سیوري لاندې تېر کړي او ټل د خرافاتو او هغو داغونو پر وړاندې مبارزه وکړي، چې په اسلام پورې نښلول کېږي اګر که د اسلام د دښمنانو او یا هم ناپوهو دوستانو له خوا وي.

**۴- له غېراسلامي فرهنګونو سره مقابله:** په ننني نړۍ کې ډېر مبتذل فرهنګونه او یا هم خرافاتي فرهنګونه شتون لري چې هر یو یې په خپل وار سره د خپلو ارزښتونو د خپراوي لپاره ځوانان بې لارېتوب ته راکاږي. اسلامي ثقافت له هر هغه فرهنګ سره چې له اسلامي اساساتو سره په ټکر کې وي؛ مقابله کوي او د هغوئ په دلیل او برهان سره د مسلمانو ځوانانو له ژوند څخه بهر کوي؛ هم مقابله کوي.

دا چې اسلام روښانه او څرګنده دی؛ نو ځکه یې له تشریح څخه ډډه وشوه.

Download from: www.aghalibrary.com

**د اسلامي ثقافت اهمیت:** ولې اسلامي ثقافت لولو او اهمیت یې په کومو ټکو کې نغښتی دی؟

**لومړی ځواب:** موږ اسلامي ثقافت ځکه لولو چې د اسلام په سپیڅلي دین کې د دین په اړتیاوو پوهېدل فرض عین دي.

د اسلام سپېڅلی دین د علم او پوهې پر بنسټ استوار دی او علم یې پر هر نارینه او ښځینه مسلمان فرض کړی دی، مگر په دې لاره کې باید وپوهېږو چې په شریعت کې د علم زده کړه په دوه برخو وېشل شوې ده:

**۱) فرض کفایي:** ټول هغه علوم چې د بشریت په گټه دي او د اسلامي ټولنې لپاره په گټه تمام او له هغو نه پرته د انسان ژوند له ستونزو سره مخ کېږي، د اسلام د مقدس دین له لیدلوري فرض کفایي دي؛ یعنې اړینه ده چې د دې زده کړو د زده کولو او ورزده کولو لپاره تعلیمي او تحصیلي مرکزونه شتون ولري او د کادرونو د روزنې لپاره تلاش وکړي. هرکله که یو شمېر کسانو په دې علومو کې د تخصص لپاره ځانونه کاندید کړل او خلکو هم ورسره همکاري وکړه، په هغوئ باندې هغه علم فرض کفایي کېږي او د نورو له ذمې څخه ساقط کېږي او په هغه صورت کې چې هېڅوک په دې برخه کې هڅه او کوښښ و نه کړي؛ ټول گناهگار کېږي. مگر هر کله چې د دغو تخصصونو لپاره کسان وټاکل شول، چې هم یې زده کړي او هم په هېواد کې عملاً کار وکړي، دا زده کړې په هغوئ باندې فرض عین شوې او د نورو له ذمې څخه ساقطېږي.

**۲) فرض عین:** اړینه ده چې هر مسلمان د عقیدې او بېلابېلو اسلامي نظامونو مثلاً عبادتي، ټولنیز، سیاسي، اقتصادي، اخلاقي او نورو په هکله معلومات ولري او د دین په اړتیاؤو باندې به هغه اندازه پوهېدل، چې انسان وکولی شي خپل ۲۴ ساعته ژوند ورسره عیار کړي، په هر مسلمان باندې فرض عین دی. البته د دقیقو اسلامي زده کړو تخصصونه د شرعیاتو د پوهنځیو اړوند دي؛ ولې په هغه اساس په اسلامي احکامو باندې پوهېدل، چې وړاندې مو وویل پر هر مسلمان باندې فرض عین دي. لنډه دا چې زموږ موخه داده چې اسلامي ثقافت د یو اساسي مضمون په توگه د خپل اسلامي هېواد په دولتي او خصوصي پوهنتونونو کې چې خلک یې مسلمانان دي، غواړو.

**دویم ځواب:** موږ اسلامي ثقافت د دې لپاره لولو چې یو هدفمند ژوند ولرو.

**هدفمندي:** تاسې دوه ځوانان فکر کې راولئ چې یو یې د د دنیوي او اخروي ژوند لپاره هڅه او هاند کوي او خپل ۲۴ ساعته منظم مهالوېش لري، سهار وختي له خوبه پاڅي، د لمونځ له ادا کولو او د قرآن کریم د څو پاڼو له تلاوت نه وروسته د خپلو درسونو په لوستلو پیل کوي، وروسته د سهار له خوا له خپل کور نه وځي، مستقیماً پوهنتون ته راځي او ښايي چې په ځینو وختونو کې خپل شخصي موټر هم و نلري، د ښاري بسونو په واسطه او کله هم په بایسکل او نورو وسیلو په هر شکل، چې وي؛ خپل ځان خپلو درسونو ته رسوي او د درس له پای ته رسېدو نه وروسته بیا خپل کور ته ځي، د ډوډۍ له خوړلو او د ماسپښین د لمانځه له ادا کولو وروسته بیا د خپل منظم مهالوېش په پلي کې هڅه کوي، دغه هدفمند انسان د خپل ژوند لپاره له ۴ نه تر ۵ کالو پلان لري، زیار باسي شپه او ورځ په لوستلو او لیکلو بوخت دی؛ ځکه چې هغه هدفمند دی او د خپل

Download from: www.aghalibrary.com

(۴) کاله وروسته ژوند لپاره فکر کوي او د برى ليک له اخيستلو نه وروسته نورمال ژوند لري، هم ځان او ټولنې ته خدمت کوي.

په همدې مقابل کې هغه بل ځوان، چې په ژوند کې کومه ځانګړې موخه نلري، هغه سهار له کوره وځي دېخوا ها خوا سرګردانه ګرځي او ټوله ورځ سرګردانه تېروي او بلاخره د خپل ژوند ښايسته کلونه د سينماوو، تم ځايونو او تفريح ځايونو پر وړاندې تېروي او په پايله کې پر ټولنې باندې بار ګرځي، هغه ورځ چې هغه لومړى ځوان د ژوند عالم مقام ته رسېږي؛ دغه کس د ژوند له بدمرغيو نه ګيله من او په شکايت کې دى.

هغه انسان چې هدفمند نه وي؛ مجبور وي چې په نورو پسې لاړ شي، د هغه موټر په څېر به کوچنى ژوند ولري، چې ماشين يې خراب دى او بايد په بل موټر پسې وتړل شي، بې هدفه انسان منتظر دى چې نور ورته پروګرام جوړ کړي، هېواد يې نور ورته آباد کړي، دفاع يې د نورو پر غاړه وي او پخپله بوازې په ژوند ښه تېرولو کې بوخت وي.

يوازنى شى چې انسان هدفمن جوړوي؛ د اسلام مقدس دين دى، ايمان دى، له رب العالمين سره اړيکه ده. ايمان ؤ چې هغه عربان، چې کلونه شپانه ول؛ د نړۍ رهبران يې کړل او همدغه ايمان او د ايمان ځواک و، چې تواضع يې د هغوئ په زړونو کې په داسې حال کې چې د قدرت په اوج کې ول؛ ځاى پر ځاى کړي، چې د هغوئ موخه خپل ځان ته خدمت نه؛ بلکې بشريت ته خدمت و.

**درېيم ځواب:** موږ اسلامي ثقافت د دې لپاره لولو چې د روښانه فکري خط څښتنان و اوسو.

هرکله چې انسان هدف ولري مګر ټاکلى فکري خط و نلري چې د هغه خط مطابق حرکت وکړي، بيا تېروتنه کوي.

الله (ج) دغه فکري خط د هر مؤمن مسلمان لپاره په عظيم الشان قرآن کې ترسيموي.

او رسول الله صلى الله عليه وسلم يې د الګو په توګه معرفي کوي.

مؤمن انسان د هغه انجينير په څېر دى چې د هغې نقشې مطابق چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته بيان کړې ده؛ عمل کوي، هغه پوهېږي چې په دې نقشه کې بدلون که څه هم زياتوالى او يا نقصان وي د نومورې د بدبختى لامل ګرځي، بناءً فکري خط يې مشخص دى او د هغې مطابق د خپلې موخې پر لور په حرکت کې دى.

**څلورم ځواب:** موږ ثقافت د دې لپاره لولو چې له وجدان سره ژوند وکړو.

**ژوندى وجدان:** ضمير او احساس د ارواپوهنې له ليدلورې هماغه رواني او نفساني شعور ته وايي چې د انسان په بنياد کې پيدا کېږي او د انسان کردار او اعمال کنټرولوي. هغه انسان چې د ژوندي وجدان لرونکى دى؛ پوليس او بهرني څارونکي ته اړتيا نلري او (ايمان د پوليس حيثيت لري چې په هر حال کې د نومورې څارنه کوي).

**پنځم ځواب:** موږ ددې لپاره اسلامي ثقافت لولو چې له عالي شخصيت سره ژوند وکړو.

**عالي شخصيت:** د اسلام خوږ رسول(ص) د خپل ژوند په دوران کې پوهنتون رامنځته کړ، چې ټولو نارينه او ښځينه، نجونو او هلکانو زده کوونکو يې له عالي شخصيتونو سره ژوند کاوه. هغه (۱۳) کاله د شخصيت جوړونې درس ورکړ تر دې چې اسلامي نظام يې جوړ کړ. هغه مهال چې د مدينې منورې لپاره يې سفير

Download from: www.aghalibrary.com

ټاکه، داسي يو ځوان يي وټاکه، چي عمر يي شل (۲۰) کاله ؤ (مصعب بن عمير په اسلام کي لومړنی سفير ؤ) ټول پوهېدل، چي دغه ځوان سره له دې چي عمر يي کم دی؛ ولي شخصيت يي د هغو اصحابو له شخصيت څخه چي لوړ عمر يي درلود؛ کم نه دی. هغه مهال چي په روم کي يي د اسلامي ځواکونو د رهبری لپاره قومندان ټاکه، ۱۸ کلن ځوان (اسامه بن زيد د روميانو پر وړاندې د اسلام سپه سالار) ؤ، امير المؤمنين علي بن ابي طالب(رض) پوه او زړه ور شخصيت، عبدالله بن عباس (رض) د اسلامي نړی مفسر او استاد و.

د اسلام خوږ رسول(ص) داسي ځوانان روزلي وو، چي هر يو يي کولای شول چي نړۍ رهبري کړي، ښځي لکه (بي بي سميه(رض)) چي د اسلام لومړنی شهيده وه، بي بي نصيبه(رض) چي د بدر په غذا کي د رسول(ص) مدافع وه، ام المؤمنين سلمة (رض)چي د بدر په غذا کي د رسول الله(ص) مشاوره وه، ام المؤمنين (عايشه صديقه (رض) چي د اصحابو کرامو استاده تر ټولو لويه حديث پيژندونکي او د احاديثو راوي وه او ټولي نجوني او ښځي چي د هري يوې نوم يي په زرينو کرښو سره خوندی کړی دی.

## د لومړي څپرکي پوښتني:

۱-اسلامي ثقافت تعريف کړئ؟

۲-د اسلامي ثقافت موخي په لنډ ډول وليکئ؟

۳-د عصري علومو زده کړه د اسلام له ليدلوری څه حکم لري؟

۴-د فرض عين او فرض کفايي تر منځ توپير څه دی، څرګند يي کړئ؟

Download from: www.aghalibrary.com

## دوهم څپرکی

## ایمان او اسلام

**د څپرکي ښوونیزې موخې:**

- د ایمان او اسلام په اړه د پوهې لاسته روړل.
- د اسلام او ایمان د مفهوم په اړه د پوهې لاسته راوړل.
- د ایمان او اسلام تر منځ د توپیر په اړه د پوهې لاسته راوړل.

**مقدمه:** هغه موضوعات چي په دې څپرکي کې تدریسیږي؛ د ایمان او اسلام تعریف، د ایمان او اسلام رکنونه، د هغوئ ترمنځ مناسبت، مؤمن بهِ شیان، مفصل ایمان او مجمل ایمان او همدارنګه د ایمان د رکنونو په اړه به د علماوو نظریات او توضیحات ورکړل شي.

**د اسلام تعریف:**

کولای شو چي اسلام په لاندي تعریفونو سره معرفي کړو:

**لومړی تعریف:** د جبریل علیه السلام په حدیث کې چي د دښتي د اوسېدونکي په شکل کې راغی او له رسول الله (ص)نه یي پوښتني وکړې، چي حاضرین یي واوري او خپل دیني مسائل زده کړي؛ داسي راغلي دي:

«الاِسلام أَنْ تَشْهَدَ لَا اِلَهَ اَ للهُ وَ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَ تُقِيْمُ الصَّلَاةَ وَ تُؤْ تِيْ الزَّكَا ةَ وَتَصُومَ رَمَضَانَ و تَحُجَّ البَيْتَ اِن استَطَعْتَ اِلَيْهِ سَبِيْلاَ»( صحیح مسلم، کتاب الایمان)

Download from: www.aghalibrary.com

« اسلام دادی چي شاهدي ورکړې چي له یو الله نه پرته هېڅ په حقه معبود نشته او محمد صلی الله علیه وسلم د هغه را لیږل شوی دی، لمونځ ادا کړې او زکاة ورکړې او د روژې د مبارکي میاشتي روژې ونیسي او د توان په صورت کي د بیت الله حج وکړې.»

نو اسلام له یو ډول عقیدې او چارو څخه عبارت دی چي په حدیث کي ځای پرځای شوي دي او شرح به يې وروسته راشي.

**دوهم تعریف:** اسلام له خضوع، تسلیم کېدلو او د الله (ج) د حکمونو منل چي د عالمیانو پروردګار دی، په دې معنی چي د تسلیمی شرط اختیاري وي او جبري نه وي، ځکه چي د نړۍ د پروردګار په وړاندې جبري خضوع او تسلیمي چي د کایناتو له سنتونو او تابعدارۍ څخه عبارت دی، یو عام امر دی او ټولو مخلوقاتو ته ور داخلیږي او دا ډول خضوع ا و تسلیمي هېڅ ډول ثواب او عذاب نلري.

«أَفَغَيْرَ دِينِ اللهِ يَبْغُوْنَ وَ لَهُ أَسْلَمَ مَنْ فِى السَّمَاوَاتِ وَ الاَرْضِ طَوْعًا وَ كَرْهًا وَ اِلَيْهِ يُرْجَعُوْنَ» (آل عمران/۸۳)

«آیا پرته د الله (ج) له دین څخه بل دین غواړئ؛ په داسي حال کي چي ټول هغه څه چي په ځمکي او آسمانونو کي دي؛ په خوښه او یا جبر سره د الله (ج) مننونکي او تابع دي».

نو ټول مخلوقات الهي قوانینو ته تابع دي او د خپل ځان په وجود، بقاء او فناء کي د الله (ج) سنتو ته خاضع دي او انسان هم په طبعیت کي اجباراً د ټولو مخلوقاتو په څېر دی؛ اما د الله (ج) په وړاندې اختیاري خضوع ده، چي د اسلام جوهر جوړوي او انسان په هغي باندې مکلف دی او ثواب او عذابورپسي شتون لري او مظهر يې په پوره رضایت او له قید او شرط نه پرته د اسلامي شریعت بشپړ منل دي.

نو په دې معنی اسلام د الله (ج) خوښ کړی دین دی، چي خپلو خوږو پیغمبرانو ته يې وحي کړې او د الله (ج) پیغمبرانو هغه خلکو ته رسولی دی.

« إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلامُ وَ مَا اخْتَلَفَ الَّذينَ أُوتُوا الْكِتابَ إِلاَّ مِنْ بَعْدِ ما جاءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْياً بَيْنَهُمْ وَ مَنْ يَكْفُرْ بِآياتِ اللَّهِ فَإِنَّ اللَّهَ سَريعُ الْحِسابِ » (آل عمران/۱۹)

«په تحقیق سره چي الله (ج) ته خوښ دین اسلام دی او کومو خلکو ته چي کتاب ورکړل شوی اختلاف يې و نه کړ؛ مګر وروسته له هغه نه چي پوه شول؛ د هغې کینې له مخي يې اختلاف وکړ چي د دوئ تر منځ وه او هر څوک، چي د الله (ج) په آیتونو باندې کافر شي، نو الله (ج) ور څخه ډېر ژر حساب اخیستونکی دی».

«وَوَصَّيٰ بِهَا إِبْرَاهِيمُ بَنِيهِ وَ يَعْقُوبُ يَا بَنِيَّ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَيٰ لَكُمُ الدِّينَ فَلاَ تَمُوتُنَّ إِلاِّ وَ أَنْتُم مُسْلِمُونَ * أَمْ كُنْتُمْ شُهَدَاءَ إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ الْمَوْتُ إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعْبُدُونَ مِن بَعْدِى قَالُوا نَعْبُدُ إِلهَكَ وَ إِلهَ آبائِكَ إِبْرَاهِيمَ وَ إِسْمَاعِيلَ وَ إِسْحَاقَ إِلهاً وَاحِداً وَ نَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ*» (البقرة/۱۳۲/۱۳۳)

«او ابراهیم (ع) خپلو زامنو او یعقوب (ع) ته د دې کلمي وصیت وکړ، چي ای زما زامنو! په تحقیق سره چي الله (ج) تاسي ته دین غوره کړ؛ نو هېڅکله مه مړه کېږئ؛ مګر په داسي حال کي، چي تاسي مسلمانان و اوسئ؛ آیا تاسي هغه مهال چي یعقوب (ع) ته مرګ راغی؛ حاضر وئ، کله چي يې خپلو زامنو ته وویل چي: له مانه وروسته به د چا بنده ګي کوئ، زامنو يې وویل چي: د هغه واحد خدای (ج) بنده ګي به کوو، چي ستا او ستا د پلرونو ابراهیم (ع) او اسماعیل (ع) او اسحاق (ع) رب دی او موږ به ورته منقاد یو».

Download from: www.aghalibrary.com

وروسته له هغه نه د اسلام «کلمه» په ځانګړي ډول هغه دین ته اطلاق کېږي چې محمد صلی الله علیه وسلم د خپل پروردګار له لوري راوړی او هغه له بشپړ او له قید او شرط نه پرته انقیاد څخه عبارت دی او همدغه انقیاد دی چې د الله (ج) په وړاندې د انسان اختیاري خضوع څرګندېږي او لکه څنګه مو چې وویل همدغه انقیاد د اسلام اصل او جوهر جوړوي. اسلام په همدې معنا سره په آیت شریف کې هم کارول شوی دی:

« اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَ اَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَ رَضِيْتُ لَكُمُ الاِسْلَامَ دِيناً»

« نن مو ستاسي لپاره ستاسي دین بشپړ کړ او په تاسي مي خپل نعمت تمام کړ او اسلام مي تاسي ته د دین په حیث غوره کړ.»

پردې بناء د اسلام تعریف د دې کلمې په ځانګړي معنی سره چې د ذکر په وخت کې مطلقاً ورڅخه مطلب دی؛ داسي دی چې « اسلام د کائناتو د رب په وړاندې له اختیاري خضوع او تسلیمی څخه عبارت دی او مظهر یې هماغه انقیاد او له هغه شریعت څخه پیروي ده چې الله (ج) خپل رسول محمد صلی الله علیه وسلم ته وحي کړې او هغه ته یې امر کړی چې خلکو ته یې ورسوي.»

**درېیم تعریف:** اسلام له هغه عام نظام او بشپړ او شامل قانون څخه عبارت دی چې ټول ژوند او د انسان د سلوکي کړنو برنامې پکې شاملې دي او محمد صلی الله علیه وسلم د خپل پروردګار له لوري راوړی او خلکو ته یې په تبلیغ کولو سره مامور و او د هغه په پیروی او مخالفت سره ثواب او عذاب مرتب کېږي، الله (ج) فرمایي:

«وَ مَنْ يَتَّبِعَ غَيْرَالْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَن يُّقْبَلَ مِنْهُ وَ هُوَ فِي الآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِيْنَ» (آل عمران/۸۵)

«او څوک چې له اسلام نه پرته بل دین غواړي؛ هېڅکله هم ورڅخه نه منل کېږي او هغه په آخرت کې له زیانمنو څخه دی.»

نو په دې آیة شریف کې، دین د ټولو هغو مضامینو او مطالبو متضمن دی، چې وړاندې ذکر شول او د هغه مجموعه هماغه اسلام دی چې محمد صلی الله علیه وسلم د خپل پروردګار له لوري راوړی دی.

**څلورم تعریف:** اسلام د عقیدتي، اخلاقي، عباداتو، معاملاتو او اخباراتو له مجموعې څخه عبارت دی چې الله (ج) په قرآن کریم او نبوي پاکو سنتو کې پخپل رسول محمد صلی الله علیه وسلم باندې نازل کړی دی او هغه ټولو خلکو د هغو په تبلیغ باندې ګومارلی دی، الله (ج) فرمایي:

«يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغ مَا أُنْزِلَ اِلَيْکَ مِنْ رَّبِّکَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَ اللهُ يَعْصِمُکَ مِنَ النَّاسِ اِنَّ اللهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْكَافِرُيْنَ»

«ای پیغمبره! هغه څه چې ستا د پرودګار له لوري نه تا ته نازل شوي؛ هغه خلکو ته ورسوه او که داسي دې و نه کړل؛ نو د هغه پیغام دې نه دی رسولی. الله (ج) تا له خلکو نه ساتي، یقیناً چې الله (ج) کافرانو ته هدایت نه کوي.»

او هغه څه چې الله (ج) نازل کړي دي؛ هماغه قرآن او سنت دي چې ټول هغه احکام چې وړاندې مو ذکر کړل؛ په همدغو دوو کې ځای پر ځای شوي دي او همدغه دین (اسلام) د الله (ج) دین دی.

**پنځم تعریف:** اسلام د درې پوښتنو پر وړاندې له حقیقي او سمو ځوابونو څخه عبارت دی چې د بشر عقل یې په پخوا او اوسمهال کې له ځان سره بوخت ساتلی دی. دغه پوښتنې د هر انسان په ذهن کې ګرځي، چې

Download from: www.aghalibrary.com

له ځان سره په یوازې توب کې ناست او د ژوند د چارو په اړه په فکر کولو بوخت شي او یا جنازه مشایعت کړي او د هدیرې زیارت ته لاړ شي، دا پوښتني په لاندې ډول دي:

له کوم ځای څخه راغلي یو؟

ولي راغلي یو؟

چېرته ځو؟

هغه سم ځوابونه چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله (ج) له خوانه وړاندي کړي دي؛ د دغو پوښتنو مجموعه او د هغو تفصیلات له اسلام څخه عبارت دی.

د لومړۍ پوښتني په اړه فرمايي:

« يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِنَ الْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِنْ مُضْغَةٍ مُخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِنُبَيِّنَ لَكُمْ وَنُقِرُّ فِي الْأَرْحَامِ مَا نَشَاءُ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ وَمِنْكُمْ مَنْ يُتَوَفَّى وَمِنْكُمْ مَنْ يُرَدُّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِنْ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْئًا وَتَرَى الْأَرْضَ هَامِدَةً فَإِذَا أَنْزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَاءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَأَنْبَتَتْ مِنْ كُلِّ زَوْجٍ بَهِيجٍ »

«ای خلکو! که له مرګ نه وروسته د بیا ژوندي کېدو په هکله شکمن یاست؛ نو په تحقیق سره چي تاسي مي له خاورې نه پیدا کړئ، بیا له تړل شوې ویني څخه، بیا له یوې ټوټي صورت ورکړل شوې او ناصورت ورکړل شوې غوښي څخه، چي تاسي ته د (خلقت تصویر) څرګند کړم؛ بیا مو په رحمونو کي هغوئ ته قرار (ځای) ورکړ، چي وغواړو تر معین وخت پورې؛ بیا تاسي (له رحم څخه) د ماشوم په صورت کي بهر ته راولو؛ بیا تاسي ته روزنه درکوو، چي د خپل ځواک کمال ته ورسېږئ او له تاسي څخه ځیني هغه دي، چي مړه کېږي او ځیني له تاسي نه هغه دي، چي د عمر تر ټولو بدې مرحلي ورګرځول کېږي؛ تر دې چي د هغو له پوهېدو نه وروسته هم په څه نه پوهېږي.»

(وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن سُلَالَةٍ مِّن طِيْنٍ* ثُـمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِى قَرَارٍ مَّكِيْنٍ* ثُـمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُـمَّ أَنْشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ فَتَبَارَکَ اللهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ*)

(المؤمنون/۱۲ ــ ۱۴)

«انسان مو له پاکي یا خاصي ختي څخه پیدا کړ، بیا مو هغه په قرارګاه کي نطفه وګرځاوه؛ نو بیا مو له هغي نطفي څخه تړل شوې وینه جوړه کړه، بیا مو له هغه تړل شوې ویني څخه یوه ټوټه غوښه جوړه کړه، بیا مو د غوښي له هغه ټوټي څخه هډوکي جوړ کړل بیا مو هغه هډوکي په غوښه باندې وپوښل، بیا مو هغه په بل خلقت کي پیدا کړل؛ نو هغه الله (ج) ستر برکتناک دی، چي تر ټولو ښه پیدا کوونکی دی.»

(اَلَّذِى أَحْسَنَ كُلَّ شَىْءٍ خَلَقَهُ وَ بَدَأَ خَلْقَ الْإِنْسَان مِن طِيْنٍ* ثُـمَّ جَعَلَهُ مِن سُلَا لَةٍ مِن مَّاءٍ مَّهِينٍ* ثُـمَّ سَوَّاهُ وَنَفَخَ فِيْهِ مِن رُّوحِهِ وَ جَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْئِدَ ةَ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُونَ) (السجدة/۷ ــ ۹)

« هغه ذات چي هر څه یي په ښکلي صورت کي پیدا کړل او د انسان پیدایښت یي له خاورې نه پیل کړ، بیا یي د هغه اولاد د بي قدره اوبو له شیرې څخه پیدا کړ، بیا یي هغه په اندام ښه برابر کړ او بیا یي په هغه کي له خپل روح څخه ور پو کړ او ستاسي لپاره یي غوږونه او سترګي او زړونه پیدا کړل؛ مګر له تاسي څخه لږ شکر ګزاره دي.»

Download from: www.aghalibrary.com

«هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ حِينٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُن شَيْئًا مَّذْكُورًا* إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَّبْتَلِيْهِ فَجَعَلْنَاهُ سَمِيعًا بَصِيْرًا» (الانسان/۱ – ۲)

«نو باید انسان وګوري چې له څه شي څخه پیدا شوی دی، له ناولو اوبو څخه پیدا کړل شوی دی، چې د شا او سینې له هډوکو څخه راوځي.»

دا مبارک آیت او دې ته ورته آیتونه څرګندوي، چې انسان اصلاً شتون نه درلود او محض یو معدوم و، الله (ج) هغه له خاورې څخه پیدا کړ او بیا یې د هغه د نسل تداوم له «مهین اوبو څخه» وګرځاوه، هغه ډول چې په پورته یادو آیتونو کې ذکر شوی دی.

په دې اساس لومړی چې آدم علیه السلام له خاورې نه پیدا کړل شو او وروسته له هغه نه یې د هغه نسل او ذریعه یې « له مهین یا ګنده اوبو څخه پیدا کړ چې له صلب او ترائب څخه را وځي.»

د دویمې پوښتنې په ځواب کې الله (ج) فرمایي:

«وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُون» (الذاریات/۵۶)

«او پېریان او انسانان مو نه دي پیدا کړي؛ مګر د دې لپاره چې زما عبادت وکړي»

او عبادت د الله (ج) د سمې پېژندنې له هغه سره د محبت متضمن دی او یا د هغه اصولو او برنامو په وړاندې عاجزي او تسلیمي ده، چې د انسان لپاره د الله (ج) له لوري وضع کړل شوي دي او د هغو په وسیلې سره خپل نفس بشپړ کړي او هغه مستوا ته یې ورسوي، چې وړ یې دی او د هغې استعداد لري او په دنیا او آخرت کې ریښتینې نېکبختۍ او بریالیتوب ته ورسېږي. نو انسان د عبادت لپاره د هغه په پراخ مفهوم سره خلق کړل شوی چې په راتلونکو بحثونو کې به انشاء الله هغه شرح او توضیح کړو.

د درېمې پوښتنې په اړه فرمایي:

«یَا أَیُّهَا الْإِنْسَانُ إِنَّکَ کَادِحٌ إِلَی رَبِّکَ کَدْحًا فَمُلَا قِیْهِ» (الانشقاق/۶)

« ای انسانه! یقیناً چې ته په ډېر سخت کوښښ او تلاش سره د خپل پروردګار په لور په حرکت کې یئ؛ نو هغه به وینئ.»

«اللهُ یَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ یُعِیْدُ ؛ ثُمَّ إِلَیْهِ تُرْجَعُون»

« الله (ج) په پیل کې خلک پیدا کوي؛ بیا یې اعاده کوي؛ بیا د هغه په لوري ورګرځول کیږي.»

« إِنْ تَكْفُرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنْكُمْ ۖ وَلَا يَرْضَىٰ لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ ۖ وَإِنْ تَشْكُرُوا يَرْضَهُ لَكُمْ ۗ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۗ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ مَرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ۚ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ » (الزمر/۷)

Download from: www.aghalibrary.com

« که تاسي کفر وکړو نو الله ج ستاسي پروا نلري مګر د خپلو بنده ګانو کفر نه خوښوي او که د الله شکر مي ادا کړو نو الله به درڅخه خوشحاله شي. او پدې پوه شی چي یو شخص به د بل شخص بار نه اوچتوي، بیا مو د پروردګار په لوري بېرته ګرځېدل دي، تاسي ته د هغه کار په اړه چي تاسي کاوه؛ خبر درکوي.»

«وَ أَنَّ اِلَی رَبِّکَ الْمُنْتَهَی» (النجم/۴۲)

« او دا چي د پرودګار په لوري مو بېرته ګرځېدل دي.»

«اِنَّ اِلَی رَبِّکَ الرُّجْعَی» (العلق/۸)

« بېشکه چي د پروردګار په لوري بېرته ګرځېدل دي.»

دا مبارک آیتونه له مرګ نه وروسته د انسان مسیر بیانوي چي هغه د الله (ج) په لوري بېرته ګرځېدل دي، تر څو د هغو اعمالو جزا بیاموي، چي په دنیا کي یې سر ته رسولي دي او هغه مقام ته ورسېږي له حالت سره یې موافق او مناسب دی؛ یعني که خپل نفس یې د الله (ج) په عبادت سره تزکیه کړی وي او د نېکانو له ډلي څخه وي، د نېکانو سرای (جنت) ته داخلېږي او که خپل نفس یې د ګناهونو او سر کښیو په چټلیو ککړ کړی وي او له هماغه خباثت سره له دنیا نه تللی وي؛ نو د ناپاکو خلکو سرای (جهنم) ته به ننوځي؛ البته د دې موضوع شرح به هم په راتلونکي کي راشي.

**شپږم تعریف:** اسلام د انسان له حقیقي روح او د هغه په لاره کي د هدایت له نور او د هغه د ټولو ناروغیو له بشپړي شفا څخه عبارت دی. اسلام هغه مستقیمه لاره ده چي هر څوک یې په مسیر باندې حرکت وکړي په هېڅ صورت نه لار ورکی کېږي.

« وَكَذَلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِنْ أَمْرِنَا مَا كُنْتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيمَانُ وَلَكِنْ جَعَلْنَاهُ نُورًا نَهْدِي بِهِ مَنْ نَشَاءُ مِنْ عِبَادِنَا وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ * صِرَاطِ اللهِ الَّذِی لَهُ مَا فِي لسَّمَاوَاتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ أَلَاَ اِلَی اللهِ تَصِيرُ الْأُمُورُ» (اشوری/ ۵۲ – ۵۳)

« او همدارنګه تاته مو له خپل حکم نه د روح (قرآن) وحي وکړه، ته نه پوهېدې چي کتاب څه شی دی او ایمان څه شی دی، ولي موږ هغه روښنایي وګرځوله، چي په هغي سره له خپلو بنده ګانو څخه هغه چاته چي خوښه مو وشي؛ هدایت ورته کوو، په تحقیق سره چي ته د سمي لارې په لور هدایت کوې، د هغه الله (ج) لارې ته چي هغه لره دي؛ ټول هغه څه چي په آسمانونو او ځمکه کي دي.»

« قُلْ هُوَ لِلَّذِیْنَ آمَنُوْا هُدًی وَّ شِفَاً» (فصلت/۴۴)

« ووایه چي هغه (قرآن) د هغو خلکو لپاره، چي ایمان یې راوړی هدایت او شفا دی.»

Download from: www.aghalibrary.com

ښکاره ده، چې له اسلام څخه دغه تعریف په حقیقت کې له ځینو هغو صفاتو سره د هغه تعریف دی، چې له هغه څخه هېڅ ډول بېلتون نلري؛ نو پردې بنیاد کېدای شي چې اسلام د نورو صفاتو له یادونې سره هم تعریف کړل شي؛ لکه څنګه چې کېدای شي چې وویل شي چې: اسلام د فطرت له دین څخه عبارت دی.

« فَأَقِمْ وَجْهَکَ للدِّيْنِ حَنِيْفًا فِطْرَةَ اللهِ الَّتِیْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيها لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللهِ ذٰلِکَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ وَ لَکِنَّ اَکْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ» (الروم/۳۰)

«نو خپل مخ د الله (ج) دین ته سم کړه (له افراط او تفریط) څخه یوې ډډې ته شوې، د الله (ج) فطرت پر ځان باندې لازم وګرځوه، چې خلک یې پیدا کړل، د الله (ج) دین لره هېڅ بدلون نشته، دا سم دین دی ولې ډېر خلک نه پوهېږي.»

همداراز ویلی شو چې: اسلام د توحید له دین یا د عدل له دین څخه عبارت دی او یا اسلام د علم دین دی او داسې نور... .

ځکه چې دا صفات او مفاهیم په خپل بشپړ صورت سره په اسلام کې شتون لري او اسلام د همدغو مفاهیمو لورته بلنه ورکوي او پر هغو باندې تأکید کوي.

### د اسلام نور تعریفونه

باید په پام کې ولرو چې د اسلام راز- راز تعریفونه چې په دې بحث کې مو وړاندې کړل؛ د مثال په لاره دي؛ نه د حصر په لار، ځکه کولای شو چې نور تعریفونه په بېلو الفاظو کې وړاندې کړو؛ البته په دې شرط چې د وړاندې شویو تعریفونو مضمون سم وي او د اسلام له معنی او مفهوم سره موافق او الفاظ یې څرګند وي او هېڅ راز ابهام او تېروتنه پکې ځای و نه لري.

### اختلاف تناقض نه دی

دوهم باید پاملرنه ولرو چې هغه تعریفونه چې وړاندې ارایه شول، هغه ټول سم دي او تناقض او جوهري اختلاف یې تر منځ شتون نلري؛ ځکه چې د هغو هر یو د همامغه مفهوم متضمن دی چې په تعریف کې ځای ورکړل شوی دی او د هغوئ تر منځ اختلاف یوازې لفظي اختلاف دی او په هغه معنی کې چې په دغه او یا هغه تعریف کې څرګند شوی دی؛ هېڅ تناقض شتون نلري او د دغو تعریفونو د مضامینو په وحدت او همغږۍ کې په دومره اندازه اختلاف او په اسلام باندې یې دلالت که څه هم په څرګند ډول او یا هم په ضمني او لازمي ډول کوم اغېز نه لري.

### د بېلابېلو تعریفونو د ارائه کولو موخه

له اسلام څخه د متعددو تعریفونو د وړاندې کولو موخه مو دا ده چې ګران داعي (دعوتګر) یو شمېر تعریفونه او جملې له ځان سره ولري او وکولی شي چې د مدعو د حالت، د هغه د فهم او درک د اندازې، د هغه د فکري او فطري روغتیا د حدودو، د هغه شکونو او پوښتنو ډول چې زړه ته یې لاره موندلې ده او بالاخره د هغه مفاهیمو په پام کې نیولو سره، چې د اسلام په اړه ورته اړتیا لري؛ له یادو تعریفونو څخه یو غوره کړي.

مثلاً هغه څوک چې له فلسفي سره سرو کار لري او د فلسفي په دښته سرګردان دي؛ هغه مهال چې د اسلام په اړه پوښتنه کوي؛ نو مناسبه ده چې د پنځم تعریف مطابق هغه ته ځواب ورکړل شي او هغه دا چې« اسلام د هغه سوالونو

Download from: www.aghalibrary.com

له سمو حقیقي ځوابونو عبارت دی چې د هر انسان په ذهن کې تېرېږي لکه: له کوم ځای څخه راغلی یم؟ ولې راغلی یم؟ چېرته ځم؟»

د دې پوښتنو ځواب د هغه شریعت مطابق ورکړل شي، چې محمد صلی الله علیه وسلم خلکو ته رسولی دی؛ همدا ډول هغه کس ته چې د قانون او اجتماعي زده کړو سره سرو کار لري او پوښتنه کوي، چې اسلام څه شی دی؟ باید له درېم تعریف سره سم ځواب ورته ورکړل شي.

### غوره شوی تعریف

هغه تعریف چې په بحث کې زموږ لپاره غوره دی او موږ هغه د اسلام د رکنونو د معرفي کولو لپاره بنیاد ګرځوو، هماغه لومړی تعریف دی چې د «جبریل د حدیث» په نوم مشهور حدیث کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت شوی دی؛ ځکه چې دا تعریف هغه ټول مفاهیم لري چې نور تعریفونه یې له ځان سره لري.

### د اسلام ارکان

په هغه حدیث کې چې د«حدیث جبریل» په نوم پېژندل شو دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم د جبریل په ځواب کې فرمایي:

« اسلام دا دی چې شاهدي ورکړې چې له یو الله نه پرته بل هېڅ برحقه معبود نشته او محمد صلی الله علیه وسلم د هغه رالېږل شوی دی او لمونځ ادا کړې او زکات ورکړې او د رمضان د مبارکې میاشتې روژه ونیسې او که حج ته د تلو امکانات او توان ولرې؛ نو د بیت الله حج ادا کړې.»

له دې حدیث شریف سره سم د اسلام ارکان له درې اساسي امرونو څخه جوړېږي:

**لومړی:** د « لا اِله الاِلله» شهادت.

**دوهم:** د « محمد رسول الله» شهادت.

**درېم:** نېک اعمال چې په سر کې یې لمونځ، زکات، روژه او حج ځای لري او دا څلور عملونه د خپل ځانګړي اهمیت لپاره په اسلام کې ذکر شوي او مسلمانان تنبه کوي، چې نېک عمل هم د دین له ارکانو څخه دی او یوازې د شهادت کلمې په ژبه روارل کفایت نه کوي؛ بلکې باید د هغه له مفهوم او مضمون سره سم عمل وشي.

په پایله کې ویلای شو، چې اسلام د پنځو اساسي ارکانو څښتن دی چې عبارت دي له:

۱. سپېڅلې کلمه

۲.لمونځ

۳.روژه

۴.زکات

Download from: www.aghalibrary.com

۵.حج

او له بل اړخه ویلای شو، چې سپېڅلې کلمه د توحید او رسالت له دوه رکنونو څخه عبارت دی او لمونځ، روژه، زکات او حج په نېکو اعمالو کې شاملېږي، چې په دې ترتیب سره اسلام د درې ارکانو خاوند دی: توحید، رسالت او نېک اعمال.

خلاصه دا چې:

توحید ← طیبه کلمه، رسالت

نېک اعمال ← لمونځ، روژه، زکات، حج

**ایمان:**

**د ایمان تعریف:** چې لغتاً د بشپړ باور او یقین کولو په معنی دی، د اسلام له نظره د درې اساسي اجزاؤو خاوند دی، چې عبارت دي له:

**الف:** دزړه تصدیق

**ب:** په ژبه اقرار

ج: په هغه څه باندې عمل کول چې په زړه کې یې تصدیق او په ژبه یې اقرار شوی وي.

دلته لیدل کېږي چې ژبه په زړه باندې ګواه او شاهده ده او عمل په دواړو؛ یعنې زړه او ژبې باندې ګواه او شاهد دی.

*تبصره:* باید متوجه واوسو چې په یوې موضوع باندې ایمان چې په حقیقت کې په هغې موضوع باندې بشپړ یقین دی؛ درې واړه شیان (تصدیق – د ژبې اقرار او پر هغې باندې عمل) په ځانګړې ډول لومړی جز ( د زړه تصدیق) او دوهم جز( د ژبې اقرار) حتمی او ضروري دی پرته له هغې نه ایمان کېدای نشي یعنې د زړه تصدیق د ژبې له اقرار نه پرته او یا د ژبې اقرار د زړه له تصدیق نه پرته ایمان ندی لکه منافقین چې یوازې د ژبې په اقرار سره – ایمان داره کېدای نشي. همدارنګه هغه کینه کښ او متعصب کفار چې په زړه کې د اسلام حقیقت باندې پوهېږي مګر د دننی کینې او تعصب – په ژبه اعتراف کول ننګ او عار ګڼي ځکه نو هغوي هم ایماندار کېدای نشي.

په دې بناء هغوئ چې د اسلام له قضایاؤ څخه د هرې یوې – له ژبنی اقرار او په هغې باندې له اعتراف کولو څخه ننګ او شرم کوي – مسلمان او ایماندار ندي که څه هم د ایمان او اسلام دعوی وکړي لکه څنګه چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم تره ابو طالب د مرګ پر مهال د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په رسالت باندې له ژبنی اقرار او اعتراف څخه عار او انکار وکړ نو د یو کافر په څېر له نړۍ څخه لاړ.

Download from: www.aghalibrary.com

البته ژبنی اقرار د شرعي معذورتونو؛ لکه ګنګ والی، یا د وژلو او تعذیب د وېرې په صورت کې، ساقت کېږي. په دې شرط چې د معذور شخص اسلامي عقیده د زړه له اطمینان او تصدیق سره ملګرې وي.

## د ایمان ډولونه:

په اسلام کې ایمان لرل په دوه ډوله دي: مجمل او مفصل ایمان

**۱) مجمل ایمان:** چې په دې جملې سره تمثیل او بیانېږي:

(آمنت بالله کما هو باسمائه وصفاته و قبلت جمیع احکامه)

ژباړه: داسې چې په قرآن او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په احادیثو کې وراد شوي په الله او په نومونو او صفاتو یې ایمان لرم او د الله (ج) ټول فرمانونه او احکام له زړه نه منم.

**۲) مفصل ایمان:** چې په قرآن کریم او د رسول کریم صلی الله علیه وسلم په صحیحو او ثابتو احادیثو کې وارد شوي دي چې د مفصل ایمان مفهوم او تفصیل به نسبي صورت په لاندې جملې سره ارائه کولای شو او له نېکه مرغه چې د هر مسلمان ماشوم په سینه کې خوندي دی:

(آمنت بالله و ملائکته و کتبه ورسله والیوم الاخر والقدر خیره و شره من الله تعالی)

**ترجمه:** په الله او په ملائکو او په کتابونو او په پیغمبرانو یې او د قیامت په ورځ ایمان لرم او په دې ایمان لرم، چې خیر او شر، نېکي او بدي او اندازه او تقدیر ټول شیان یوازې ویوازې په الله (ج) پورې اړه لري؛ نه بې چاره او محتاج مخلوق پورې، چې پخپله اړ او محتاجه دی.

او لکه څنګه چې وړاندې ورته نغوته وشوه چې ایمان والا ټول له آدم علیه السلام نه د اسلام تر وروستي پیغمبر محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم (ټول پیغمبران)، پرښتې، اولیأ الله، پیریان او انسانان ایمان والا او مؤمن ټول په همدغو شپږګونو اصولو تر پایه بشپړ باور او عقیده لري او هغه وروستی جمله، چې احیاناً اضافه کېږي او عبارت دی له: (والبعث بعد الموت) ده؛ له مرګ نه وروسته د بیا ژوندي کېدلو په معنا ده، د (والیوم الاخر) په جملې پورې تعلق نیسي؛ ځکه نو د اسلام اساسي ارکان او اصول همدغه شپږ شیان دي، چې په قرآن کریم او د پیغبمر صلی الله علیه وسلم په احادیثو کې روښانتیا لري.

## له تحریف څخه وړاندې د آسماني ادیانو عقیدوي یووالی

سمه او سالمه اسلامي عقیده هماغه عقیده ده چې د بشر د پیدایښت له پیل نه تر اوسه او د نړۍ تر پایه پورې ټول پیغمبران، ربښتیني مؤمنان؛ یعنې پیریان او انسانان او هر مؤمن چې وي هغه ته معتقد دی او یوازنی مصدر او سرچینه یې هماغه د پیغمبرانو په واسطه نړۍ او نړیوالو ته الهي لارښوونې دي.

په آسماني حق ادیانو کې همدغه عقیدوي یووالی او همغږي ده چې بیا یې د بل ځل لپاره د عقیدې په اهمیت او د هغې په اصالت کې زیاتوالی راوړي. په داسې حال کې چې په خلاف د دې لیدل کېږي، چې په آسماني ادیانو کې عملي احکام؛ یعنې د هر دین شریعت له یو بل نه په توپیر کې دی، چې دا پخپله د عقیدې په نسبت د عمل فرعیت واضح

Download from: www.aghalibrary.com

کوي؛ نو پایله دا ده، چې هغه آسماني ادیان چې پرته له تحریفاتو او بدلونونو څخه وي، د ورته توحیدي او یولمانځني عقیدې لرونکي دي، په داسې حال کې چې په آسماني ادیانو کې شریعت یا عملي احکام له یو بل څخه په توپیر کې دي:

فرمایي:

(... لِکُلٍّ جَعَلْنَا مِنْکُمْ شِرْعَةً وَ مِنْهَا جًا ....) ( المائده/۴۸)

**د آیت مضمون:** (ستاسې د هر یو (پیغمبرانو، د استعدادونو او ستاسې د پیروانو د توانمندیو په پام کې نیولو سره) لپاره بېل شریعت او منهج جوړ کړي.

په لا ډېر څرګند عبارت دا چې د بشریت د پلار آدم نه د هغه تر سید او آقا اولاد؛ یعني حضرت رسول اکرم محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم پورې او تر قیامت پورې ایمان والا په الله (ج) او د الله (ج) په فرمانونو ایمان لري، ملک وي؛ یا که پیغمبر، پیری وي که انسان؛ بلآخره اولیاء الله او د الله تعالی ټول دوستان د خدای لمانځني او یولمانځني په عین عقیده او د توحید په مستقیمه لاره ثابت قدمه ول او لا به وي.

او دې ټکي ته مو باید پام وي چې واقعاً ټول آسماني ادیان په حقیقت کې اسلامي ول او د اسلام په نوم یاد شوي دي، لکه چې پیغمبرانو ا اولیاء الله تل له الله تعالی نه غوښتي دي چې د مسلمانانو له ډلې څخه اوسي لکه قرآن کریم چې له هغوئ نه حکایت کوي. (د بقرې سورة ۱۲۸آیت دې ولوستل شي.)

رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَیْنِ لَکَ وَ مِنْ ذُرِّیَّتِنَا أُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّکَ .... (البقرة/۱۲۸)

**ژباړه:** (پروردګاره! موږ او زموږ اولادونه د فرمان والاو (مسلمانانو) له ډلې څخه وګرځوه.)

همدارنګه د آل عمران د سورة ۵۲ آیت دې ولوستل شوي او د عیسی علیه السلام مخلصانو وویل:

...نَحْنُ أَنْصَارُاللهِ آمَنَّا بِاللهِ وَ اَشْهَدُ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ (آل عمران /۵۲)

**ترجمه:** موږ د خدای (ج) د لارې مرستندویانو، په الله (ج) مو ایمان راوړی او په دې باندې شاهد اوسه، چې موږ فرمان ساتي او مسلمانان یو.

همدارنګه د حج د سورې ۷۸ آیة دې ولوستل شي.

(هُوَسَمَّا کُمُ الْمُسْلِمِینَ مِنْ قَبْلُ وَفِی هَذَا) (الحج/۷۸)

د آیت مضمون: (الله(ج) له قرآن نه وړاندې په پخوانیو کتابونو کې او هم په قرآن کې تاسې فرمان ساتي (مسلمانان) ونومولی.)

په همدې ترتیب قرآني آیتونه ټول په پورتنی موضوع باندې، چې د عقیدې له وحدت او د اسلام په ارکانو کې د همغږۍ، ایمان او همدارنګه له تحریف نه وړاندې د آسماني ادیانو د پیروانو له مسلمانۍ څخه عبارت دی؛ تائید او

Download from: www.aghalibrary.com

تأکید کوي. د ا توضیح چې ملائکو، پیغمبرانو، اولیأالله وو او نورو مؤمنانو له ډېر کوچني اختلاف نه پرته د توحید او یولمانځني له یوې ورته صحیحي او سمي عقیدې څخه پیروي او متابعت کړی دی؛ ځکه نو هر ایمان والا چې په الله(ج)او په پیغمبرانو یې ایمان لري او د خدای (ج)د اوامرو او نواهیو څخه متابعت او پیروی کوي؛ د اسلام او یا مسلمان په نوم نومول شوي او نومېږي؛ ځکه چې د الله(ج) پر وړاندې منل شوی دین همدغه اسلام دی او بس.

د آل عمران سورې ۱۸ آیت  ته دې مراجعه وشي:

اِنَّ الدِّينَ عِندَ اللهِ الْاِسْلَامُ .....( آل عمران/۱۸)

**ترجمه:** له شک او تردید نه پرته د الله په وړاندې یوازنی منل شوی له اسلام څخه عبارت دی.

بناءً ټول آسماني ادیان چې احکام یې د پروردگار له لوري پر پیغمبرانو باندې د وحي په شکل کې نازل شوي دي؛ اسلام او رښتیني پیروان یې مسلمانان ول او مسلمان ورته ویل شوي دي.

همداراز د آل عمران د سورې ۸۵: باید ولوستل شي:

وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَ هُوَ فِي الآخِرَةِ مَنَ الْخَاسِرِيْنَ  (آل عمران/۸۵)

**د آیت مضمون:** (هر څوک چې له اسلام نه پرته بل دین غوره کړي؛ هېڅکله ورڅخه نه قبلېږي او په آخرت کې د تاوانیانو له ډلي څخه دی.)

اوس د عقیدې د همغږۍ په هکله او د پورتنی مدعا د تائید لپاره یو ځل بیا کولای شو لاندې مبارک آیت د شاهد په توګه راوړو چې عبارت دی له:

آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ اِلَيْهِ مِن رَّبِّـهِ وَالْمُؤْمِنُونَ .... (البقرة/۲۸۵)

د مبارک آیت د مضمون خلاصه دا ده چې پیغمبر اکرم حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او نور ټول هغه ایمان والا چې موحد او یولمانځونکي دي؛ یعني ملائکې، اولیأ الله او نور مؤمنان که جني وي؛ یا که انسي او یا پرښتې وي ټول په همدغو شپږګونو اصولو؛ یعني په الله(ج)، د الله(ج)په پرېښتو او د هغه په کتابونو او په پیغمبرانو او په هغه څه باندې چې د الله (ج)له لوري په پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسل باندې نازل شوي؛ بشپړ ایمان او باور لري او په دې باند ي اقرار کوي چې د الله (ج)د پیغمبرانو تر منځ د صداقت، امانت ساتنې، معصومیت او د رسالت په تبلیغ کې هېڅ ډول توپیر شتون نلري، په دې معنا چې د الله (ج) ټول پیغمبران صادق او معصوم او امانت ساتي ول او د هغه څه په تبلیغ او رسولو کې چې د الله (ج) له لوري پر هغوئ باندې د وحي په شکل کې نازلېږي؛ مکلف دي او له ځان څخه یې ډېره کمه سستي او انحراف ندی ښودلی؛ ځکه نو بې له شکه چې ټولو پیغمبرانو معصومیت او صداقت درلود او د نېکو او سپېڅلو صفاتو لرونکي ول.

### د ایمان ارکان

د ایمان د ارکانو په اړه علماء درې نظرونه لري:

Download from: www.aghalibrary.com

۱.جمهور محققین عقیده لري چې ایمان یوازې یو رکن لري  او هغه د زړه له تصدیق څخه عبارت دی، په ژبه باندې اقرار کول د ایمان شرط، په دنیا کې د احکامو د اجرا کولو لپاره؛ ځکه چې په ژبه باندې اقرار کول په زړه کې د ایمان دلیل او ښکاره ده، دا د ابو منصور ماتریدي نظریه ده.

۲.د ځینو نورو علماؤو عقیده دا ده چې ایمان د دوه ارکانو لرونکی دی او هغه په ژبه باندې اقرار کول او په زړه کې وربانديې تصدیق یا باور کول دي، دا د امام ابو حنیفه او فخرالاسلام بزودي او امام سرخسي او ابوالحسن اشعري نظریه ده.

۳.د علماؤو یوه بله برخه گروهمن دي چې ایمان درې ارکان ګڼي او هغه په ژبه باندې  اقرار کول، په زړه کې پرې تصدیق کول او په ارکانو (جوارحو) باندې عمل کول دي. دا د اکثرو محدیثینو، فقهاؤو، معتزله ؤو او خوارجو نظریه ده. دې خبرې ته په پام سره چې د معتزله ؤو په نزد د ایمان له ارکانو څخه د یو رکن ترک کول کفر دی او د خوارجو په نزد د کبیره ګناه مرتکب کافر ګڼل کېږي؛ مګر محدثین، فقها او امام شافعي د کبیره ګناه مرتکب کافر نه ګڼي.)

### د مؤمن په پېژندنه

د مؤمن په له پېژندنو څخه موخه هغه شیان دي چې پر هغو باندې له ایمان لرلو نه پرته انسان ته شرعاً مؤمن نه ویل کېږي. او یا په بل عبارت، مؤمن به په هغو شاخصونو پورې تړاو لري چې په ایمان (حدیث ایمان) چې په مفصل ایمان کې بحث ور باندې شوی چې په:

(آمنت بالله و ملائکته و کتبه و رسله والیوم  الاخر والقدر خیره و شره من الله تعالی والبعث بعد الموت).

 کې ذکر شوي دي، چې په خلاصه ډول عبارت دي له: په الله تعالی باندې ایمان لرل، په پرېښتو باندې ایمان لرل، د الله تعالی په کتابونو باندې ایمان لرل، په پیغمبرانو علیهم السلام باندې ایمان لرل، د قیامت په ورځې باندې ایمان لرل، د خیر او شر (قضا او قدر) په تقدیر باندې ایمان لرل او له مرګ نه وروسته په بیا ژوندي کېدو باندې ایمان لرل.

دا هغه ټکي دي چې پر هغو باندې له عقیدې، اقرار او ایمان نه پرته مکلف شخص ته شرعاً مسلمان نشي ویل کېدای.

### د ایمان او اسلام تر منځ اړیکه

د ایمان او اسلام ترمنځ تناسب او له یو بل سره د هغوئ د اړیکو په اړه علماء په دوه ډلو وېشل شوي دي: ځیني علماء وايي: چې ایمان او اسلام دوه توپیر لرونکي او د یو مصداق لرونکي الفاظ دي. یا په بل عبارت؛ ایمان او اسلام دوه مترادف الفاظ دي چې معنی یې یوه ده لکه چې اسلام د احکامو په منلو کې له فرمان ساتني او تن ایښودني او پر هغو باندې له اعتراف او باور څخه عبارت دی او ایمان هم له دې نه پرته بل څه نه دی؛ نو ایمان او اسلام که څه هم د مفهوم له نظره متفاوت دی؛ اما د مصداق په حیثیت سره یو دي، لکه لاندې مبارک آیت ورباندې دلالت کوي:

فَأَ خْرَجْنَا مَن كَانَ فِيهَا مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ* فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ (الذاریات/۳۵ ــ ۳۶)

Download from: www.aghalibrary.com

مورې ټول هغه مؤمنان چي د لوط په ښارونو کي یې ژوند کاوه (د عذاب له نزول نه وړاندې مو له ښارونو څخه) راو ایستل، په هغه سیمو کي مو له یوې کورنۍ نه پرته هېڅ مسلمان و نه موند.

په دې خاطر له هغه چا څخه ایمان نه قبلېږي، چي مؤمن وي ولې مسلمان نه وي یا دا چي مسلمان وي ولې مؤمن نه وي.

د ایمان او اسلام په اړه دوهمه نظریه داسي ده چي، ایمان او اسلام له یو بل نه توپیر لرونکي دي او توپیر لري، لکه متعال خدای (ج) چي فرمایلي دي:

قالَتِ الْأَعْرابُ آمَنَّا قُلْ لَمْ تُؤْمِنُوا وَ لكِنْ قُولُوا أَسْلَمْنا وَ لَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمانُ في‏ قُلُوبِكُمْ وَ إِنْ تُطيعُوا اللَّهَ وَ رَسُولَهُ لا يَلِتْكُمْ مِنْ أَعْمالِكُمْ شَيْئاً إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحيمٌ) (الحجرات/۱۴)

په دښتو کي اوسېدونکو عربانو وویل: ایمان مو راوړی، ورته ووایه تاسي ایمان نه دی راوړی؛ بلکي ووایئ چي ستاسي رسالت ته ظاهراً تسلیم او مسلمان شوي یو؛ ځکه چي لا هم ایمان ستاسي زړونو ته لاره نه ده پیدا کړې.

په دې آیت کي د دښتو د اوسېدونکو عربانو د ایمان نفي شوي او اسلام ورته ثابت شوی دی؛ نو پردې بنیاد ایمان او اسلام له یو بل سره توپیر لري.

همداراز په هغه مفصل حدیث کي چي د (حدیث جبریل په نوم) مشهور دی، پیغمبر صلی الله علیه وسلم د ایمان او اسلام ترمنځ توپیر څرګند کړی دی:

(قال فاخبرنی عن الْاسلام فقال: أن تشهد أن لا اله اِ لله و أن مُحمَّدًا رَسُول الله صلی الله علیه وسَلَّمَ وَتُقِيمَ الصَّلَاةَ وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ وَ تَصُوم رَمَضَان و تَحُجَ البَيْتَ اِن اِسْتَطَعْتَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا).

ما ته د اسلام په اړه خبر راکړه؛ نو ویې فرمایل: اسلام دا دی چي د دې خبرې شاهدي ورکړې، چي له یو الله (ج) نه پرته بل بر حقه معبود نشته او دا چي محمد صلی الله علیه وسلم د الله (ج) رسول دی او لمونځ ادا کړې، زکات ورکړې او د رمضان د مبارکي میاشتي روژه ونیسي او که د لارې د لګښت توان ولرې؛ نو د الله (ج) د کور زیارت (حج) وکړې.

هغه مهال چي د ایمان په اړه یې ترې وپوښتل؛ نو ویې فرمایل: په الله (ج)، پرښتو، کتابونو، او پیغمبرانو او د آخرت په ورځې ایمان راوړې او په دې چي د خیر او شر اندازه د الله(ج) له لوري ده.

له دې حدیث شریف څخه څرګندیږي چي ایمان او اسلام یو له بله توپیر لري. همدارنګه د لغت په لحاظ، اسلام د ظاهري تسلیمی او څرګند انقیاد په معنی دی چي د احکامو په پرځای کولو کي په پام کي وي، ولې ایمان زیاد تره د زړه د تصدیق ، عقیده او فکر په موضوع پورې اړه لري.

مګر دغه توپیر او نزاع شکلي او ظاهري ده؛ ځکه چي د حقیقت له پلوه ایمان او اسلام د یو مسماء لپاره دوه نومونه دي. هر کله چي دواړه یو ځای ذکر شي؛ بېلابېل مفهومونه افاده کوي او هر کله چي یو یې په یوازې ځان ذکر شي د دواړو یومفهوم افاده کوي.

Download from: www.aghalibrary.com

**د انساني ټولنې په برخه کې د ايمان ونډه**

انسان په ټولنه کې د ژوند کولو پر مهال یو لړ ټولنیزې اړتیاوې چې عبارت دي له:

- د کورنيو اړیکو ، خپلوانو او د ټولنې د غړو تر منځ د اړیکو په ټینګولو کې د ایمان ونډه، په ښوونه او روزنه لکه ښوونځی، مدرسه، مسجد، پوهنتون او نورو کې د ایمان ونډه.

-په امنیت او آرامی کې د ایمان ونډه.

-په دولتي عدالت او نړیوال امنیت کې د ایمان ونډه.

-په انساني ټولنیز ژوند کې د اسلام د سپیڅلي دین ونډه په درې اساسي برخو کې تر مطالعې لاندې نیول کېدای شي:

په ټولنيزه برخه کې د ايمان ونډه

کورنی، خپلوان، ګاونډیان

ښوونځی، مدرسه او هېوادنی پوهنتون

قانون، دولت، آرامي او عدالت

**د کورنیو او ټولنیزو اړیکو په برخه کې د ایمان ونډه**

د اسلام سپیڅلی دین د کورنی د ټولو غړو، خپلوانو، ګاونډیانو او هېوادوالو لپاره د حقوقو او امتیازاتو په بنسټ قوانین بیان کړي دي چې په پایله کې يې د کورنی د غړو، خپلوانو، ګاونډیانو او ټولو ښاریانو تر منځ نېکې اړیکې تأمینېږي.

کورنی، خپلوان او ګاونډیان+ ایماني حقوق او امتیازات= کورنی پیوستون او د ټولنیز نظام نېکې اړیکې. اسلام د بشري ټولنې د ژغورنې تر ټولو غوره وسیله ده؛ ځکه چې د اسلام سپیڅلی دین د اړیکو د ساتنې لپاره یو لړ قوانین لري چې کولای شي له کورنی، خپلوانو او ټولو انسانانو سره د انسان تراو په داسې ډول توجه کړي، چې په پایله کې يې په عادلانه ډول د ټولو نېکبختي او نیکمرغي تضمین شي. د اسلام په سپیڅلي دین کې له فرد او ټولنې سره د بل فرد اړیکه د متقابل درناوي په بنسټ بیان شوی دی، چې پایله يې د کورنیو اړیکو دوام او استمرار دی؛ د مثال په توګه:

عن ابی هریرة (رض) قال جاء رجل الی رسول الله(ص) فقال یا رسول الله من أحق بحسن صحابتی قال أمک قال ثمه قال امک قال ثمه قال امک قال ثم قال ثمه ابوک. وقال این شبرمة و یحی بن ایوب حدثنا أبو زرعة مثله.

**د مور په اړه**: د اسلام په سپیڅلي دین کې د مور مقام ته د درنښت لپاره ډېر آیتونه او احادیث بیان شوي دي او په ځینو روایاتو کې حضرت محمد (ص) د ځینو صحابه وو ته ویل شوي چې د مور خدمت دې وکړه؛ ځکه چې جنت يې تر قدمونو لاندې دی. په همدې بنسټ متدین هلکان او نجوني، خپلې میندې د خپلو سترګو نور ګڼي، هغوی ته تر

Download from: www.aghalibrary.com

وروستى درجې درناوى وکړي، د ستونزو او ناروغۍ پر مهال، د هغوئ په خدمت کې وي او د ژوند تر وروستۍ شېبو پورې يې خدمت ګذاره وي، د مور دغه احترام د دين له هماغي لاربښووني څخه سرچينه اخيستې ده.

حضرت ابى هريرة (رض) روايت کوي چې يو شخص رسول الله (ص) ته راغی او ويې ويل:

اى د خداى (ج) رسوله! د نېکي معاملي لپاره څوک ډېر حق لري؟

حضرت (ص) وفرمايل: ستا مور.

شخص وويل: وروسته له هغې؟

حضرت (ص) وفرمايل: ستا مور.

هغه شخص بيا وويل: وروسته له هغې نه؟

حضرت (ص) وفرمايل: ستا مور:

هغه شخص بيا وويل: له هغې نه وروسته؟

حضرت (ص) وفرمايل: ستا پلار.

په دې حديث شريف کې پيغمبر(ص) مسلمان پوهوي چې د هغه ټولو اشخاصو په نسبت چې په ژوند کې ورته ارزښت ورکوي او له هغوئ سره دوستي کوي، ترحم پرې کوي، نېکه رويه ورسره کوي، ډېر زړه سوى، نرمي او محبت له مور سره بايد ولري؛ حتى د پلار په اړه يې هم مور ته ډېر حق ورکړى دى.

حضرت ابى درداء (رض) فرمايي چې له رسول (ص) نه مي واورېدل چې ويل يې: پلار د جنت منځنى دروازه ده، هرکله چې وغواړې دا دروازه له لاسه ور نه کړې؛ نو خوندي يې وساته.

قرآن عظيم الشان د مور او پلار د لا ډېر درناوي لپاره تصريح کړى ده چې:

( وَلَا تقل لهما اف)

مور او پلار ته مو د اف کلمه مه کاروئ؛ ځکه دا کلمه په سترپيا او زړه تنګى باندې دلالت کوي چې يو مسلمان نه بايد د مور او پلار پر وړاندې داسې يوه زشته کلمه چې د هغوئ د ناخوښۍ او خفګان لامل ګرځي؛ وکاروي او هر کله چې دقيقاً متوجه شو د اف د کلمې له کارولو څخه چې د ځينو په نزد ساده معلومېږي؛ نهي او مطلق ممانعت شوى دى؛ نو بناءً فکر وکړئ چې له دې نه هم زشت برخورد څومره ناروا او بد دي.

بناءً پر هر مسلمان باندې لازم ده چې له والدينو سره په معامله کې تر وروستۍ کچې پورې درناوى رعايت کړي.

Download from: www.aghalibrary.com

**د مېرمنې په برخه کې:** د اسلام سپېڅلی دین مېرمنو ته درناوی، عزت کول د مؤمن د ژوند له بنسټیزو کړنو څخه ګرځولي ده، د ښځو او مېرونو لپاره یو لړ اوامر او لارښوونې دي چې باید هغو ته پاملرنه وکړي او د میرمنې او مېره کورنی ژوند یې د مودت(دوستی) او رحمت(مهربانی) پر بنسټ بیان کړی دی.

د مېرمنې درناوی یې د مېره ځانګړتیا ګڼلې ده.

(احسنکم خلقا احسنک خلقا لاهله).

د اخلاقو له نظره، ستاسې تر ټولو غوره هغه څوک دی چې له خپلو مېرمنو سره د ښه اخلاق لونکې دي.

همدارنګه پیغمبر (ص) تل خلک له خپلو مېرمنو سره د نېکو معاملو په سرته رسولو سره وصیت کاوه: حضرت ابی هریرة (رض) له نبي کریم (ص) څخه روایت کوي چې ویې فرمایل:

هر څوک چې په خدای (ج) او د آخرت په ورځې ایمان لري، په کوم کار کې د حاضرېدو پر مهال باید د خیر خبره وکړي او یا هم چپ اوسي او همدا رنګه د مېرمنو په اړه یې وصیت وکړ.

**امام نووي وایي**: د پیغمبر (ص) د خبرې موخه: (واستوصوابالنسأ) په دې کې مېړونه له خپلو مېرمنو سره په ملایمت او نرمی او له هغوئ سره د نېک روش کولو ته هڅول شوي دي.

د اسلام حضرت پیغمبر (ص) مېرمنو ته درناوی کول د خدای پرستو نارینه ؤو ځانګړنه وګڼله او د هغوئ سپکاوی یې بد او د ناوړه مېړونو خاصیت یې بللی دی:

(ما أَكرَمَ النِّساءَ إلاّ كَريمٌ و َلا أَهانَهُنَّ إلاّ لَئيمٌ)

د مېړونو اطاعت کول یې د مؤمنو مېرمنو ځانګړنه بللي او په سالمو توجهاتو او د انسان د احترامانه ژوند لپاره یې د دوه اړخیزه درناوې د دې ژوند دوام تضمین کړی دی.

د پیغمبر (ص) ژوند او شخصیت د ټولو مؤمنو نارینه ؤو لپاره تر ټولو غوره الګو او نمونه ده، چې هغه حضرت هېڅکله د خپلو مېرمنو پر وړاندې له تاو تریخوالي او تندی څخه کار نه دی اخیستی او په دې اړه صریح حدیث دی، چې د پیغمبر (ص) له مېرمنو څخه یوې روایت کړی دی:

**د لور او خور په اړه:** د اسلام سپېڅلی دین د لور او خور درلودل الهي رحمت بللی او هر کله چې کوم چا له خور او لور سره نېک اخلاق کړي او له هغوئ سره د معاملې پر مهال له خدای (ج) څخه ووېرېږي؛ د نومورې دغه روش جنت ته د هغه د ننوتو لامل ګرځي. حضرت ابی سعید خدري (رض) له پیغمبر (ص) نه روایت کوي چې ویې فرمایل: هر کله که کوم څوک درې لونې یا خویندې ولري او یا هم دوه لونې یا خور ولري او له هغوئ سره انساني روش ولري او له هغوئ سره د معاملې پر مهال له الله (ج) ووېرېږي؛ جنت ورته په نصیب کېږي.

د دې حدیث شریف په پوهېدو سره هر حقیقي او په قرآن باندې ښایسته مسلمان د لور او خور درلودل ویاړ ګڼي او د الهي رضایت لپاره له هغوئ سره په خپل روش کې همدغه حدیث بنسټ ګرځوي.

Download from: www.aghalibrary.com

انس (رض) فرمايي چي رسول (ص) وفرمايل: هر څوک چي د دوه لوڼو سر پرستي وکړي تر څو چي هغوئ د بلوغ عمر ته ورسيږي، د قيامت په ورځ زه او نوموړی سره يو ځای اوسيږو انس وايي: حضرت (ص) خپلې مبارکې ګوتې يوه له بلې سره را جمع کړې.

له دې حديث شريف څخه ثابتيږي چي د دوه لوڼو روزنه او د هغو سرپرستي او له هغوئ څخه څارنه کول ددې لامل کيږي، چي انسان د قيامت په ورځ له رسول کريم (ص) سره نږدې وي او هر کله، چي څوک د پيغمبر (ص) تر بيرغ لاندې وي او د دوه ګوتو په څير له يو بل سره نږدې وي، د نوموړي د قيامت د ورځې ټولې ستونزې به رفع شي؛ ځکه چي هغه په حقيقي ډول د رسول کريم (ص) پيروي کړې ده.

**د ټولو خپلوانو ګاونډيانو او ټولو خلکو په اړه**: د اسلام سپيڅلی دين له خپلوانو سره د اړيکو ټينګولو لپاره صله رحمي  يا د خپلوي پالل يو مهم بنسټ ګرځولی.

د الهي لاربنوونو په  بنسټ هر څوک چي صله رحمي پرې کړي؛ خدای (ج) له هغه سره خپله اړيکه پرې کوي، په دې اړه زيات حديثونه روايت شوي دي.

د ګاونډيانو لپاره يې حقوق بيان کړي دي او  هغه خلک چي ګاونډيان يې له شر څخه په امن کې نه وي؛  يو بې ايمانه شخص په حيث ګڼل شوی دی.

**کونډو مېرمنو، يتيمانو، فقيرانو او مسکينانو ته پاملرنه**: يو مسلمان بايد په ټولنيزو اړيکو کې د نورو له حال څخه بې خبره نه وي؛ بلکې په هغه لازمه ده، چي له کونډو، مسکينانو، فقيرانو او يتيمانو سره تل مرستندويه وي او په خپلو مالونو کې د هغوئ لپاره برخه ځانګړې کړي.

ابو هريره (رض)فرمايي چي رسول الله(ص)فرمايلي دي: څوک چي د کونډې مېرمنې او مسکين سر پرستي وکړي؛ د هغه چا په څېر دی چي د الله (ج) په لار کې يې کوښښ او تلاش کړی دی او زه فکر کوم چي د داسې چا په څېر وي چي تل لمونځ کوي او هېڅ نه کښېني او يا هم د هغه روژه چي په څېر دی چي هېڅکله له روژه نيولو څخه لرېوالی نه کوي.

سهل بن سعد(رض)فرمايي چي رسول الله (ص)وفرمايل: زه او د يتيم پالونکی په جنت کې داسې يو، خپلو دوه ګوتو ته يې نغوته وکړه او ترمنځ يې کمه فاصله پرېښوده.

او په همدې شکل د مشرانو احترام کول، په کشرانو شفقت کول د يو مؤمن د اخلاقو مهم جز يې ګڼلی دی او په دې ډول د اسلام سپيڅلی دين توانېدلی دی چي کورنۍ او ټولنيزې اړيکې د اخلاقي قوانينو پر بنسټ ټينګې کړي.

برعکس؛ هغه چا چي له الهي لاربنوونو څخه ځان محروم کړی دی او د لاروړکي لاره يې اختيار کړې ده؛ په ښه توګه درک کوي چي هره ورځ د هغوئ کورنۍ اړيکې متلاشي کيږي او د ښو مادي او معيشتي وسايلو په لرلو سره هم په روحي او کورنيو ستونزو اخته دي.

Download from: www.aghalibrary.com

د انیس ملي ورځپانه په (۶۵) چهارشنبه د وري د میاشتي ۱۸ د۱۳۸۴ کال چي د ۲۰۰۵ کال د جون د میاشتي له ۸ نېټي سره برابره ده په خپل پنځم مخ کي د ؛یوې زړې انګلیسي ښځي خپله شتمني سپیانو ته وبخښله؛ تر عنوان لاندې لیکلي دي:

یوه شتمنه زړه انګلیسی ښځه په باوری کي خپله یو میلیون او دوه سوه زره پونډه شتمني سپیانو ته وربښوده، د (سان ماریون هی ووډ) ورځپاڼي په رپورټ د مانجسټر له اوسېدونکي د وارث د درلودلو سره  سره هم په خپلې شخصي ارادې او میل سره د سپیانو خیریه بنسټ ته مراجعه وکړه او خپله ټوله شتمني یي د دې بنسټ په نوم کړه چي سپیانو ته د خدمت رسوني په لاره کي یې ولګوي.

مېرمن (هی ووډ) په پای کي د زړه ناکامۍ له امله مړه شوه او د نوموړي له مرګ نه وروسته د هغې وارثان چي دوه ورونه او یوه خور ول، د هغې د دغه کار ځخه په خبرېدو سره سخت خپګان ولید او ویرمن شول.

د هغې درې پنځوس کلنه خدمتګاره چي (جولیا مورک تروید) نوم لري د رسام ورځپاڼي ته وویل چي نوموړي له خپلو کورنیو ځخه بېزاره وه او یوازې ځاروي د هغې کورنۍ ول.

**صدها چراغ دارد و به بیراه می رود**

**بگذار تاکه افتد و بیند سزای خویش**

ژباړه:

**چي سل ځراغونه لري مګر بي لارې درومي**

**پرېږده چي وغورځي او خپله سزا وګوري**

**د ښوونځي، مدرسي او پوهنتون په برخه کي**: د اسلام په سپیځلي دین کي ښوونکی، ښوونځی، درسي وسایل او زده کوونکي د ډېر لوړ ارزښت لرونکي دي، د قرآن لومړنی آیت د اسلام پیغمبر ته په لیکلو او لوستلو امر وکړ.

الله (ج) په قلم او هغه ځه باندې چي لیکل کېږي قسم یاد کړی دی چي د قلم او لیکلو ارزښت په ښه توګه درک کړي، عظیم الشان قرآن بیانوي، چي عالم او جاهل انسان برابرېدای نشي، حضرت رسول (ص)د علماؤو، پوهانو، استاذانو او ښوونکو او زده کړیالانو او ټولو زده کوونکو د مقام په اړه ډېر حدیثونه بیان کړي دي، چي دا حدیث شریف له خروار ځخه د یو موټي په توګه د هغو ټولو نمونه ده.

حضرت کثیر بن قیس (رض) فرمایي چي له ابی دردأ (رض) سره د دمشق په مسجد کي ناست وم، چي یو کس ورته راغی او ویې ویل چي ای زما باداره د رسول الله(ص) له ښار ځخه تاسي ته راغلی یم او زه کومه بله اړتیا نلرم؛ مګر

Download from: www.aghalibrary.com

دا چي له رسول الله (ص) څخه مي واورېدل چي ويي فرمايل: هرکله چي څوک د علم او پوهي د ترلاسه کولو لاره ونيسي؛ نو الله (ج) ورته د جنت له لارو څخه يوه لار پرانيزي، پرېښتي د علم د طلب کوونکو د رضايت لپاره خپل وزرونه غوړوي، د عالم انسان لپاره د آسمانونو او ځمکي مخلوقات او د اوبو په منځ کي کبان د مغفرت غوښتنه کوي، د عالم فضيلت، د عابد د فضيلت په نسبت د نورو ټولو ستورو په نسبت د سپوږمۍ د فضيلت په څېر دی، عالمان د پيغمبران وارثان دي او پيغمبرانو دينار او درهم په ميراث کي پرېښي نه دي؛ بلکي علم يې په ميراث پرېښی دی او هر کله چي څوک له علم څخه څه برخه واخلي؛ نو لويه برخه يې تر لاسه کړې ده.

ښوونکی د زده کوونکو معنوي مور پلار دی، حضرت امير المؤمنين علی بن ابی طالب (رض)فرمايي، چي:

(من علمنی حرفا فقد صيرنی عبدا)

يعني: څوک چي ماته يو ټکی را وښيي؛ نو زه يې خپل غلام وګرځولم.

د اسلام د سپيڅلی دين د دې لارښوونو په بنسټ زده کوونکي له خپلو ښوونکو سره اخلاقي اړيکه لري، هغوئ د خپلو والدينو په څېر ګڼي او له هغوئ سره انساني معامله کوي، خپلو زده کړو ته چمتو والی نيسي او کله چي له کوره را وځي؛ په دې فکر کي وي چي زه د خپلو اولادونو لخوا راووتلم او دننه ټولګي ته خپلو نورو اولادونو ته ورځم او په دې پلرني او مورني احساس سره دننه په ټولګي کي دې د زړه سوي او نرم چلند تل کوښښ کوي، چي د زده کوونکو يوه دقيقه وخت هم بې ځايه مصرف نشي او د هغوئ د وړتياوو د پرمختګ لپاره شپه او ورځ هڅي کوي، درسونه يې په داسي خوږوالي او ښکلا سره وړاندې کوي، چي زده کوونکي د درس په پوهېدو کي ستونزه و نلري.

بناءً دغه ايمان والا استاد تل کوښښ کوي چي هغوئ ته خپل درسونه په سم شکل ترتيب او وړاندې کړي، د هغوئ ستونزې حل کړي او د زده کوونکو له لوري نه د تېروتني په صورت کي هماغه معامله کوي، چي له خپلو اولادونو سره يې کوي او هېڅکله نه عقده مند کېږي او د اسلام په سپيڅلي دين کي د زده کوونکي او ښوونکي تر منځ د اړيکي معيار تل معنوي اړيکه ده.

ايمان والا انسان شپه او ورځ د خپلو زده کوونکو په خدمت کي وي. د هغوئ پوښتنو ته په پراخه تنده ځواب ورکوي او هېڅکله د ستړيا احساس نه کوي. هر کله چي د ورځي په اوږدو کي ورته له ټولګي څخه بهر پوښتنه پيدا شي؛ هره شېبه کي چي غوښتي يې وي؛ ځواب ورته ورکوي. هغه محترم استادان مي په ياد دي چي هغه مهال چي موږ زده کړيالان وو، موږ ته يې د خپلو ټيليفونو شمېرې راکولي چي د علمي اړتياؤو پر مهال ورسره د اړيکي په نيولو سره ستونزه مو حل کړو.

ايمان والا استادان هېڅکله بدګټنه نه کوي او د زده کوونکو وخت بې ارزښته نه بولي، د اداري، لوړو مقاماتو له خارني نه پرته خپلو درسونو ته حاضرېږي. خپل يوازنی څارونکی خدای (ج) ګڼي او همدا رنګه له ټولو ناسمو ګټه اخيستنو لکه رشوت او نورو څخه، چي کوونکی يې د خدای(ج) په لعنت نيول کېږي؛ ځان ساتي.

د آزموينو پر مهال يې هم موقف ډېر دوستانه وي، هېڅکله له هغوی سره د يو دښمن په څېر، عمل نه کوي او له عاجز کوونکو سوالونو او کمزوري کوونکو اسلوبونو څخه ګټه نه اخلي او په خپل دغه روش سره هم له تيوريک او

Download from: www.aghalibrary.com

هم له علمي نظره د يو دښمن په څېر برخورد نه کوي؛ بلکي روش يې له اولادونو سره د روش په څېر وي، د زده کوونکو لپاره يې پرکټيک د مثال يوه نمونه او بېلګه وي.

برعکس هغوئ چي له ايماني خوندونو څخه برخمن نه دي، د هغوئ پر وړاندې بنسټيز معيار ماديت دی او خپل هر حرف د مال او متاع په مقابل کي محاسبه کوي او د هغوئ زده کوونکي هم له هغوئ سره د سوداګرو او دوکاندارانو په څېر معامله کوي، چي په داسي حالاتو کي علم او پوهه د انسان د سعادت او نېکبختی پر ځای، د شخصي او فردي خواهشاتو لپاره د وسيلي په توګه استعمالېږي او په پايله کي که داسي خلک اختراع او توليد هم ولري؛ د بشريت په ګټه نه؛ بلکي تل به د بشريت پر خلاف کارول کيږي.

ايمان والا او با اخلاقه زده کوونکي له استادانو سره په تعامل کي اخلاقي ارزښتونه په پام کي لري. خپلو استادانو ته د پلرونو په څېر درناوی کوي. د خپلو الفاظو په کارولو کي آداب او اخلاق مراعت کوي، تل له هغو چارو څخه چي د استادانو د ځوروني لامل کيږي پرهېز کوي دغه زده کوونکي د ښوونځئ، مسجد، پوهنتون او د هري علمي مؤسسي په حرمت باندې پوهېدلي. خپله موخه يي چي د علم او پوهي لاس ته راوړل دي درک کړي، له بې ځايه حرکاتو لکه د ناپوهه انسانانو څخه ځان لرې کوي.

هغوئ ټيليفون او موبايل د انسانانو د اړتياؤو د رفع کولو وسيله ګڼي لکه: بد اخلاقه ځوانان چي په لارو او کوڅو کي د موبايل له لارې مبتذلي موسيقی اوري او د نورو د ځورولو لامل ګرځي، له دې وسايلو څخه منفي ګټه اخلي.

ايمان والا او نېک خويه ځوانان د کورنی عالي روزني پر بنسټ هېڅکله علمي او تحصيلي مؤسسو ته د تفريحګاؤو فکر نه کوي او د مبتذلو جامو له اغوستلو څخه ځان ساتي.

همدارنګه د نامحرمو د ليدلو پر مهال خپله خور او مور په پام کي نيسي او له هېڅ چا سره ناوړه معامله نه کوي.

### د ښوونځي، پوهنتون او تحصيلي مؤسسي په دننه کي

ځوانان خپل شخصيت د علم او پوهي، د عالي اخلاقو د نمرو په اخيستلو، د پوهنتون ټولو کارکوونکو ته په درناوي کولو سره ښئي او په دې ډول ټول د دغو ځوانانو ښې راتلونکي ته هيله من کيږي؛ ځکه يوازې با اخلاقه (نېک خويه) او د پوهي څښتنان ځوانان دي چي په راتلونکي کي خلکو، ټولني او د اسلام سپيڅلی دين ته د خدمت مصدر وګرځي.

### د قانون او دولت په برخه کي

د يو هېواد په قانوني او دولتي جوړښت کي د ايمان ونډه د ټولني د افرادو او قشرونو ترمنځ د برابری په بنسټ وي، الهي قانون په لومړي پړاوکي انسان ته د يو با ارزښته مخلوق په حيث کرامت ورکړی دی:

(وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ).

دغه انساني کرامات له قومي، نژادي، ژبني، قبيلوي او جنسي توپيرونو پرته په پام کي نيول شوي دي.

Download from: www.aghalibrary.com

او د اسلام له ليد لوري نه د انسانانو روزنه په تقوا او نورو ته د خير رسولو په بنسټ وي. د اسلامي نظام تر ټولو بنسټيزه قانوني برخه د عدالت په مراعت کې ده؛ ځکه هغه قانون چې انسانانو ته کرامت ورکړي، بيا په تقوا سره روزنه معيار وګرځوي او اقرار پرې وکړي او دولت عدالت پر تطبيق حکم وکړي، په ټولنه کې د آرامی لامل ګرځي.

قانون+عدالت=امنيت

نن ولې زموږ په هېواد کې امنيت نشته؟ لامل يې د عدالت کموالی دی، شتمن د اسلام د اقتصادي نظام پرځای د کپيټاليستي نظام د پلي کيدلو له امله ورځ په ورځ لا ډېر شتمن او چاغېږي او غريبان او ناتوانه خلک ورځ په ورځ لا پسي غريب او ضعيفېږي او که چېرې دا نظام په همدې سيستم دوران وکړي؛ نو داسې ورځ به راشي چې د غريبانو او مسکينانو اولادونه به له پوهې او علم، کار او دندې نه هم محروم کړل شي. د هندوستان په هېواد کې چې ۵۲ مليونران لري، داسې خلک هم شته چې په کثافت دانيو کې ليکې جوړې کړي او د هوټلونو پاتې شونو ته په تمه دي.

### په نړۍ کې ولې امنيت نشته؟

د دې لپاره چې په نړۍ کې هم عدالت نشته، د بشريت تر ټولو خطرناک دښمن چې د اسرائيلو صهيونيستی نظام دی، او ټل دولتي تروريزم تطبيقوي د سترو ځواکو دولتونو له خوا يې ملاتړ کېږي. دغه تروريستي هېواد حق لري چې اتومي وسلې جوړې کړي، ولې ډېر نور هېوادونه حق نلري چې حتی له اتومي انرژۍ څخه د هغې په سوله ايز ډول هم ګټه واخلي.

## د دوهم څپرکي پوښتنې:

### الف: تشريحي پوښتنې:

۱.د اسلام تعريف چې په حديث جبريل کې ذکر شوی دی؛ وليکئ؟

۲.اسلام د درې پوښتنو له سم ځواب څخه عبارت دی؛ هغه درې پوښتنې وليکئ؟

۳.د ايمان او اسلام تر منځ د توپير په اړه خپل معلومات وليکئ؟

۴.په آسماني اديانو کې د عقيدوي وحدت (يووالي) په اړه خپل معلومات وليکئ؟

**ب: سمې او غلطې پوښتنې:** سمې پوښتنې په (ص) او غلطې پوښتنې په (غ) سره نښه کړئ:

۱- اسلام له ايمان نه پرته او ايمان له اسلام نه پرته ممکن نه دی.

۲-د اسلام ارکان عبارت دي: نېک عمل او په پرېښتو ايمان.

۳-د جمهورو علماؤو په نزد ايمان درې رکنه لري ۱- په ژبه اقرار ۲- د زړه تصديق ۳- عمل.

۴-جمهور محققين په دې آند دي، چې ايمان پنځه رکنونه لري.

**ج: خانه خالي پوښتنې:** د مبارکو آيتونو ترجمه وليکئ.

Download from: www.aghalibrary.com

۱. ان الدين عند الله الاسلام ۱۸ آيت د آل عمران سورت (........................)

۲. (و من يبتغ غير الاسلام دينا فلن يقبل منه و هو فى الاخرة من الخاسِرين)۸۵ آيت د آل عمران سورة (....................................)

## دریم څپرکی

## اسلامي نړۍ لید

**د څپرکي ښوونیزې موخې:**

- د اسلامي نړۍ لید په اړه د پوهي تر لاسه کول.
- په اسلامي نړۍ لید کې د فکري خط په اړه د پوهي تر لاسه کول.
- د اسلامي نړۍ لید په د موضوعاتو په اړه د پوهي ترلاسه کول.

**مقدمه:**

په دې څپرکي کې د نړۍ لید، د اسلامي نړۍ لید تعریف، په اسلامي نړۍ لید کې د فکري خط او د هغو د موضوعاتو په اړه بحث کېږي؛ همدا راز د اسلامي نړۍ لید د ځانګړتیا او په نورو نړۍ لیدو باندې د اسلامي نړۍ لید د غوره توب په اړه به معلومات وړاندې شي.

اسلامي نړۍ لید د یوې بشپړې نړۍ لید په حیث، د انسان د ژوند ټولې برخې په پام کې لري او حقیقتونو ته د رسېدو لپاره له ټولو وسیلو څخه ګټه اخلي؛ په دې بنسټ اسلامي نړۍ لید داسې تعریف کېدای شي:

**د اسلامي نړۍ لید تعریف:** د نړۍ په اړه له حس، عقل او الهي روح څخه په ګټې اخیستنې سره د یو مسلمان لید لوری اسلام نړۍ لید دی.

Download from: www.aghalibrary.com

**د اسلامي نړۍ ليد غوره توب:** اسلامي نړۍ ليد د يو لړ برترېو لرونكي ده چې په لاندې ډول يې بيانوو:

**الف:** اسلامي نړۍ ليدحقيقتونو ته د رسېدو لپاره د انسان په معرفت كي شاملي ټولي برخي لكه بدن، حس، عقل او وحی خپله وسيله ګرځوي.

په دې اسلامي نړۍ ليد كي د انسان پر مخ ټولي هغه دروازې خلاصي دي چې انسان يې د خپل توان په اندازه له هرې برخي څخه ګټه اخيستلای شي.


**ب:** دا نړۍ ليد د قوی دلايلو په وړاندې كولو سره د انسان ټولي تندې رفع كوي او انسان په نيمه لار كي نه پرېږدي؛ بلكي د لامحدود درک لپاره داسي وسايل وركوي چې دعقلي محدودې له دائرې څخه وځي او د وحی په واقعيت سره چې لامحدودات هم بيانوي، منګولي ښخي كړي دي.

**ج:** په دې اسلامي نړۍ ليد كي حس، علم او عقل ته زيات درناوی شوی دی چې مؤمن انسان كولای شي د خپل حس، علم او عقل له لارې ډېر حقيقتونه كشف كړي.

**د:** په اسلامي نړۍ ليد كي د هرې حسي، علمي او عقلي پديدې لپاره حد او پوله بيان شوی چې افراط او تفريط له منځ وړي؛ بناءً اسلامي نړۍ ليد د حقيقتونو په پېژندلو او د الله عزو جل وجود ته په رسېدو كي مشخص فكري خط لري.

## په اسلامي نړۍ ليد كي فكري خط

په اسلامي نړۍ ليد كي د انسان لپاره فكري خط وركړل شوی دی چې په هغي كي درې بنسټيز عناصر شتون لري:




**الف: په اسلامي نړۍ ليد كي د مادي ونډه(حس):** د اسلام سپېڅلی دين ماده حقيقتونو د انسان د نګه كولو د وسيلي په حيث مني او يو شمېر آيتونه د طبيعت واقعيتونه بيانوي. دا نړۍ ليد، طبيعت، خلک او ټوله مادي نړۍ لكه د (قرآن په ښېر مشاهده) بيان كړی دی او له هغي څخه ګټه اخيستل يې د هر مؤمن لپاره وړاندې كړې ده.

ولي اسلامي نړۍ ليد د حس په نيمګړتيا او نيمګړي وړتيا باور لري، د حقيقتونو د درک پر مهال د حس عاجز كېدو په صورت كي عقل ته رجوع كوي.

**ب: په اسلامي نړۍ ليد كي د عقل(انديښي) ونډه:** اسلامي نړۍ ليد عقل د انسان له خورا سترو شتمنيو څخه ګڼلي، او انسان ته يې د همدې شتمنی د لرلو له امله د نورو حيواناتو په نسبت غوره والی وركړی دی.

د (اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ)، (اَفَلَا تَتَفَكَّرُوْنَ)، (اَفَلَا تَتَبَدَّرُوْنَ) خطابات يې تل خپلو پيروانو ته بيان كړي چې له معقوليت، تفكر، تدبر او سوچ څخه ګټه پورته كړي، ډېرو حقيقتونو ته د رسېدو لپاره چې عقل د انسان ملګری دی؛ له دې شتمنی څخه ګټه پورته كړئ.

Download from: www.aghalibrary.com


ولې دا نړۍ لید پوهېږي چې د انسان عقل د امام شافعي رحمت الله علیه په وینا د یو حد او پولې لرونکی دی، چې بالاخره همدلته یې دنده پای ته رسېږي، نشي کولای له لازم حد څخه وړاندې لاړ شي، بناءً بل عنصر پیشنهادوي چې هغه د وحی عنصر دی. مؤمن انسان تل حقیقتونه په دقیق شکل مطالعه کړي او خپل ایمان هم له هغو سره سم عیاروي.

**ج: په اسلامي نړۍ لید کې د وحې ونډه:** د اسلامي نړۍ لید تر ټولو غوره والی د الهي وحې له نعمت څخه په ګټه اخیستلو کې دی؛ ځکه په ډېرو نړۍ لیدو کې یوازې حس او یا هم حسي تجربې، عقل او عقلي ادراکات زېربناء وي، چې د هغوئ پیروان او مفکرین په نیمه لار کې پرېږدي او په ډېرو مواردو کې چې حس او عقل یې له درک څخه عاجز پاتې کېږي، یا کاملاً بې لارېتوب ته تللي د افکارو لار اختیاروي او یا دا چې په عجیبو او غریبو تصوراتو سره نظر ورکوي.

اما اسلامي نړۍ لید د سوچ او عقیدې لاره بشپړوي دا چې له خپلو حسي، علمي او تجربوي شتمنیو څخه یې ګټه پورته کړه، عقل یې هم په پام کې درلود د ډېرو حقیقتونو د درک لپاره یې له عقلي شتمنۍ څخه ګټه واخیسته او هغه مهال، چې حس او عقل د ځینو حقیقتونو (په ځانګړي ډول غیبي حقیقتونو) له درک څخه عاجز پاتې شو؛ نو الهي وحې ته یې رجوع کوي او خپله تګلاره بشپړوي.

## د اسلامي نړۍ لید موضوعات

پخه اسلامي نړۍ لید کې لاندې درې بنسټیزې برخې شاملې دي




Download from: www.aghalibrary.com

**د درېم څپرکی پوښتنې:**

**الف: تشریحی پوښتنې:**

۱- اسلامي نړۍ لید تعریف کړئ؟

۲- په اسلامي نړۍ لید کې د فکری خط په اړه خپل معلومات ولیکئ؟

۳- د اسلامي نړۍ لید ځانګړتیا مختصراً ولیکئ؟

۴- په اسلامي نړۍ لید کې د وحې رول څه دی واضح یې کړئ؟

**ب: سمې او غلطې پوښتنې:** سمې پوښتنې په (ص) او غلطې پوښتنې په (غ) سره په نښه کړئ:

۱. اسلامي نړۍ لید له دوه موضوعاتو څخه بحث کوي: ۱- خدای پېژندنه ۲- طبیعت پېژندنه

۲. په اسلامي نړۍ لید کې عقل هېڅ رول نلري.

۳. د اسلامي نړۍ لید یوه برتری په هغې کې د وحې رول دی.

۴. یوه موضوع چې په اسلامي نړۍ لید کې تر بحث لاندې نیول کېږي انسان پېژندنه ده.

**ج:** خانه خالی پوښتنې:

۱- داسلامي نړۍ لید تر ټولو لویه برتری له ............. څخه ګټه اخیستنه ده.

۲- اسلامي نړۍ لید عقل د انسان ............... ګڼي.

Download from: www.aghalibrary.com

# څلورم څپرکی

## خدای پېژندنه

**د څپرکي ښوونيزې موخې:**

- د توحيد او خدای (ج)په اړه د پوهي تر لاسه کول.
- د خدای (ج)په وجود باندي عقلي او نقلي دلايل.
- د توحيد او شرک د ډولونو په اړه د پوهي تر لاسه کول.
- په ژوند کي د توحيد د ارزښتمنو اثارو او د شرک زيانونو او مفسداتو په اړه د پوهي تر لاسه کول.
- د شرک د منافذو په اړه او د شرک او بت پرستی د تاريخچي په اړه د پوهی تر لاسه کول.

### سريزه

په دی څپرکي کي د موضوعاتو په اړه: د خدای (ج) په وجود باندې عقلي او نقلي دلايل توحيد او د هغه ډولونه، په ژوند کي د توحيد ارزښتناکه آثار، د توحيد عناصر، مفاسد او زيانونه، د شرک او بت لمانځني لنډه تاريخچه، د شرک په منافذو او لارو به بحث وشي.

اسلامي نړۍ ليد چي بنسټ يي عظيم الشان قرآن جوړوی، د داسي خالق په شتون ايمان لري چي دغه نړۍ يي پيداکړې ده.

په اسلامي نړۍ ليد کي د تصادف په نوم کوم شی شتون نلري، ځکه انسان د خپل عقل په واسطه پوهېږي چي په نړۍ کي هېڅ شي نشي کېدای چي تصادف واوسي.

قرآن کريم، د انسان عقل، ساينس اوټکنالوجي، د معاصرو زده کړو کي د مختلفو څانګو علماء او پوهان د خدای (ج) په شتون باور لري.

Download from: www.aghalibrary.com

## د خالق په شتون باندې د قرآن عظيم الشان ګواهي

عظيم الشان قرآن چې وروستنى الهي كتاب دى د انسانانو د لارښوونې لپاره نازل شوى دى، دا چې د دغه ستر الهي كتاب موخه ايمان، قناعت، د لار موندلو لارښوونه، او د بشر نېكبختي ده، سره له دې چې عظيم الشان قرآن د عالميانو د پروردګار كلام دى ولېددې لپاره چې دا كتاب د بشريت د لارښوونې لپاره نازل شوى دى.

بناءً دلايل د انسان له عقل سره موافقت لري او دا چې عقل د انسان لپاره يو الهي نعمت دى، بناءً له هغه څخه ګټه اخيستل يې ستر حكمت بيان كړى.

قران كريم انسان ته دليل راوړي چې ځمكه، آسمانونه، د انسانانو پيدايښت، د ټولو مخلوقاتو پيدايښت هغه دليل دى چې هغوئ متعال خداى (ج) پيداكړي دي لكه الله(ج) چې فرمايي:

(إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنزَلَ اللّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِن مَّاء فَأَحْيَا بِهِ الأرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخِّرِ بَيْنَ السَّمَاء وَالأَرْضِ لآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ) (البقرة/۱۶۴)

**ژباړه:** يقيناً چې د آسمانونو اوځمكې په پيدايښت او يو په بل پسې د شپې او ورځې په راتلو او هغه كښتيو كې چې په سمندرونو كې په حركت كې دي، سره له دې چې خلك ورڅخه ګټه اخلي، او همدارنګه په هغه اوبو كې چې الله(ج)له آسمان څخه را نازل كړي او په وسيله يې مړه شوې ځمكه بيا له سره راژوندۍ كړه او په هغې كې يې هر ډول خوځېدونكي تيت كړه او همدارنګه د ورېځجنو بادونو په را الوزولو كې چې د ځمكې او آسمانونو تر منځ يې آرام كړى د هغه ډلې لپاره چې واقعاً فكر كوي نښې شتون لري.

په همدې ډول په قرآن كريم كې ډېر آيتونه شته چې ثابتوي چې هر مخلوق د واحد او لا شريک خالق په شتون باندې دليل دى ولې په خواشينۍ سره هغه كسان چې له خپل عقل نه انكار كوي د الهي قدرتونو له نښانو څخه منكرېږي.

### د خالق په شتون باندې د عقل شهادت

د عقل له ليد لوري ستره نړۍ (طبيعت) او كوچنۍ نړۍ (د انسان بدن) داسې يو خالق لري، چې ټول يې په خپل علم او قدرت سره پيدا كړي دي.

كله چې د دښتې له يوه اوسيدونكي څخه وپوښتل شول چې تاسې په كوم دليل د خالق په شتون باندې ايمان او اعتراف كړى دى؟ نوموړي د خپل عصر د هماغه دليل د معقوليت په لرلو سره بيان وكړ، چې كله زه دښتې ته ځم د قدمونو د آثارو په محض ليدو سره متيقن كېږم، چې څوک له دى لارى تېر شوى دى او كله هم چې د اوښانو وچ شوى فاضله مواد وينم نو پرته له شک نه باور كوم چې اوښان تير شوي دي او د همدى دليل له مخى كله هم چې اسمانونو او ځمكې ته ګورم له شكه پرته په دې باوري كېږم چې هماغسې چې ممكن نده چې د دښتې پر مخ پخوانى آثار يو تصادف وي او يا هم د اوښانو د فاضله موادو شتون په تصادفي ډول په دښته كې را پيدا شوي وي، نو همداسې ددى ټولو مخلوقاتو شتون هم ممكن نه ده چې يو تصادف وي بلكې هغه يو خالق لري چې په شتون يې له عقلي دلايلو سره سم ايمان لرم.

Download from: www.aghalibrary.com

## توحید

**توحید په لغت کې:** توحید مصدر دی چې د یو ګڼلو په معنی دی.

**توحید په اصطلاح کې:** په الوهیت او ربوبیت کې د الله(ج) یو بلل؛ او دا چې هغه د نېکو نومونو او لوړو صفاتو لرونکی دی.


**د توحید د زده کولو حکم:** د توحید زده کړه په هر نارینه او ښځینه مسلمان باندې فرض عین ده خدای (ج) فرمايي:

فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا اِلَهَ اِلَّا اللهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِکَ وَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَ اللهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَ مَثْوَاکُم (محمد/۱۹)

پوه شه چې په قطعي ډول له یو الله (ج) نه پرته هېڅ بل معبود شتون نلري د خپلو او مؤمنو ښځو او نرو د ګناهونو لپاره بخښنه وغواړه، خدای (ج) ستاسې له حرکاتو او سکناتو څخه په بشپړه توګه خبر دی.

### د توحید ډولونه

د قرآني او نبوي صلی الله علیه وسلم د احادیثو د لاربښوونوپه بنسټ توحید په بېلابېلو ډولونو وېشل شوی چې په دې پاڼو کې د توحید په اړه یوه برخه لرو.





**د ربوبیت توحید:** ربوبیت د رب د فعل مصدر دی او له همدې مصدر څخه د (رب) کلمه اخیستل شوې ده، په عربي ژبه کې د مالک، مصلح، روزونکی او هغه څوک چې له هغه څخه اطاعت کېږي په معنی دی.

**ربوبیت:** په افعالو کې د الله (ج)د یو والي په معنی دی. لکه پیدا کول، رزق او روزي ورکول، د چارو تدبیر، د ژوند احیاء (ژوندي کول) او مړه کول او نور کې مطلب دا چې مؤمن انسان هغه افعال چې په الله (ج) پورې اړوند دي یو ازې پېژندلی او څوک ورسره د هغه په افعالو کې شریک نکړي.

۳۷ مشرکان او یهود او نصارى او مجوس د ربوبیت په توحید باندې اقرار کړی او په پخوا کې له دهریانو نه پرته او په وسمهال کې (کمونستان) بل چا له هغه څخه نکار ندی کړی، او دا توحید انسان د اسلام دین ته نه ور دننه کوي او دويني او مال د عصمت او په آخرت کې د دوزخ له اور څخه د هغه د ژغورنې لامل نه ګرځي، مګر دا چې د الوهیت توحید په خپل زړه کې استوارکړي او دا توحید د انسان په فطرت کې ريښه لري.

**په الوهیت کې توحید:** په ټولو عباداتو کې د الله(ج) په یووالي باندې عقیده لرل یعني هر هغه څه چې عبادات نومېږي، صرف الله (ج) ته د الله (ج) په نوم او د الله(ج) پر وړاندې سرته ورسول شي.

Download from: www.aghalibrary.com




## د الوهیت توحید د ډولونو شرح

یوه له هغو ستونزو څخه چې د یو الله ج عبادت کوونکي انسانان ورسره مخ کېږي، د عبادت په ډولونو نه پوهېدل دي؛ ځکه ډېر خلک فکر کوي چې عبادت له لمونځ، روژې، حج او زکات څخه عبارت دی؛ بناءً دا عبادات د الله (ج) لپاره سرته سوي، او د پخوانیو امتونو ستونزه چې د توحید له دائرې څخه ووتل، همدا وه، ځکه هغوئ د عباداتو سمه وېشنه هېره کړې وه؛ مثلاً: د خالق په نسبت ډېر له مخلوق نه وېرېدل ولې برعکس وېره باید یوازې له خالق څخه و اوسي. او یا یې له مخلوق سره ډېره مینه درلوده، له هغوئ څخه ځینو د مخلوق دربار ته د دُعا لاسونه پورته کول، او یا یې هم خپل نذرونه او خپلې قرباني د هغه وخت د ښو شخصیتونو په نومونو لکه لات، مناء، او عزای ته وړاندې کول. مګر د قرآن او سنتو له لید لوري نه عبادات بنستونو ته منحصر نه دي، په دې بحث کې دعباداتو د ډولونو په اړه په لنډ ډول خبرې کؤو، ترڅو په دې حقیقتونو باندې په پوهېدو سره خپل عبادات یوازې د الله (ج) لپاره سرته ورسؤو.

۱)د زړه په عباداتو کې توحید: لومړی د انسان یکتا پرستي په ټولو عباداتو لکه:نیت، خوف، توکل، وېره او محبت کې.

۲)په مالی او بدنی عباداتو کې توحید: مثلاً: رکوع، سجده، حلاله، نذر، دُعا او نور.

۳)په تشریح او تقنین کې توحید: (د قوانینو په اطاعت او فرمانبرداری کې) لکه تسلیمېدل او د الهي قانون تطبیقول.

د الوهیت په توحید باندې د اعتقاد له جملې څخه په دې باندې اعتقاد چې یوازې الله (ج) د تحریم اوتحلیل صلاحیت لرونکی دی، ځکه د غیر د قانون منل، په حقیق دهغه معبود ګرځول دي بناءً هغه خلک چې خپلو امراؤ او علماؤ ته حق ورکي چې حلال او حرام ورته تعین کړي په حقیقت کې یې هغوي خپل معبودان ګرځولي دي خدای (ج) د خلکو د دغه ډلي په اړه فرمايي:

اتَّخَذُواْ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُم أَرْبَابًامِّن دُوْنِ اللهِ وَالْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَ مَا أُمِرُواْ اِلاَّ لِيَعْبُدُواْ اِلَهًا وَاحِدًا لَّا اِلَهَ اِلَّا هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ (التوبة/٣١)

**ژباړه:** هغوئ (یهود او نصاری) له الله (ج) نه پرته خپل راهبان او پوهان په خدایي نیولي [ځکه هغه څه چې به د هغوئ ته خپلو پوهانو او راهبانو حلال ګرځول، حلال یې ګڼل اوهغه څه چې هغوئ ته به یې حرام ګرځول، هغه به

Download from: www.aghalibrary.com

يي حرام ګڼل او په امر او نواهيو کې چې د الله (ج)له احکامو سره به مخالف ؤ، له هغوئ نه به يې اطاعت کاوه، په دې دول ؤ چې هغه څه چې د الله تعالى په کتابونو کې ؤ، هغه يې نسخ او له اعتبار نه ساقط کړل نو په حقيقت کې، دهغو کسانو په څېر شول چې له يو خداى (ج) نه پرته يې د ځان لپاره خدايان ونيول ځکه چې له علماؤو او راهبانو څخه يې داسې اطاعت وکړ لکه څنګه چې له خداى (ج) نه اطاعت کېږي (او همدارنګه نصارى) د مريم زوى مسيح (ع) (په خدايي ونيو او هغه يې خپل معبود وګرځاوه، دا تعبير دې ته نغوته لري چې يهودو هم «عزير» خپل معبود وګرځاوه. نن په اسلامي هېوادونو کې هم ډېر احزاب او اداري او ډېر رهبران او حاکمان په ټولنه کې د معبود رول ادا کوي او ځان خلکو ته د بت په مقام کې ګرځولى دى.] سره له دې چې يو خداى(ج) ته له عبادت کولو نه پرته په بل څه باندې مأمور نه ول.

## د اسماء او صفاتو توحيد

د اسماء او صفاتو توحيد عبارت دى له: په هغه څه کې د خداى (ج) يو ګڼل چې ځان يې په کتاب اوسنتو کې په هغه باندې وصيف کړى وي، يعني له تحريف او تعطيل نه پرته، د هر هغه څه تکليف او تمثيل چې هغه اثبات کړي وي، اثبات يې کړو. بناءً ويلاى شو چې د اسماء اوصفاتو توحيد عبارت دى له:

۱.دهغو نومونو اوصفاتو اثبات دى چې الله(ج) او رسول (ص) هغه د الله (ج) لپاره بيان کړي دي.

۲.د هر هغه نوم او صفت نفي دى چې په قرآن کريم او احاديثو کې ذکرشوي ندي.

۳.د دغو نومونو او صفاتو په معنا باندې اقرار.

۴. د دغو نومونو او صفاتو په تقاضا باندې ايمان لرل.

## د اسماء او صفاتو د توحيد شرطونه

په توحيد کې اسماء او صفات شرط دى چې په الهي نومونه او صفاتو باندې پرته له تحريف، تعطيل، تکييف، تمثيل څخه ايمان ولرو.

**تحريف:** له اصلي حالت څخه د يو شي بدلون دى او په دوه ډوله دى:

**۱.لفظي تحريف:** د يوې کلمې په حروفو او حرکاتو کې زياتوالى او کموالى دى؛ لکه په آيت شريف کې د استواى کلمې تغير په استوِى.

۲. الرَّحْمَنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوَى (طه/۵)

**۳.تحريف معنوي:** د يوې کلمې تغيرپه بله معنى باندې، لکه د ځواک او نعمت په معنى باندې د يد د کلمې تفسيرول.

**تعطيل:** نفي چې د يو صفت معنى ده؛ په بله معنى باندې د هغې له تبديلى نه پرته.

**تکييف:** د صفاتو د کيفيت بيان دى؛ مثلاً: ځينو منحرفين د يد او استوى د صفاتو کيفيت تشريح او توضيح کوي.

Download from: www.aghalibrary.com

تمثيل: د خالق صفات د مخلوق په څېر و نه ګڼو او تشبيه يي نکړو لکه چي خدای (ج) فرمايي:

فَلَا تَضْرِبُوْا لِلّٰهِ الاَمْثَالَ ...(النحل/۷۴)

**د اسماء او صفاتو د توحيد غوښتنه:** د اسماء اوصفاتو توحيد غوښتنه کوي چې په الهي نومونو کي درې بنسټيز اصول مراعات کړو.

**لومړی اصل:** د الله (ج) په صفاتو کي د هغه جلال او عظمت په پام کي ولرو؛ نو بناءً د خالق تعالی هېڅ صفت نيمګړی و نه ګڼو او د خالق صفات له مخلوق سره تشبه نکړو لکه الله (ج) چي فرمايي:

... لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَ هُوَ السَّمِيْعُ البَصِيرُ (الشوری/۱۱)

او د مخلوق په صفاتو باندې د خالق د صفاتو په څېر عقيده ونکړو، ځکه د خالق صفات بشپړ صفات، له زيانه پرته او کوم شي ته محتاج نه وي، اما د مخلوق صفات ناقص، وسايلو ته محتاج او نيمګړي وي.

**دويم اصل:** په الهي نومونو او صفاتو مکس وکړو، او يوازې په هغه څه باندې چي په قرآن اوصحيحو سنتو کي ثابت دي، عقيده وکړو، او له نومونو او صفاتو نه چي ثابت ندي ځان وساتو.

**درېم اصل:** د دغو صفاتو د کيفيت په پوهېدلو کي ډېر زير نشو، ځکه د خالق په صفاتو باندي پوهېدل د مخلوق له توان څخه بهر دي او په هغه شي کي تحقيق چي له توان څخه لوړ وي د ګمراهۍ لامل کېږي. لکه خدای (ج) چي فرمايي:

لَا تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ وَ هُوَ يُدْرِكُ الْاَبْصَارَ ..... (الأنعام/۱۰۳)

موږ د اسبابو په عالم کي ژوند کوو او د هر شي کيفيت د اسبابو له عالم سره په مقايسه کي مطالعه کوو په داسي حال کي چي د خالق صفات د اسبابو له عالم څخه پورته دی. د مخلوق ځيني له لفظي نظره د خالق د صفاتو په څېر دي ولي د معنی اوکيفيت له نظره په بشپړ ډول له يو نه توپير لري. خالق مهربان دی او مخلوق هم کېدای شي مهربان وي، ليکن د خالق د مهربانی او مخلوق د مهربانی تر منځ توپير ډېر زيات دی.

**په توحيد کي د ګمراهۍ لامل:** دلته پوښتنه مطرح کېږي چي ډېر کسان شته چي ادعا لري چي موحد (د يو الله عبادت کوونکي) دي، مګر هر کله چي د هغوئ عقيده له عظيم الشان قرآن سره پرتله کړل شي، د قرآني آياتو سره سم ورته موحد نه ويل کېږي، لامل يي څه دی؟ د دي پوښتني ځواب په دې ټکو کي بيان کېدای شي:

۱)قرآني آياتو نه پاملرنه چي توحيد اوشرک توضيح کوي.

۲)هغو قرآني کيسو ته نه پاملرنه چي د موحدينو او مشرکينو صفات يي بيان کړي دي.

۳)عقل د قرآن په نسبت مقدم ګرځول او په هغه باندې له توان څخه زيات اعتماد، په داسي حال کي چي يو مسلمان بايد خپل عقل بنسټ ونه ګرځوي، بلکي قرآن بنسټ وګرځوي، او له عقل څخه د قرآني آياتو په پوهېدلو کي ګټه واخلي.

۴)په هغو دروغجنو کيسو او رواياتو باندي باور چي د قرآن د صريحو آياتو او احاديثو مخالف وي.

Download from: www.aghalibrary.com

۵) په ضعيفو او موضوعي احاديثو باندې باور، هغه احاديث چې د حديثو په کتابونو کې بيان شوي دي چې دغه حديث نسبت په دروغو يا ناسم شکل سره پيغمبر (ص) ته ورکړل شوی دی.

۶)د تولني له ناسم فرهنگ او عادت څخه اغېزمن کېدل.

۷) مخلوق ته له حد څخه زيات عظمت ورکول او هغه د هغه صفاتو ورکول چې د مخلوق له صفاتو څخه نه وي او حتی د مخلوق لپاره عبادت کول.

۸)پيغمبرانو او شخصيتونو ته په افراطی شکل ثنا ويل.

## په اسلام کې د توحيد اهميت او مقام

- د توحيد د کلمې معنی په دې باندې اعتقاد، باور، تصديق، اقرار او اعتراف کول دي چې پر حقه معبود هغه ذات دی، چې د عبادت وړ او لايق دی او د دې اقرار لازمه بايد په افعالو،سلوک او ژبه کې ښکاره او څرگند کړل شي؛ نو د ربوبيت پر توحيد باندې اقرار د الوهيت د توحيد مستلزم دی او دا توحيد د ټولو انبياؤ(ع) دی او په همدې موخه د انسانانو د لارښوونې لپاره رالېږل شوي دي. لکه چې په قرآن کريم کې الله تعالی فرمايي:

وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِى كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولاً أَنِ اعْبُدُوا اللهَ وَاجْتَنِبُوْا الطَّاغُوْتَ .... (النحل/۳۶)

**ژباړه:** يقيناً چې په هر امت کې مو رسول رالېږلی چې د الله (ج) عبادت وکړئ او له طاغوت څخه ځان وساتی.)

## د توحيد عناصر

۱-اخلاص او بنده گي.

۲-له طاغوت څخه انکار.

۳- له شرک څخه پرهېز.

**لومړی عنصر:** اخلاص او بنده گي يوازي الله (ج) لره ده؛ لکه چې فرمايي:

قُل أَغَيْرَ اللهِ أَبْغِى رَبًّا وَ هُوَرَبُّ كُلَّ شَىْءٍ .....(الْانعام/۱۶۴)

**ژباړه:** ورته ووايه چې آيا له الله (ج) نه پرته بل پرودگار راوبولم په داسې حال کې چې هغه د هر شي پرودگار دی.

**دوهم عنصر: له طاغوت څخه انکار**

له ټول طاغوت څخه انکار او له هغو نه بېزاري چې د طاغوت عبادت يې وکړ او له هغوئ سره يې دوستی وکړه لکه چې فرمايي:

وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِى كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولاً أَنِ اعْبُدُوا اللهَ وَاجْتَنِبُوْا الطَّاغُوْتَ .... (النحل/۳۶)

**ژباړه:** يقيناً چې په هر امت کې مو رسول رالېږلی چې د الله (ج) عبادت وکړئ او له طاغوت څخه ځان وساتی.)

**درېيم عنصر: له شرک څخه پرهېز**

د شرک له ټولو ډولونو څخه پرهېز او د شرک د لارو بندول چې انسان د شرک لوري ته کشوي لکه الله (ج) چې په قرآن کريم کې فرمايي: ژباړه ( نو هر څوک چې د خپل پروردگار د ملاقات هيله لري غوره کارونه د وکړي او د خپل پروردگار په عبادت کې د هېڅ څوک نه شريکوي.)

Download from: www.aghalibrary.com

## په ژوند کي د توحید ارزښتناکي نښې

۱-د انسان حقیقي آزادي.

۲-د متعادل شخصیت رامنځته کول.

۳-د نفس د آرامۍ لامل.

۴-د برابرۍ او ورورۍ بنسټ.

## ۱- توحید د انسان د آزادي لامل

توحید په حقیقت کي له بنده ګۍ څخه د انسان ژغورونکی دی پرته د پروردګار له بنده ګی نه چي انسان یي په تر ټولو غوره صورت کي پیداکړ او دهغه عقل ته یي له خرافاتو او اوهامو څخه خلاصون وروباخښه او دهغه ضمیر یي له ذلت اوغیر الله ته له تسلیمۍ څخه راخلاص کړ او دهغه ژوند ته یې د وخت د فرعونیانو، طاغوت او دروغجنو خدایانو له تسلط څخه آزادي وروبخښله، هله هماغه ځایه دی چي د جاهلیت د وخت مشرک او طاغوتی رهبران د ټولو انبیاؤ د دعوت پر وړاندې په ځانګړي ډول د اسلام د پیغمبر حضرت محمد (ص) د دعوت پر وړاندې مقاومت ته را پورته شول، ځکه هغوئ پوهېدل چي (لا اله الا الله) د ټول بشریت د خلاصون د اعلان په معنی او د ټولو جابرانو او طاغوتیانو د نسکورولو د اعلان په معنی دی او دا ګواهي د مؤمنانو تنه داسي استواروي چي د عالمیانو له پرورد ګار نه پرته د بل هېڅ چا پر وړاندې سر نه ټیټوي.

## ۲- توحید د متعادل شخصیت د رامنځته کولو لامل

توحید د متعادل شخصیت په رامنځته کولو کي چي موخه یي په ژوند کي له نورو څخه جلا ده مرسته کوي. یکتا پرست انسان یو الله لري چي پټه یوازې توب ظاهر او ښکاره هغه ته مخ ور اړوي په ستونزمنو او آسانو حالاتو کي هغه رابولي. د هغوئ په خلاف چي خپل زړه په متعددو خدایانو وېشلی دی چي یوه شېبه الله ته مخ اړوي او نوري شېبې د بتانو په لوري دغه او هغه بل بت ته له همدې ځایه دی چي یوسف [ع] فرمایي:

یَا صَاحِبَیِ السِّجْنِ أَأَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُونَ خَیْرٌ أَمِ اللهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ (یوسف/۳۹)

**ژباړه:** ای زما د زندان ملګرو! آیا تیت او پرک معبودان غوره دي که واحد اوغالب خدای [ج]؟

## ۳- توحید د نفس د آرامۍ لامل

توحید د انسان نفس ته آرامي وربخښي او هغه وېره او بیماوډار چي پر کفارو باندې خوریږي پر هغه باندې خورېدای نشي، ځکه چي مؤمن او موحد انسان تل ټولي هغه لارې چي وېره ورڅخه را دننه کېږي پر ځان بندې کړې دي لکه اجل، خوف،وېره پر نفس او په کورنۍ اولادونو، له انسانانو، پېریانو او نورو څخه وېره. ځکه چي توحید او په الله تعالی باندې ایمان د هغه ټولي ستونزې حل کړي دي، نو هغه مطمئن او آرام دی ځکه هغه پوهېږي چي الله تعالی د مؤمنا ساتونکی او مرستندوی دی.

## توحید د برابرۍ او ورورۍ بنسټ

توحید د برابرۍ او ورورۍ ستن ده، ځکه د خلکو په ژوند کي ورورۍ او برابري چي له هغو نه ځیني باداران وي او ځیني نوریي غلامان وي هېڅکله تحقق نه منی، خو که ټول د الله [ج] بنده ګان وي نو په دې صورت کي د هغوئ تر

Download from: www.aghalibrary.com

منځ د وروروۍ او برابرۍ اصل تحقق مومي. له همدې امله د ټولو پيغمبرانو دعوت په ځانګړي توګه د اسلام د پيغمبر دعوت د ځمکې په مخ ټولو پادشاهانو او حاکمانو ته دا ؤ چې:

قُل يا أَهلَ الكِتابِ تَعالَوا إِلىٰ كَلِمَةٍ سَواءٍ بَينَنا وَبَينَكُم أَلّا نَعبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلا نُشرِكَ بِهِ شَيئًا وَلا يَتَّخِذَ بَعضُنا بَعضًا أَربابًا مِن دونِ اللَّهِ ۚ (آل عمران/۶۴)

## د شرک تعريف

**شرک:** د برخې او شريک د برخه لرونکي په معنی. شرک دادی چې څوک په کوم داسې شي کې چې يوازې د الله تعالی حق وي له الله تعالی سره مخلوق شريک وګرځوي. لکه د بت پرستانو، قبر پرستانو، مشرکينومجوسو او نورو............. شرک.

## د شرک ډولونه

۱- اکبر شرک

۲- اصغر شرک

۳- خفيه شرک

### اکبر شرک

اکبر شرک له الله (ج) نه پرته د نورو معبودانو عبادت کول او برابرول دي کيدای شي چې که دا معبودان لمر وي او يا سپوږمۍ وي، جماد وي لکه تيګه او بتان او يا ښاروي وي لکه غوا، خوسی او يا انسان وي لکه فرعون، نمرود او نور او يا نېکان اشخاص وي لکه انبياء عظام او اولياء کرام او يا غيبي پيدا شوي وي لکه ملائک، پېری او شيطان. لکه چې بېلابېل ملتونه پرې مبتلا دي او د الله تعالی مخلوقاتو ته په يو نه يو ډول عبادت کوي.

**د اکبر شرک کفاره:** الله تعالی د دغه ډول شرک کفاره توبه او استغفار فرمايلې او له دې نه پرته نه بخښل کېږي.

**اصغر شرک:** اصغر شرک له ريا څخه عبارت دی، د الله تعالی د دې قول په دليل ...

فَمَن كَانَ يَرْجُولِقَاءَ رَبَّهُ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًاوَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا (الکهف/۱۱۰)

**ژباړه:** نو هر څوک چې د خپل پروردګار د ملاقات هيله لري؛ نو بايد نېک اعمال سرته ورسوي او د خپل پروردګار په عبادت کې هېڅ څوک شريک نکړي. د اسلام پيغمبر(ص)په يو حديث کې فرمايي: تر ټولو بد شی چې په اړه يې ستاسې لپاره اندېښمن يم؛ اصغر شرک دی، له هغه څخه وپوښتل شول چې اصغر شرک څه شي دی؟ ويې فرمايل: ريا او ظاهر جوړول. هغه ورځ چې بندګانو ته د خپلو اعمالو د اجر ورکول کېږی الله تعلی رياکارانو ته وايي: د هغوی پر لوری لاړ شي چې په دنيا کې مو خپل اعمال ورته ښودل آيا د هغو پر نزد اجر او خير تر لاسه کولای شي؟

**د اصغر شرک کفاره:** د دغه ډول شرک کفاره توبه او اسفغفار ده.

### خفيه (پټ) شرک

د پټ شرک په اړه رسول الله (ص) داسې فرمايلي دي: په دې امت کې خفيه او (پټ) شرک لکه په توره تيګه کې د تور مېږي په څېر دی يعنې: هېڅ څوک ورڅخه خبر نه وي او هغه شتون لري. عبد الله بن عباس (رض) د دې ډول شرک نمونه داسې بيانوي: لکه څوک چې وائي:

Download from: www.aghalibrary.com

۱.( ماشاء الله و شئت) يعني که د خدای (ج) او ستا غوښتنه وي (لولا الله وفلان) يعني که الله او فلانی نه وای؛ نو داسي او يا هاسي به شوي وای.

۲.( او يا ووايئ د شيطان غوړونه دي کاڼه وي. ځکه چي لعين شيطان متصرف فی الامور ګڼي.

**د خفيه شرک کفاره:** رسول الله (ص) د دې شرک کفاره داسي فرمايلي ده:

{الهم انی اعوذ بک من ان اشرک بکه شيئا انا اعلم و استغفرک من الذنب الذی لا اعلم}

**ژباړه:** ای الله تا ته پنا دروړم له دې څخه، چي له تاسره شريک کړم هغه شی چي پرې پوهېږم او د هغې ګناه بخښنه غواړم چي نه پرې پوهېږم.

## د شرک دخفيه (پټوالي) لامل

۱) خلک ګومان کوي چي عبادت په لمونځ، روژه، زکات، حج، رکوع، سجده او دې ته ورته نورو پورې منحصر دی او استغاثه، فرياد او د قبرونو له اهل څخه استعانت (مرسته) غوښتل عبادت نه ګڼي، په داسي حال کي چي د عبادت روح اوجوهر دعا دی لکه رسول الله (ص) چي فرمائي:

(الدعا هوالعبادت)؛ يعني دعا عين عبادت دی.

۲)موږ دا مړي راغواړو او اتعقاد نلرو چي هغوئ زموږ خدايان دي؛ ولي هغوئ زموږ او زموږ د خدايانو ترمنځ واسطه دي. د هغوئ دغه دعوه په الله (ج) باندې د هغوئ له نا پوهی نه منشاء اخلي چي الله تعالی ته نږدې کېدل له واسطي او شيع نه پرته شوني نده، الله (ج) په قرآن کريم کي فرمايي:

وَإِذَا سَأَلَکَ عِبَادِی عَنِّی فَإِنِّی قَرِيبٌ ... (بقرة/۱۸۶)

يعني کله چي له تا څخه زما په اړه وپوښتل شي؛ نو زه نږدې يم.

## اسلام د شرک لارې بندوي:

۱- د نېکانو په اړه تېری.

۲- افراطي بد چلند

۳- د قبرونو تعظيم

## افراط اوزيادروي

د رسول الله (ص) په تعظيم کي افراط او ناروا وينا لکه چي فرمايي:

{ لا تطرونی کما اطرت النصاری عيسی ابن مريم انما انا عبد فقولوا عبدالله ورسوله} متفق عليه.)

يعني زما په ستاينه کي له حده زياته مبالغه مه کوئ لکه نصاراوو چي د مريم د زوی عيسی په مدح کي مبالغه وکړه، يقيناً چي زه د الله (ج) بنده يم؛ نو بناءً ووايئ د الله بنده او د هغه رسول.

قرآنکريم د پيغمبر(ص) تر ټولو شريف مقامات د بندګۍ په صفت ستايلی دی.

## د نيکانو اوپارسايانو په اړه زياتوالی

د هغو چارو له ډلي څخه چي اسلام ور څخه منعه کړې ده؛ د صالحانو او نېکانو په شان کي زياتوالی او تېری دی. لومړنی شرک چي د ځمکي پر مخ واقع شو؛ د نوح(ع)د قوم شرک و چي د نېکانو او صالحانو په حق کي تېری ؤ. لکه څنګه چي په صحيح بخاري کي له عبدالله بن عباس(رض) د هغوی له خدايانو لکه (ود، سواع، يغوث، يعوق، او

Download from: www.aghalibrary.com

نسر) په اړه راغلي: چې هغه د نوح(ع) د قوم د نېکو اشخاصو نومونه وو، کله چې هغوئ مړه شول، شیطان د هغوئ قوم ته وسوسه وروغورځوله چې د هغوئ مجسمې جوړې کړي، هغوی همداسې وکړل؛ مګر هغو مجسمو ته یې عبادت نه کاوه، د هغوی له مرګ نه وروسته (له نوی نسل نه د نېکانو) پوهه او علم هېر شو او وروستنیو نسلونو د هغو مجسمو عبادت پیل کړ.

## د قبرونو تعظیم

۱. د قبر مسجد ګرځول
۲. د قبر په لوري لمونځ کول
۳. د قبر لوړول
۴. د قبر اختر او جشن نیول

## د قبر مسجد ګرځول

امام مسلم روایت کوي، چې رسول الله (ص) له خپل رحلت نه پنځه ورځې وړاندې وفرمایل:

(الا إِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَانُوا يَتَّخِذُونَ الْقُبُورَ مَسَاجِدَ أَلَا فَلَا تَتَّخِذُوا الْقُبُورَ مَسَاجِدَ فَإِنِّى أَنْهَاكُمْ عَنْ ذَلِكَ .) رواه مسلم.

**ژباړه:** خبر اوسئ چې هغوئ چې له تاسي نه وړ او د خپلو انبیاوو قبرونه مسجد ګرځاوه پام! چې قبرونه مسجدونه ګرځوئ؛ نو زه تاسې ورڅخه منع کوم.

عن ام المؤمنین عایشه (رض) قالت:

(لعن الله الیهود و النصارى اتخذوا قبورانبیاءهم مساجد) متفق علیه

**ژباړه:**خدای لعنت د په یهودو او نصاراؤو باندې وي چې د خپلو پیغمبرانو قبرونه یې مسجدونه ګرځول.

## د قبر په لوري لمونځ

د مسلم په روایت کې راغلي چې رسول الله (ص) فرمایلي دي:

(لا تجلسوا على القبور ولا تصلوا الیها)

یعني نه پر قبرونو باندې کېنېنی او نه یې په لوري لمونځ وکړئ.

## د قبرونو لوړول

مسلم له علي (رض) نه روایت کوي چې:

{ان النبی صلی الله علیه وسلم بعثه و امره الایدع قبرا مشرفاالاسواه}

یعني پیغمبر (ص) هغه ولېږه او امر یې ورته وکړ چې هېڅ لوړ قبر پرې نږدي؛ مګر دا چې هغه له ځمکې سره برابر کړي.

## د قبرونو اختر او جشن نیول

ابو داود په مرفوع حدیث کې له ابو هریرة څخه روایت کوي چې پیغمبر (ص) وفرمایل:

{لا تجعلوا بیوتکم قبورا ولا تجعلو قبریعیدا فان صلاتکم تبلغی حیث کنت.}

Download from: www.aghalibrary.com

يعني خپل کورونه قبرونه مه ګرځوئ او زما قبر اختر مه ګرځوئ، په ما باندې درود راولېږئ؛ ځکه په هر ځای کې چې ياست ستاسي درود ما ته را رسي.

## د شرک مفسدات او زيانونه

١- شرک د انسان د تحقير لامل دی.

٢- شرک د خرافاتو لامل او ځاله ده.

٣- شرک د وېرو سرچينه ده.

۴-شرک ستر ظلم دی.

## شرک د انسان د تحقير لامل

شرک د انسان کرامت تحقيروي، په داسي حال کې چې الله تعالی انسان ته عزت ورکړی ټول هغه څه چې په ځمکه او آسمان کې دي هغه ته يې مسخر کړي دي، مګر انسان خپل قدر نه پېژني د هستی ځيني عناصر يې په خدائي نيولي او هغوئ ته خضوع کوي د انسان لپاره به له دې نه ستر سپکاوي او تحقير نور څه وي چې تر نن پورې لا هم په سل ګونو مليونه انسانان خوسکي ته د يو معبود په څېر عبادت کوي {العياذ بالله}.

## شرک د خرافاتو لامل او ځاله ده

هغه څوک چې له الله (ج) نه پرته په هستی کې بل مؤثر وجود ته اعتقاد لري، هغه د هر ډول خرافاتو منلو ته چمتو کېږي. په دې ترتيب د کاهنانو خبرې ته، عرافانو، ساحرانو او ستورو پېژندونکو خبرې، چې د غيب ادعا کوي په شرک ځپلي ټولنه کې په چټکی سره رواج پيدا کوي، په دې ډول ټولنه کې د پيدايښت سننو او لاملونو ته پاملرنه نه کېږي؛ بلکي په شرکي دم او دعاوو او خرافاتي او نامشروع تعويذونو، جادو، ټوټکو او دې ته ورته نورو باندې تکيه کېږي.

## شرک د وېرې سرچينه ده

شرک د وېرې سرچينه ده او په مقابل کې توحيد امن او آرامي دی؛ ځکه هغه خلک چې عقل يې خرافات ومني او په باطل او خرافاتو باندې عقيده وکړي له متعددو جهتونو نه وېرېږي، له دروغجنو خدايانو څخه وېرېږي او تل په وېره او ډار کې ژوند کوي. له هغو اوهامو او خرافاتو څخه وېرېږي چې هغه کاهنان او ساحران او معتقدين يې د خلکو تر منځ خپروي له همدې وجهي له کوم ظاهري لامل نه پرته بد شګوني، بدفالي او دهشت په شرک باندې ککړه فضاء کې نشر او خپرېږي.

## شرک ستر ظلم دی

لکه الله تعالی، چې فرمايي:

إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ (لقمان/١٣)

**ژباړه:** يقينًا چې شرک ستر ظلم دی.

Download from: www.aghalibrary.com

## د څلورم څپرکي پوښتنې

### الف: تشریحي پوښتنې:

۱- د الله (ج) پر شتون باندې یو عقلي دلیل ذکر کړئ؟

۲- د الوهیت توحید تعریف او په مثال سره یې واضح کړئ؟

۳- د اسماء او صفاتو شرطونه ولیکئ؟

۴- د شرک او بت پرستی لنډه تاریخچه ولیکئ؟

۵- د توحید ارزښتناکه نښې په څلورو ټکو کې خلاصه کړئ؟

۶- د شرک مفسدات او زیانونه ولیکئ؟

۷-د توحید د عناصرو نومونه واخلئ؟

**ب: سمې او غلطې پوښتنې:** سمه پوښتنه په (ص) او غلطه په (غ) سره نښه کړئ.

۱.د الوهیت توحید د الله (ج) په افعالو کې د الله (ج) په یووالي باندې له ایمان لرلو څخه عبارت دی.

۲.د شرک له زیانونو او مفسداتو څخه یو دادی چې شرک د خرافاتو سرچینه ده.

۳.توحید د نفس د آرامی لام گرځي.

۴.شرک او بت پرسي لومړی ځل د نوح (ع) په قوم کې واقع شو.

۵.د نېکانو په تعظیم کې غلو(د حد نه زیاتوالی) جواز لري، مګر د اولیاؤو په حق کې یې نلري.

### ج: خانه خالي پوښتنې:

۱- په مالی او بدنی عبادت کې توحید د ............ او نورو.....په څېر

۲- د اسماء او صفات توحید عبارت دی له ..........................

۳- تحریف د یو شي له .............. حالت څخه بدلون ورکولو څخه عبارت دی

۴- اکبر شرک عبارت دی له .......................................

Download from: www.aghalibrary.com

# پنځم څپرکی

## د کرامت، شفاعت او توسل د کلماتو تعریف

**ښوونیزې موخې:**

- د کرامت، توسل او شفاعت په اړه د پوهې تر لاسه کول.
- د کرامت، توسل او شفاعت په اړه د عقلي دلایلو په اړه د پوهې تر لاسه کول.
- د مشروع او نامشروع توسل په اړه د پوهې تر لاسه کول.
- د شفاعت د ډولونو په اړه د پوهې تر لاسه کول.

### سریزه:

په دې څپرکي کې به د کرامت تعریف، د کرامت او معجزې تر منځ توپیر، د کرامت هغه مثالونه چې په قرآن کریم او نبوي احادیثو کې ذکر شوي دي، توسل، مشروع او نامشروع توسل، د شفاعت د تعریف او ډولونو په اړه بحث وشي.

### ۱- کرامت:

لکه څنګه چې معلومه ده، معجزه یو خارق العاده امر دی چې د نبوت د مدعي له خوا د خپل حقانیت او رسالت د اثبات لپاره صادرېږي او ننګوني او تحدي ته نږدې وي او ټول خلک یې له سر ته رسولو نه عاجز او ناتوانه وي؛ اما د نورو عاداتو خوارق چې له تحدي او د نبوت له ادعا سره ملګري نه وي؛ مګر متعال خدای (ج)د خپلو دوستانو او د خپلو پیغمبرانو د رښتینو پیروانو او نېکو کارانو د مقام د درناوي او ستر ګڼلو لپاره خارق العاده چارې د هغوی په لاس جاري کوي، چې همدغه ډول خارق العاده چارې (کرامت) نومېږي. په ظاهر کې د کرامت حال غالباً له معجزو څخه په ټیټه کچه کې ځای لري، چې غالباً عمومي او هر اړخیزه جنبه نلري او د خلکو تر منځ نه خپرېږي.

په دې توضیحاتو سره د معجزې او کرامت تر منځ توپیر په ښه توګه څرګند شو او نور له یو بل سره ورته والی اوګډون نه پیدا کوي، ځکه هره خارق العاده چاره د خدای (ج) له لوري د نبوت او رسالت د اثبات موجب نه ګرځي مګر دا چې د نبوت او مبارزه طلبی سره ملګرې وي. ځکه هره خارق العاده چاره د خدای (ج) له لوري د نبوت او رسالت د اثبات موجب نه ګرځي، مګر دا د نبوت اوله ادعا او ننګوني سره یوځای وي.

### هغه کرامات چې په قرآن کریم کې ذکر شوي دي

Download from: www.aghalibrary.com

## الف- د کهف د اصحابو داستان

واقعه داسي وه چي د مؤمنانو یوي ډلي چي د ظالم باچا د ظلم له لاسه تنګ شوي و؛ پرېکړه وکړه چي وتښتي او له مجاورو غرونو څخه یي یوه ته پناه یووړه. خدای(ج) د دري سوه او نهو(۳۰۹) کلونو لپاره پر دوئ باندې خوب راوست، بیا یي هغوئ له سره ژوندي او له دغه اوږده او غیرعادي خوبه یي راویښ کړل، دا پېښه د انسان له نظره یوه غیرعادي چاره او خارق العاده حسابېږي.

اما خدای (ج) دغه پرهېزګاره او یکتا پرست ځوانان د خپل درناوي او لطف وړ وګرځول، په داسي حال کي چي هېڅ یو یي د پیغمبرانو له ډلي څخه نه ول. قرآن کریم په پیل کي په اجمالیاتو مختصر ډول د هغوئ یادونه کوي او د کهف په سورة کي (۹- -۱۲) آیت پوري داسي فرمایي:

اَمْ حَسِبْتَ اَنَّ اَصْحَابَ الْكَهْفِ وَالَّقِيْمِ كَانُوا مِن آيَاتِنَا عَجَبًا۞ اِذْ أَوَى الفِتْيَةُ اِلَى الْكَهْفِ فَقَا لُوا رَبَّنَا آتِنَا مِن لَّدُنْکَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ اَمْرِنَا رَشَدًا ۞ فَضَرَبْنَا عَلَى آذَانِهِمْ فِي الْكَهْفِ سِنِيْنَ عَدَدًا۞ ثُمَّ بَعَثْنَاهُمْ لِنَعْلَمَ أَيُّ الْحِزْبَيْنِ أَحْصَى لِمَا لَبِثُوا أَمَدًا) (الكهف/۱- ۹)

یعني: ګومان دي وکړ چي د کهف او رقیم اصحاب زموږ له عجیبو او ریانونکو نښانو څخه ول، هغه مهال چي هغو ځوانانو غار ته پناه یووړه او ویي ویل: ای پروردګاره! موږ دي له خپل رحمت څخه برخمن کړه او موږ ته د ژغورني لار برابره کړه ... بیا موږ د هغوئ دعا قبوله کړه او د هغوئ پر غوږونو مو د څو کالو لپاره دخوب پردې وغوړولي.

بیا مو هغوئ بیرته را ژوندی کړل چي پوه شوه؛ یعني دا ښکاره شي چي له دوئ څخه کوم یوه د خپل خوب وخت غوره حساب کړی دی.

له دې ځایه مومو چي د قرآن کریم آیتونو دوه شیان په اثبات رسولي دي:

**لومړی:** د هغو یکتا پرستو ځوانانو له لوري د کرامت واقع کېدل.

**دویم:** د پروردګار قدرت ته په پام سره د نامتعارفو او خارق العاده چارو واقع کېدل، عقلاً شونی او ممکن کار شمېرلی دی؛ بیا په صادق خبر سره د هغه نکل کوي او هغه له ترتولو کم تردید نه پرته منل کېدونکي چار ګڼي.

## ب-د حضرت مریم رضی الله عنها کرامت

**ورځني خواړه یي د عبادت په محراب کي:** چي د انسان یا هېڅ بل مادي سبب نه پرته هره ورځ چمتو کېدل چي د ژوند مادي او محسوسو اسبابو او ابزارو ته په پام سره دا پېښه ناطبیعي، خارق العاده او د بشر له توان نه بهر دی، قرآن کریم د مریم علیه السلام په حق کي دغه الهي کرامت ته نغوته کوي؛ وایي:

فَتَقَبَّلَها رَبَّهَا بِقَبُوْلٍ حَسَنٍ وَ أَنْبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا وَ كُفَّلَهَا زَكَرِيَّا كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِندَهَا رِزْقًا قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّى لَکِ هَذَا قَالَتْ هَوَ مِنْ عِنْدِ اللهِ اِنَّ اللهَ يَرْزُقُ مَن يَّشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ) (۳۷/۳)

Download from: www.aghalibrary.com

**ژباړه:** نو بیا هغه یې پروردګار په نېکه قبلوني سره قبوله کړه او هغې ته یې نېک صورت ورکړ او زکریا ته یې وسپارله، هر کله چې به زکریا د مریم حجرې ته ورننوت؛ نو خواړه به ورسره موندل، ویې ویل ای مریمې! تا ته دا روزي له کوم ځایه راځي؟ هغې وویل چې دا د خدای (ج) له لوري راځي، په تحقیق سره چې الله (ج) هر هغه چاته چې وغواړي پریمانه روزي ورکوي.

یعني: خدای (ج) زکریا د هغې سرپرست جوړ کړ، هر کله چې به زکریا د هغې عبادت ځای ته ورننوت (پاک او زیات) خواړه به یې هغې سره موندل، مریم ته یې وویل: دا خواړه درته له کوم ځایه راځي؟ مریم وویل: د متعال خدای (ج) له لوري راځي، په تحقیق سره خدای (ج) هر چاته چې وغواړي بې حسابه روزي ورکوي.

**دوهم کرامت**: هغه مهال چې مریم علیه السلام احساس د زېږون درد احساس کړ، له کورنۍ نه لرې لاړه او د کورنۍ له کورونو نه د شرق په لوري یې په یو لېرې ځای کې خلوت اختیار کړ او د خرما د وچې اوبې مېوې ونې لاندې کېنېناسته، د پروردګار لطف او مرحمت یې مرستې ته راورسېد او ډېرې پېښې ورته ورپېښې شوې له هغې جملې څخه یوه دا چې کله به یې د خرما ډډ ته ټکان ورکړ نو نوې رسېدلې او مرښایسته او په لاس راتولې شوې خرما به ورته راغورځېدلې. په سورة کې فرمايي:

(فَنَادَاهَا مِن تَحْتِهَاالَّا تَحْزَنِی قَدْ جَعَلَ رَبُّکِ تَحْتَکِ سَرِیًّا (۲۴/۱۹) وَ هُزِّي إِلَیْکِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُساقِطْ عَلَیْکِ رُطَبًا جَنِیًّا) (مریم/۲۵)

یعني: د خرما ډډ وښوروه اوټکان ورکړه، تر څو نوې تازه او په لاس راتولې شوې خرما درته را وغورځېږي.

### د حضرت بي بي عایشې صدیقې رضی الله عنها کرامت

د اهل افکارو د ناروا تهمتونو پر وړاندې د ام المؤمنین حضرت عایشې صدیقې رضی الله عنها د بې ګناهۍ د اثبات لپاره د قران کریم د آیتونو نزول، د هغې له ډېرو سترو کراماتو څخه یو دی.

ځکه د متهم د برائت او بې ګناهۍ لپاره عادي طریقه د محاکمو او قضایي اورګانونو له لارې قاضي ته د کافي شواهدو او دلایلو د وړاندې کولو په وسیله میسر کېږي؛ مګر که صراحتًا د وحي او قرآن د آیتونو له لارې دا بې ګناهي ثابته شي، پخپله یو خارق العاده کار او د ام المؤمنین حضرت عایشې صدیقې رضی الله عنها د شان او عظمت نښه ده، چې دا ډول کرامات په قرآن کریم کې ډېر راغلي دي.

### هغه کرامات چې په نبوي احادیثو کې ذکر شوي دي

د پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم په احادیثو کې د پخوانیو امتونو د نېکانو اوصالحو خلکو ډېر کرامات ذکر شوي.

لکه چې د دې احادیثو زیاتوالی او صحت دهغوئ واقع کېدل قطعی او انکار نه کېدونکي ګرځوي.

**لومړی**: د پخوانیو امتونو د درې کسانو داستان چې له غرنۍ سیمې څخه تېرېدل تر دې چې د شپې په مهال یو غار ته ورسېدل هغه ته ور ننوتل ناڅاپه د غره د را غورځېدو له امله ډېره لویه تیګه راوغورځېده او دغار د وتلو لاره یې بنده کړه او هغوئ په لومه کې ولوېدل له دې نه پرته چې هر یو یې خپل نېک اعمال خدای (ج)ته واسطه وګرځوي او د

Download from: www.aghalibrary.com

خدای (ج) دربار ته دعا اوزارئ وکړې کومه بله لاره او چاره يي هم نه درلوده نو همامغه ؤ چي د خدای (ج) په نزد يي دعا قبوله شوه او ناڅاپه د الهي اقدس ذات په لطف او مرحمت سره سخته او ستره تيګه له ځايه لېرې کېږي او هغوئ روغ رمټ له غاره راوځي .... د حديث پای.

## ۲- شفاعت

له اسلامي عقيدوی اصطلاحاتو څخه يوه شفاعت دی چي احيانًا د عامو خلکو په منځ کي ورڅخه ناسم مفهوم اخيستل کېږي بناءً لازمه ده چي په دې اړه لږ رڼا واچول شي.

**د شفاعت تعريف:** په عربي ژبه کي شفاعت، د وساطت او منځګړيتوب په معنا دی او په آخرت کي يي اثبات د مسلمانانو اسلامي عقيده او په قيامت په ورځي باندې د هغوئ د ايمان برخه ګڼل کېږي.

البته په دنيا کي هم شفاعت شتون لري، اما له هغه څخه موخه د خدای (ج) په دربار کي د يو ژوندي کس په واسطه د بل کس د حاجت د پوره کولو لپاره يوازې دعا او غوښتنه ده. له دې امله د شفاعت کوونکي له مړيني وروسته د هغي واقع کېدل شوني ندي او يوازې د آخرت په عالم کي واقع کېږي.

### د شفاعت ډولونه

په آخرت کي شفاعت په دوه ډوله دی:

**لومړی:** عظمی شفاعت يوه ځانګړتيا ده چي رسول اکرم صلی الله عليه وسلم ته ځانګړی دی او همامغه امتياز او ځانګړتيا ده چي په قرآن کريم اوحديث شريف کي د (مقام محمود) په نوم ورڅخه يادونه شوې ده.

عَسَى أَن يَّبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُودًا (الاسرا/۷۹)

يعني: هيله ده چي ستا پروردګار به تا د محمود مقام (د ستايني وړ) مقام ته وټاکي، چي د قيامت په ورځ د پروردګار په وړاندې له همامغه شفاعت څخه عبارت دی ترڅو الله تعالی د حشر د ميدان د منتظر او سرګردانه مخلوقاتوتر منځ قضاوت پيل کړي او هغوئ د هغي ورځي سختي ورځي له انتظار، زحمت اووېرېونکی حالت څخه وژغوري، خدای (ج) هم د هغه شفاعت مني او حاسب پيلوي او د مخلوقاتو تر منځ قضاوت پيلوي.

**دوهم:** عام شفاعت دی چي د هغو ګنهکارو مؤمنانو له شفاعت څخه عبارت دی، چي د دوزخ مستحق شوي دي تر څو يې الله تعالی له تېروتنو څخه تېر شي او جنت ته د ننوتلو وړ وګرځي او يا د هغه د عذاب کيفيت او په دوزخ کي يې د موده کي کموالی راشي دا ډول شفاعت رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ځانګړی؛ بلکي له سربېره د ټول انبياوو، اولياوو، صالحانو، شهداوو او پرښتي هم اجازه لري، چي د يوې برخي ګنهکارانو شفاعت وکړي.

### د شفاعت شرطونه

بايد يادونه وشي چي د قيامت په ورځ شفاعت په درې طريقو باندې مشروط دی:

**لومړی:** شفاعت کوونکي ته د پروردګار اجازه او اذن.

Download from: www.aghalibrary.com

**دوهم:** د مشفوع لهُ په اړه د پروردګار رضایت او موافقت.

**دریم:** د هغه چا مسلمان او موحد توب د چا لپاره چې شفاعت کېږي.

قرآن کریم لومړی شرط ته په اشارې سره فرمایي:

...مَن ذَ ا الَّذِی یَشْفَعُ عِنْدَهُ اِلَّا بِاِذْنِهِ ....(البقره/۲۵۵)

**ژباړه: ...**څوک دی چې د هغه په نزد؛ مګر د هغه په اجازه شفاعت وکړي او... .

او د دوهم شرط په اړه هم فرمایي:

وَلَا تَنْفَعُ الشَّفَاعَتُ اِلَّا لِمَنْ اَذِنَ لَهُ .......(سبا/۲۳)

د هغه پر وړاندې هېڅ شفاعت ګټه نلري پرته له هغه کسانو څخه چې اجازه ورکړل شي او همداراز فرمایي:

...وَلَایَشْفَعُونَ اِلَّا لِمَنِ ارْ تَضَی ..... (الانبیا/۲۸)

**د دریم شرط په اړه:**

د قرآن کریم نصوص او نبوي سنت دلالت لري، چې الله تعالی یوازې د موحدو مؤمنانو لپاره، د شفاعت اجازه ورکوي، لذا د کفر او شرک اهل به له دې شفاعت څخه برخمن نشي.

لکه چې د کافرانو په هکله داسي وایي:

فَمَا تَنْفَعُهُم شَفَاعَةُ الشَّافِعِیْنَ (المدثر/۴۸)

**ژباړه:** شفاعت کوونکي د هغوئ حال ته ګټه نه رسوي.

همداراز رسول مقبول صلی الله علیه وسلم فرمایي:

(د هر پیغمبر لپاره مستجابه دعا وه اما د هغوئ هر یو له خپلودعاؤو څخه په ګټه اخیسته کې بیړه وکړه، پرته له ما نه چې خپله دعا مې د خپل امت لپاره د قیامت د ورځې ته ته ساتلې ده او دغه دعا به انشاء الله زما د امت هر فرد ته چې وفات شي او له الله (ج) سره یې کوم شی شریک کړی نه وي ور ورسیږي.

**توسل**

**تعریف:** توسل په لغت کې د یو بل شي په وسیله او واسطه سره یو شی دی.

اما په اصطلاح کې توسل عبارت دی له: د اطاعت په سرته رسولو اود منکراتو په پرېښودلو سره د الله (ج) دربار ته نږدېوالی دی، لکه امام راغب اصفهانی چې په در مفردات القرآن کې وایي:

(د الله (ج) دربارته د توسل حقیقت په علم او عبات او د شریعت د مکارمو په پلټني سره د هغه د لارې له وهلو «لټولو» څخه عبارت دي).

Download from: www.aghalibrary.com

## د توسل ډولونه

قرآن او سنتو ته له مرجعي او د پيشوايانو او د اسلام د برجسته علماؤو د رأيو او نظرياتو له کره کتني او د معتبرو او معتمدو اسلامي مذاهبو په ځانګړي ډول حنفي مذهب له مطالعي نه وروسته، کولای شو توسل په دوه عمده ډولونو باندې تقسيم او خلاصه کړو:

## مشروع او نامشروع توسل

**۱- مشروع توسل**: مشروع توسل، هغو چارو ته توسل دی چي د مشروعيت او جواز لپاره يي په کتاب الله او د رسول صلی الله عليه وسل په سنتو کي دليل شتون ولري. لکه:

**الف**: له صفاتو اواسما سره د الله (ج) دربار ته توصل:

مثلاً الهي دربار ته مخ واړوي او ووائي: تا ته ستا په رحمت احسان او عظمت سره سوال کوم چي حاجت مي راته پوره کړه. لکه چي پخپله پروردګار فرمايلي دي چي:

(وَ لِلهِ الْأَسْمَاءُ الحُسْنَى فَادْعُوهُ بِهَا) (الاعراف/۱۸۰)

خدای (ج) د تر ټولو غوره نومونولرونکی دی؛ نو هغه په هاغو نومونوباندې راوبولئ.

**ب**: د خپلو نېکو اعمالو په واسطه توسل:

د مثال په توګه ووائي: که ما فلان نېک کار ستا د رضا لپاره سر ته رسولی وي، نو د هغه په خاطر په ما رحم وکړه او اړتيا مي رفع کړه. لکه چي فرمايي:

يَا أَيُّهَ الَّذِيْنَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللهَ وَابْتَغُو اِلَيْهِ الْوَسِيْلَةَ ....(المائده/۳۵)

ای هغه کسانو چي ايمان مو راوړی له خدای (ج) نه و وېرېږئ او هغه ته د نږدې والی لپاره وسيله ولټوئ.

جمهورو مفسرينو له پورته آية څخه موخه، نېک اعمال ګڼلي دی او له هغي ډلي څخه امام ابو الليث سمر قندی ( په ۳۷۵ هـ کي وفات شوی) چي د حنفی مذهب له پېشوايانو څخه او په امام مهدي سره ملقب دی، د دې آيت په تفسير کي وايي:

يعني: په نېکو اعمالو سره د نږدې والي او فضيلت غوښتنه وکړئ، علامه زمخشری ( په ۵۳۷ هـ کي وفات شوی) د کشاف او امام نسفي په تفسير کي، په تفسير مدارک کي، هم وسيله په نېکو اعمالو او د منکراتو په پرېښودو سره تفسير کړی دی. امام شهاب الدين محمود آلوسي بغدادي ( په ۱۲۷۰ هـ کي وفات شوی) د حنفي مذهب ستر مفسراو مُفتی اعظم په روح المعاني تفسير کي په خپل وخت کي د پورتني آيت په برخه کي ليکي: وسيله د فعليه په وزن سره، يعني هغه څه چي په واسطه يې خدای عز وجل ته د اطاعت او د منکراتو په پرېښودوسره توسل او نږدې والی رامنځ ته شي.

Download from: www.aghalibrary.com

همدارنګه په صحیحین کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت شوی چې فرمایلي یې دي: په یوه باراني ورځ کې درې کسانو غار ته پناه یووړه، اما ډېر وخت لا نه ؤ تېرشوی چې یوه ډېره غټه تیګه د غره له سر څخه را ولوېده او دغار خوله یې بنده کړه او هغوئ د مرګ په خطر کې وغورځېدل، ځکه نو د هغوئ هر یوه په ترتیب سره، خپل یو نېک عمل چې پخوا یې سرته رسولي ؤو د خدای (ج) دربار ته وسیله کړ، خدای (ج)یې دعا قبوله کړه او هغه ډېره غټه تیګه دغار له خولې نه لرې شوه او هغوئ وژغورل شول.

## د ژوندي صالح شخص د دعا په وسیله توسل

لکه چې د یوسف (ع)ورونو پلار ته وویل:

قَالُواْ یَاأَبَانَا استغْفِرْلَنَا ذُنُوبَنَا إِنَّا كُنَّا خَاطِئِیْنَ (یوسف/۹۷)

ای پلاره! له خدای (ج) څخه زموږ لپاره بخښنه وغواړه، ځکه چې موږ خطاکار ؤو.

## نامشروع توسل

او هغه په هغه شیانو له توسل څخه عبارت دی، چې په کتاب الله او نبوي سنتو کې ورته دلیل شتون ونلري.

لکه: د انبیاوو، اولیاوو او صالحانو ذواتو په وسیله توسل ځای، یا مقام، یا حرمت، یا خاطر، یا برکت او یا د یې له کبله، چې په کتاب الله او سنت کې د دا ډول توسل لپاره هېڅ دلیل شتون نلري او سر ته رسول یې شرعًا حرام ګڼلی دی.

له امام اعظم ابو حنیفه رحمه لله عله علیه (په۱۵۰هـ کې وفات شوی) روایت شوی چې هغه ویلي دي:

لَا يَنبَغِي لأَحد أن يدعو الله اِلا به وأكره أن يقول: أسألک بمقعد العز من عرشک و أكره أن يقول: وبحق أنبائک ورسلک وبحق ألبيت الحرام:

یعني: هېڅ چا ته روا نده چې په بل څه سره خدای (ج) راوبولي، مګر په خپله په هغه سره. او زه داسي نه خوښوم چې څوک ووایی: تاته ستا په ځای، عزت، ستا د عرش په واسطه سوال کوم او زه دا مکروه اوبد ګڼم چې څوک ووایی: چې ستا په پیغمبرانو، ستا د انبیاؤ په حق او د بیت الحرام په حق باندې سوال کوم. امام محمد امین بن عمر بن عبدالعزیز په عابدین شامی (۱۲۵۱هــ کې وفات شوی) مشهور د "ردالمختار" په نوم حاشیه کې په:"الدرالمختار"باندې لیکلي او په فتاوای شامی باندې مشهور دی،د ابو حنیفه د دې جملی په تفسیر کې وایي: یعني یوازې دهغه په ذات و صفاتو سره.

امام شاه ولي الله دهلوي وايي: یعني ځینی خلک په دې باور دي چې خدای (ج) فرمان روا او مدبر دی؛ خو په ځینو بندګانو باندې یې د شرف او خلعت تاله غوړولي او هغوی ته یې په ځینو ځانګړو چارو کې ځانګړی تصرف توان ورکړی دی او د خپلو بندګانو په اړه یې شفاعت قبلوی هماغسي چې یو شاهنشا په هره سیمه کې یو کس د پادشاه په حیث ټاکي او له یو اندازه سترو چارو نه پرته، دهغه ځای د چارو نور تدابیر هغه ته سپاري. داسي وګڼی چې همدا تر نن پورې د اکثرو یهودو، نصاراؤو، مشرکانو او د محمد صلی الله علیه وسلم د امت دیوې برخي منافقانو ناروغي ده.

شهاب الدین محمد آلوسی په تفسیر روح المعانی کښ لاندې ایت په اړه لیکي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللهَ وَابْتَغُواْ إِلَيهِ الْوَسِيلَةَ (المائدة/۳۵)

وروسته له دې، چې وسیله په نېکو اعمالو سره تفسیروي؛ زیاتوی چې ځینو خلکو په دغه ایت سره صالحینو ته د استغاثې او د خدای (ج) او د بند ګانو ترمنځ د هغوئ وسیله ګرځول او خدای (ج) ته په هغوئ سره د قسم په ورکولو باندې استدلال کړی؛

Download from: www.aghalibrary.com

لکه داسې ویل چې بار الله! موږ تا ته په فلاني قسم درکوو چې زموږ حاجت پوره کړې او له هغوئ څخه ځینو له صالحو بندګانو څخه چې غائب وي او داسې وکړي او ګومان کوئ، چې دا کار د وسیلې د وړاندې کولو له امله دی او کله هغوئ له پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي، چې ګویا هغه به ویلې وي چې هرکله چې په تاسې باندې ستونزې غلبه وکړي د قبرونو اهل ته مراجعه وکړئ، یا د قبرونو اهل ته استغاثه وکړئ؛ دا ټول چې موږ ویل له حق نه په فارسنګونو واټن لري.

## د پنځم څپرکي پوښتنې

### الف: تشریحي پوښتنې

۱.د کرامت،توسل او شفاعت د کلمو تعریفونه ولیکئ؟

۲.د کرامت، توسل او شفاع نقلي دلایل ولیکئ؟

۳.د مشروع او نامشروع توسل په اړه خپل معلومات ولیکئ؟

۴.د کرامت څو مثالونه چې په قرآن کریم کې یې یادونه شوې وي؛ ذکر کړئ؟

۵.د عایشې (رض) د کرامت په اړه چې په قرآن کرم کې یې یادونه شوې معلومات ورکړئ؟

۶.د شفاعت شرطونه ولیکئ؟

۷.شفاعت په څو ډوله دی اوعظمی شفاعت تعریف کړئ؟

### سمې او غلطې پوښتنې:

۱-کرامت له انبیا (ع) څخه صادرېږي.

۲-هر نبي له نبوت نه وړاندې ولي دی او د کرامت څښتن.

۳-د مشروع توسل له ډولونو څخه یو د الله په اسما او صفاتو توسل دی.

۴- د نامشروع توسل له ډولونو څخه او قبرونو د اهل وسیله کول دی.

### ج: خانه خالي پوښتنې:

۱-د مریم (رض) کرامت دا چې ................................،

۲-د عایشې (رض) کرامت د قرآن کرم د آیاتو نزول ................... لپاره

۳-شفاعت په عربي ژبه کې شفاعت د ........................ په معنی

Download from: www.aghalibrary.com

**د څپرکي ښوونيزې موخې:**

- په اسلامي نړۍ لید کې د انسان پېژندنې په اړه پوهه تر لاسه کول.
- د انسان د اصلیت په ا ړه د پوهې تر لاسه کول.
- په قرآن کې د انسان د شخصیت په اړه د پوهې تر لاسه کول.
- په اسلامي نړۍ لید کې د انسان جوړونې په اړه د پوهې ترلاسه کول.

**مقدمه:**

د انسان د اصل په اړه بېلابېل نظريات شتون لري چې هرې يوې نظريې د خپل ليدلوري له مخې انسان تر مطالعې لاندې نيولی او انسان يې دغه او هغه خواته کش کړی. مګر د اسلام سپېڅلي دين ټول هغه منفی نظريات چې انسان ته له هغو سره نسبت ورکول کېږي، نفي کړي اوبيا د انسان اصل د قرآن له ليدلوري نه تر مطالعې لاندې نيسي.

**ماټيرياليستي نظريات(ماده پرستي):** ماټيرياليستي نظريې د انسان اصل ماده ګڼلې او ټل يې د انسان څېړنې په همدې مادي بنسټ وي.

هر کله چې انسان د دې نظريې پر بنسټ تر مطالعې لاندې ونيول شي، ښائي ډېر حيوانات تر انسانانو برترې حاصله کړي، ځکه چې په مادي چارو کې حتی ځينې حيوانات د انسانانو په نسبت ډېر ځواک لري مثلاً: که خوړل امتياز وي، حيوانات د انسانانو په نسبت ډېر خوراک کوي. که د انسان کمال د وزن په اوچتولو کې وي؛ نو مېږيان د خپل وزن پنځوس برابره وزن وړي، که ليدل کمال وي نو ځيني حيوانات تر واورې لاندې هم ليدل کولای شي او يا هم خورا لېرې واټنونه له وسايلو نه پرته ليدلی شي. که بوی کول کمال وي، ځيني حيوانات د شامې ډېر قوی حس لري او په بوی کولو سره کولای شي ماينونه او مخدره توکي په خورا سادګۍ سره کشف کړي، مګر داسې ډېر صفات په انسانانو ضعيف وي. که د سړو پر وړاندې مقاومت امتياز وي، نو ډېر شمېر حيوانات په تر ټولو سړو سيمو کې له کومو ګرمونکو وسايلو نه پرته ژوند کوي اويا هم په ډېرو سړو اوبو کې چې انسان پکې حتی د غسل کولو توان هم نلري، لامبو وهي.

ځيني ماټيرياليستان د انسان اصل له حيواناتو څخه ګڼي او بيزو او شمپانزۍ يې بنسټ بولي اوانسانان له د هغو يو پرمختللي شکل ګڼي او ځيني له دې نه هم پينه وړاندې تېروي او د انسان آوازونه د مرغانو له آوازونو څخه را اخيستل شوي بولي. په داسې کمزورو او سطحي نظرياتو سره انسان ډېر تحقيروي او د هغه عالي انسانی شخصيت په حيواناتو پورې تړلی بولي.

**ايډياليستي نظريات:** د انظريات انسان مختلفو ارواحو ته منسوبوي، انسان په مختلفو ډولونو لکه دعالي ارواحو څښتنان او د شريرو او بدو ارواحو څښتنانو ته نسبت ورکوي او په دې ډول ټيټې طبقې د حيواناتو په څېر په خپل خدمت کې ګوماري او له هغوئ سره ټل غير انساني معامله کوي. دا نظريات په هندوئيزم او صهيونستانو کې په ښه توګه تر مطالعې لاندې نيولای شي.

Download from: www.aghalibrary.com

**په قرآن کریم کې د انسان شخصت**

لکه څنګه چې وړاندې مو ولوستل چې د نړۍ فیلسوفانو چې اوړدې شپې یې تر سپېده داغ پورې بحث او تحقیق کړی دي، هریو د انسان په اړه عجیبو او غریبو نظریاتو ته رسېدلی دی.

یو انسان د شادیانو او چیمپانزیانو پر مختللی شکل معرفي کړی دی، بل له انسان څخه منکر شو، ځلورم یې انسان د نورو حیواناتو په قطار کې ګرځولی او وروستي هم هغه د خپل عقل لام بللی او بالاخره د مولانا بلخي رومي په وینا

هرکسي از ظن خود شد یار من      وزدرون من نجست اسرار من

عظیم الشان قرآن انسان په ټولیز صورت سره معرفي کوي او انسان پوهوي چې هغه یو بې کاره موجود نه دی او یوازې یو مادی موجود یا محض عقلانی ندی، بلکې هغه داسې صفات لري چې په ډېرو حالاتو کې یې مقام او مرتبه له پرېښتو څخه هم لوړوي.

کولای شو د انسان قرآني شخصیت په لاندې ټکو کې تر مطالعې ونیسو.

**الف: د هغه اصل پیداېښت خورا پاک او سپېڅلی دی**: ځکه د آدم [ع] د مادی صورت له پیداېښت نه وروسته پکې پاک روح وپوکل شو:

فَإِذَا سَوَّيْتـُهُ وَنَفَخْتُ فِيْـهِ مِن رُّوحِي فَقَعُوا لَهُ سَاجِدِينَ (الحجر/۲۹)

**ژباړه:** کله مو چې هغه برابر کړاو خپل روح مو پکې پوکړ، نو سجده ورته وکړئ.

**ب: اشرف المخلوقات:** (د مخلوقاتو تر ټولو شریف): انسان د دې لپاره بل هېڅ مخلوقات ته د تسلیمۍ سر ټیټ نکړي او د دې لپاره چې په ځمکه کې د خدای[ج]ځای ناستی دی، د مخلوقاتو ترټولوغوره بلل شوی دی تر څو خپل دغه شرافت درک کړي او خپل د پروردګار له ذات نه پرته بل هېڅ چا او هېڅ شي ته ټیټ نکړي.

**ج: کرامت ورته ورکړل شوی دی**. په قرآن کریم کې راغلي دي:

وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْ آدَمَ .... (سورة الاسرا/۷۰)

**ژباړه:** انسان ته کرامت ورکړل شوی دی.

ټول مخلوقات د هغه په خدمت کې دي، حتی پرېښتې د انسان په خدمت کې دي، پیریان د انسان له خوړو نه پاتې شوني هډوکي خوري، د ځمکې د آبادۍ دنده انسان ته ورکړل شې ده او تر ټولو ستر الهي امانت چې عزیم الشان قرآن دی د انسان لپاره نازل شوی دی.

**د: انسان په ښکلي صورت کې پیداشوی دی**: متعال خدای [ج] فرمایي:

لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِيْ أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ (سورة التين/۴)

**ژباړه:** موږ انسان په ښکلي څېره کې پیدا کړی دی.

هرکله چې انسان ته ښه نظر وکړنو وبه ګورو چې انسان په ډېرښکلي صورت سره پیدا شوی چې د بدن ټول اندامونه یې د نړۍ د رهبرۍ لپاره چمتو دی. انسان د ښائسته ګوتو لرونی دی چې کولای شي ډېرې مهمې چارې په دې ګوتو سره سر ته ورسوي. د انسان فزیکي جوړښت د داسې لوړتیاؤو لرونکی دی چې د حیواناتو په نسبت په ځانګړې ښکلا سره جوړ شوی دی، تر ټولو زیات د انسان عقل، فکر، آند او علمي وړتیاوې په ټولو مخلوقاتو باندې د انسان لوړتیا اوښکلا ثابتوي.

**هـ:علم یې تر ټولو مهم زېور دی**: د پرېښتو تر منځ دانسان ارزښت هغه مهال خپل اوج ته ورسېد چې متعال خدای د انسان لومړی معلم شو او آدم [ع] ته یې چارې ورښودې.

Download from: www.aghalibrary.com

وَ عَلَّمَ آدَمَ الْاَسْمَاء كُلَّهَا ...... (البقرة/۳۱)

**ژباړه:** او آدم (ع) ته يې د شيانو نومونه ور وښودل.

پريښتو پرهغو له پوهېدو څخه دبې خبرئ اقرار وکړ.

قَالُوا سُبْحَانَکَ لاَ عِلْمَ لَنَا اِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا ...... ( البقرم/۳۲)

**ژباړه:** هغوئ وويل: تا په پاکی سره يادؤو موږ هېڅ پوهه نلرو مګر هغه چي تاسي موږ ته راښوولي ده.

وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُواْ لِآدَمَ ( البقرة/۳۴)

ژباړه: او کله مو چي پريښتو ته وويل چي آدم (ع) ته سجده وکړئ.

د انسان لپاره د احترامی سجدې په صورت کي د ملايکو احترام په حقيقت کي د هغه (انسان) مرتبه د ملايکو په ليدلوري کي خپل اوج ته ورسوله.

**و: انسان په ځمکه کي د خدای (ج) ځای ناستی دی:** خدای (ج) انسان په ځمکه کي د خپل ځای ناستي په توګه ګرځولی دی، تر څو د ځمکي پر مخ د الله (ج) ټول احکام هم پر ځان او هم پر ټولو مخلوقاتو باندې تطبيق او تنظيم کړي. دا تر ټولو ستر شرف دی چي متعال خدای (ج) انسانانو ته ورکړی دی.

**ز: د انسان دنده د ځمکي آبادي او د پروردګارعبادت دی:** د ځمکي آبادول د انسان ځانګړې دنده ده، ځکه ملايکي د لوړتيا غوښتني د قوې او نفس د نشتوالي په بنسټ نشي کولای چي ځمکه آباده کړي، بلکي انسان تل د لوړتيا هيلمه مند دی اوهره ورځ کوښش کوي چي د ژوند سيستم، شرکتونه، ټرانسپورټي، مخابراتي او تخنيکي وسايل لا نور هم ښه او ډېر جوړ کړي او همدارنګه حيوانات د عقل د نه لرلو په بنسټ نشو کولای چي ځمکه آباده کړي، ځکه هغوئ د خپل فطرت مطابق داسي ودانی جوړوي چي د ډېرو پيړيو په تېرېدو سره له يو بل سره فرق نلري او له خپل شعور سره سم له هماغه فطري مسير څخه پيروي کوي.

**ح: انسان با اختياره مخلوق دی:** د اختيارهغه امانت چي نورو مخلوقاتو ته بيان شو او هغوئ ونشو کولای چي دغه امانت په غاړه واخلي. انسان د دغه امانت متحمل شو.

**آسمان بار امانت نتوانس کشيد**

**قرعهٔ فال به نام من بيچاره زدند**

بناءً انسان د پورته مفهومونو په درک سره پوهېږي چي:

۱-هغه با هدفه مخلوق دی.

۲- د هغه پيدايښت هدفمند دی او هدف يې سپيڅلی. د هدف د وصول وسايل هم سپيڅلي دي.

۳- دنيا هغه وسيله ده چي د موټر په څېر د انسان لپاره پيدا شوې ده.

پخپله انسان هدف دی او د انسان هدف د خدای (ج) رضايت دی.

هماغه شان که يو شخص هدف لري چي هره ورځ خپلې دندې ته لاړ شي او د هدف منزل ته د رسېدو لپاره موټر پيري، دا موټر هغه وسيله ده چي هغه د هدف منزل ته رسوي هر کله چي موټر هدف وګرځوي نو تېروتنه کوي دنيا هم د همدې موټر په څېر وسيله ده. انسان خپل اصلي هدف ته چي د پرودګار رضا ده رسوي، دنيا بد شی ندی د دنيا يوساعت ژوند له ملينونو مليونه ډالرو څخه ډېر ارزښت لري واي چي: يوه ورځ له پوهانو څخه يو تن د آخرت په اړه خبرې کولې. دهغه له زده کونکو څخه يو تن، يوه اندازه پيسي واخيستي او څيرې څيرې يې کړې هغه پوه کس ورته وويل: ستا دغه عمل د اسلام ځانګړتيا نه تمثيلوي او د اسلام هدف هم دا ندی چي انسان له دنيا نه مخ واړوي بلکي

Download from: www.aghalibrary.com

زما هدف، له زړه څخه د پیسو مینه ایستل دی دا شتمني دې له زړه نه وباسه او په جیب کې دې کېږده او مصرف یې کړه.

۴- مؤمن انسان پوهېږي چې هغه کرامت والا انسان دی، نو پکار نده چې خپله دغه مکرمه څېره د بتانو، انسانانواو تیګو پر وړاندې ټیټه کړي هغو ته سجده وکړي. یوه ورځ حضرت عمر (رض) حجر الاسود ته راغی هغه یې مچ کړ او ورته یې وویل: چې ای توري تیګې! زه پوهېږم چې ته یوه توټه تیګه یې هېڅ ګټه یا زیان نشي رسولای او که پیغمبر (ص) مې نه وای لیدلای چې ته یې مچی کولې نو هېڅکله مې ته نه مچې کولې.

حضرت عمر (رض) د اسلامي عقیدې په پوهې سره پوهېده چې مسلمانان تیګې ته سجده نکوي، کعبې ته سجده نکوي. پیغمبر ته سجده نکوي.

ځکه هغ.وئ داسې مخلوق دی چې یوازې د ټولو مخلوقاتو خالق ته یې سجده جایز ده، مسلمانان حجر الاسود د پیغمبر د یوه سنت په توګه مچی کوي. په دې عقیده چې دا تیګه زیان او ګټه نشي رسولای، مسلمانان د کعبې په لوري د مسلمنانود قبلې په توګه مخ اړوی، ترڅو یې په لمنځونو کې ترتیب او تنظیم واوسي، ولې کعبې ته سجده نکوي، ځکه چې کعبه مخلوق ده. له خاورې او خټې نه جوړه شوې ده. یوازې د مسلمانانو د یو موټې جوړېدواو توحید رمز دی.

حدثنا محمد بن کثیراحبرنا سفیان عن الاعمش عن ابراهیم عن عباس بن ربیعه عن عمر(رض) جاء الی الحجر الاسود فقبله فقال انی اعلم انک حجر لاتنصر ولا تنفع و لو لا رأیت (ص) یقبللک (حدیث بخاری۴۹۴)

## په اوسني وخت کې د انسان ستونزه

د اوسنی نړی بنسټیزه ستونزه انسان جوړونه ده. د پوهانو د ویناوو پر بنسټ انسانان وتوانېدل چې د ماهیانو به نسبت په بهتره او غوره توګه لامبو ووهي او وتوانېدل چې آسمان ته له مرغانو نه ښه الوتنه وکړي او بالاخره وتوانېدل، چې پرمختللي وسایل جوړ کړئ، چې دا ستره نړی د یوه کوچني کلي په څېر جوړ کړئ ولې هغه څه چې ویې نشوه کړای چې جوړ یې کړي هغه خپله انسان دی.

د عظیم الشان قرآن لومړني موخه دانسان جوړونه ده، ځکه د ټول بشریت ستونزه هغه مهال اوج ته رسېږي چې انسانان ونشي کړای چې ځان جوړونه وکړي.

په نني عصر کې د نړئ ډېر هېوادونه د مادي وسایلو په اړه په ډېرو بحثونو او تحقیقاتو سره وتوانېدل چې ترټولو غوره وسایل کشف او د انسانانو د لاس رسي وړ یې وګرځوي. همدغه انسانان وتوانېدل چې دغه ستره نړئ د یوه کوچني کلي په څېر جوړه کړي اوله یوې غاړې نه یې بلې غاړې تته په ډېر سهولت سره نقل او حرکت وکړي. یو انسان کولای شي له خپل بل انسان ورورسره له ډېرو لرو واټنونو څخه په زرګونو کیلومترو واټن سره اړیک ټینګه کړئ او هره شیبه د نړئ له پیښو او خبرونو نه ځان په ډېره سادګۍ سره خبر تر لاسه کړي، ولې د هغوئ بنسټیزه ستونزه په دې کې ده چې هغوئ د ساینس او ټکنالوژئ په عصر کې دوه کارونه کړي دي:

۱-وسیله جوړونه

۲- په ځمکه او کهکشانونو کې د مادي برخو کشف.

**۱-د وسیله جوړونې برخه:** د اسلام له لیدلوري د بشریت د آرامۍ لپاره وسیله جوړونه ډېر ښه او ارزښتناکه کار دی؛ ځکه انسان د یو باکرامته انسان په توګه اړتیا لري چې له ډېرو عالي وسایلو سره ژوند وکړي او ډېر حقیقتونه له دغو وسایلو څخه په ګټه اخیستنې سره درک کړی او دا وسایل د انسان پېژندني، انسان جوړوني او بالاخره خدای پېژندني او انساني نړئ لید د پېژندني په لاره کې پکار واچوي.

Download from: www.aghalibrary.com

مګر زموږ د نني عصر ستونزه دا ده چې انسان د ډېرو عصري او ماډرنو وسايلو په جوړولو سره پخپله دغه وسايل وسيله نه بولي، بلکې همدغه په خپل لاس جوړ شوي وسايل يې موخه ګرځولې او د بت پرستانو په څېر يې ښېرته په خپل لاس د جوړوشويو وسايلو په عبادت پيل کړی دی، د انسان ارزښت يې ډېر کم ګڼلی او همدغو وسايلو ته د ځينو انسانانو د رسېدو په خاطر نن مونږ د مليونونو انسانانو د وژلو شاهدان يو. کله چې په يو هېواد کې تيل شتون لري، د دی هېواد خلک د خپلي دغه شتمنی لپاره هره ورځ بايد خپل ځانونه له لاسه ورکړي، ځکه نور شته دی چې غواړی دغو تيلو ته لاسرسی ولري. ځېنی خلک د خپلی خاوری لپاره هره ورځ په لسګونو مړه او ټپيان لري، ځکه د هغوئ خاوره د نورو خوښه شوی ده، هغوی مجبور دي چې يا خپل کورونه او وطن پرېږدي، او يا هم مړه شي او کورونه او هېواد يي د نورو تر واک لاندې راشي او هر کله چې وغواړي له خپل حق څخه دفاع وکړي، بيا هم دغه ځان خوښوونکي انسان، د خپل ځان په ګټه داسي يو قانون ترتيبوی چې هر (ظالم او غاصب پرمختللی، آزادی غوښتونکي، بشردوست، متمدن) بولي. برعکس هر مظلوم چې حق يې خوړل شوی دی، هېواد يې غصب شوی دی، ماشومان يي يتيمان شوی، مېرمنی يي کونډې شوي، لوڼي او خويندي يې د انسان لښکرو تر تجاوز لاندي راغلی، کورونه يي په بلډوزرونو او يا هم په خطرناکو بمونو الوزول شوی دی د (وروسته پاتی، تروريست، وحشي، جنايت کار او نورو) په نومونو نومول کېږي.

## نو ستونزه په کوم ځای کې ده؟

ستونزه په دې کې ده چې وسيله جوړه شوې، مګر انسان ندی جوړ شوی او بې چاره شاعر د خپل عمر په اوږدو کې ناري وهي چې:

**از ديوو دد ملولم و انسانم آروست.**

نن همدغه انسان د دا ډول انسان په څېر ژوند کولو ته حيران دی، د همدې ستونزي په بنسټ د کورنيو بنسټ مخ په نابودی دی، د مور او پلار احترام له منځه ځي، له يو بل سره ژوند کول هره ورځ زيان مومي، بل هر هېواد کې ګرځي،همدغه انسان بالاخره په داسي جناياتو لاس پورې کوي چې حتی حيوانات هم په دغسي يو جنايت نه مرتکب کېږي.

**گفت آن کس که می طلبی يافت نمی شود**

**آن کس که يافت می شود آنم آرزوست**

**۲- په کهکشان کي د کشف موضوع**: نن ټول انسانانان هره ورځ د مختلفو مادي چارو په وسايلو باندې په لاس بری کېدو کي وړاندې والی کړی دی. د تلسکوپ په جوړولو سره يې کهکشانونه وکتل، د مايکروسکوپ په جوړولو سره يې ذروي موجودات او ميکروبونه کشف کړل او د لېږديزو وسايلو په جوړولو سره يې ځانونه مريخ ته ورسول، مګر د انسانيت لپاره يې څه پيغام راوړ، اټومي جګړه، د ستورو جګړه او بالاخره د انسانانو ډله ايزې وژنې لکه د هيروشيما اوناګاساکي، لکه لومړی او دوهمه نړيواله جګړه او بالاخره د درېمې او خطرناکې نړيوالې جګړې انتظار، چې بنائي د جګړه ايزو وسايل پرمختګ د ټولو په نابودی سره پای ته ورسېږي او هم ښائي انساني قيامت.

حل لاره: د دغه ټولو بد مرغيو په منځ کې بيا هم الهي کتاب د دغه ټولو ستونزو د حل داسې يوه لاره وړاندې کړې او انسان لومړی د انسانيت لپاره پېژني او وروسته بيا د انسان جوړوني لپاره انسان ته برنامې وړاندې کوي چې موږ به په دې مبحث کې لومړی په همدې دوه موضوعاتو باندې خبرې وکړو: قرآني انسان پېژندنه، قرآني انسان جوړونه.

Download from: www.aghalibrary.com

## په اسلامي نړۍ ليد کې انسان جوړونه

د اسلام په دين کې د عباداتو بنسټيزه فلسفه لومړی انسان جوړونه او وروسته بيا ټولنه جوړونه ده. هغه عبادات چې د اسلام سپيڅلي دين بيان کړي، دهغوئ بنسټيزه موخه انسان جوړونه ده.

د اسلام دينه هماغه کار کوي چې د يو موټر د ترلاسه کولو لپاره يې يو انسان سر ته رسوي.

په موټر باندې پنځه پکاروني شوي تر څو موټر جوړ شوی دی.

۱-د معدن کشفول

۲-د معدن استخراجول

۳-د معدن ذوب کول

۴- قطعه جوړول

۵-د دې قطعو سره يو ځای کول

دين څه کارکوي، په انسان باندې هغه کار کوي، کوم کار چې موږ يې د يو موټر د چمتو کولو لپاره کوو:

۱- د معدن کشفول: لومړی دين انسان کشفوي، که دين نه وي نو موږ ځان ندی کشف کړي، مثلاً هغه څوک چې دين نلري، مختلف نظريات لري، يو يې وايي چې د انسان بنسټ شهوت دی، بل وايي يو اقتصادي موجود دی، بل بيا انسان د شاديانو او چمپانزيو اصل ته سپاري.

مګر هر کله چې دا نظريات په عاقلانه توګه تر بحث لاندې ونيسو، په ښه ډول پوهيږو چې دېرئ مادي نظريات نشي کولای چې د انسان لوړتيا په دې کې ومومي چې د نورو انسانانو په پرتله ډېر ځواک او توانائي لري، مثلاً: که خوړل امتياز وي نو حيوانات د انسانانو په پرتله ډېر خوراک کوي. که دو وزن اوچتول امتياز وي، نو ميږيان د خپل وزن پنځوس برابره بار وړی که ليدل کمال وي نو ځيني حيوانات تر واورې لاندې هم ليدل کولای شي. که بوی کول امتياز وی نو ځيني حيوانات د شامي ډېره ځواکمنه قوه لري او په بوی کولو سره کولای چې ماينونه او مخدره توکي په خورا سادګی سره کشف کړي، چې ډېری دغه صفتونه په انسانانو کې ضعيف دي.

دين انسان ته بل څه وايي، انسان په بل ډول معرفي کوي چې د نورو مخلوقاتو په پرتله د انسان لورتيا ثابتوي، نه يوازې دا چې انسان پر حيواناتو او پيريانو باندې لوړتيا لري، بلکې کله کله يې لوړتيا پر ملايکو باندې هم ثابتيږي، د اسلام سپيڅلی دی وايي.

**الف**: د هغه د پيدايښت اصل ډېر پاک او سپيڅلی دی: ځکه چې د آدم (ع) د مادي صورت له خلقت نه وروسته په هغه کې پاک روح وپوکل شو.

فَإِذَا سَوَّيْتُهُ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُوا لَهُ سَاجِدِينَ) (ص/۷۲)

**ژباړه:** هرکله مو چې هغه برابر کړ او په هغه کې مو خپل روح پوکړ سجده ورته وکړئ.

د دې مبارک آيت په تفسير کې امام قرطبي فرمايي: روح لطيف دی او خدای (ج) د انسان په بدن کې ژوند پيدا کوي، په حقيقت کې دلته خدای (ج) مخلوق ته له خپل ذات سره انسان ته د شرف وربخښلو او کرامت ورکولو لپاره نسبت ورکړی دی، ځکه چې روح الهي مخلوقاتو څخه يو دی، لکه ځيني نورو مخلوقات چې هغوئ ته يې شرف بخښلو لپاره له خپل ځان سره نسبت ورکړی دی.

(أرضی و سمانی و ناقة الله و شهر الله)

Download from: www.aghalibrary.com

زما ځمکه، زما آسمان، زما کور د خدای اوبښ، د خدای میاشت، مورږ کعبي شريفي او مسجدونو ته د خدای (ج) کور وايو، په داسي حال کي چي خدای (ج) د کور له لرلو نه پاک دی، ولي دا نسبت دغه کورونو ته د شرف ورکولو لپاره دی. په دې کورونو کې دخدای (ج) عبادت کېږي، د ا کورونه د خدای (ج) د عبادت ځایونه او د خدای (ج) د کورونو په نوم یادېږي.

**ب:** اشرف المخلوقات( تر ټولو شريف مخلوقات) دی.

**ج:** کرامت ورته ورکړل شوی دی.

وَلَقَدْ كَـرَّمْنَا بَنِيْ آدَمَ .....(الاسرأ/۷۰)

**و:** علم يې تر ټولو غوره زېور دی.

**۲ـ د معدن استخراج:** د اسلام سپيڅلی دين له دې نه وروسته چي دغه ګران بيه معدن يې د ټولو مخلوقاتو په منځ کي کشف کړ د دې لپاره چي هغه د نورو له منځه نه بهر کوي د انسان لپاره ځانګړې دندې ورکوي چي د هغه ارزښت تر نورو لوړوي.

**الف: انسان په ځمکه کي د خدای (ج) خليفه (ځای ناستی) دی**: خدای (ج) په ځمکه کي انسان د خپل ځای ناستي په توګه مقرر کړ، ترڅو د الله (ج)ټول احکام د ځمکي پر مخ تطبيق کړي. بناءً د خلافت دغه دنده نه ملايکو، نه پيريانو او نه هم کوم بل مخلوق ته ورکړل شوې ده. انسان په ځمکه کي د خدای (ج)سفير دی او په خپل دغه سفارت سره ټول الهي اوامر هم پرخپل ځان او هم ددې ټولني په هر غړي باندې تطبيقوي او همدا د دې انسان تر ټولو ستر شخصيت دی، ځکه د دندې له ليدلوري ښخه په دنده کي ورته قدسيت حاصل شو.

**ب: د انسان دنده د ځمکي آبادي او د پروردګار عبادت دی**: د ځمکي د آبادئ دنده د انسان ځانګړنه ده، ځکه ملايکو د لوړتيا غوښتنی د ځواک او نفس د نه لرلو په بنسټ نشي کولای چي ځمکه آباده کړي.

**ج: د يو خدای د عبادت لپاره پيدا شوی دی**: اګر چي ټول مخلوقات د انسان په خدمت کي دی، مګر انسان د خپل پروردګار په خدمت کي دی.

ابرو باد ومه وخورشيد و فلک درکارند
تا تونانی به کف آری و به غفلت نخوری
همه از بهر تو سر گشته و فرمان بردار
شرط انصاف نباشد که تو فرمان نبری

**د: هغه هدفمند مخلوق دی**: د هغه پيدايښت هدفمند دی، او هدف ته د رسيدو وسايل يې هم سپيڅلی دي.

**۳ـد معدن ويلي کول:** عبادات د تشريف لپاره تکليف دی، د اسلام سپيڅلی دين دغه انسانی معدن په مختلفو عباداتو سره ويلي کوي،له هغو ښخه انسان جوړوي په اسلام کي عبادت د انسان جوړوني لپاره دی. انسان په مختلفو عباداتو سره انسانی مقام ته رسېږي. ځکه انسان د دوه انسانی او حيوانی ابعادو لرونکي دی. چي عبادات امارهٔ بالسوء نفس په مطمئنه نفس باندې اړوی. مؤمن انسان د قرآني حقيقتونو په درک کولو سره د اوسپني په ښېر ويلی او چمتو کېږی، دا عبادات دی چي انسان له حيوانيت ښخه انسانيت او له انسانيت ښخه له ملايکو ښخه لوړتيا ته کشوي.

**۴ـ قطعه جوړونه:** د اسلام سپيڅلی دينا انسان ته روزنه ورکوي چي ځان جوړونه وکړي اود اصيلو قطعواو پرزو په ښېر د انساني ټولني په جوړښت کي خپله ونډه سرته ورسوي. د انسان د ځان جوړوني مرحله هغه مهال پيلېږي چي انسان په عباداتو بوخت شي او د خدای (ج)په ذکر اوياد سره خپل داخل پاک کړي. د ټولو بدنی عباداتو په سر ته

Download from: www.aghalibrary.com

رسولو سره د بدن هر غړي د الهي دربار ته تسليموي او د يو ماشين د قطعو په څېر چمتو کېږي. عبادات او الهي مخلوقاتو تفکر انسان د نفس له غلامی کشوي او هغه لوړ انساني مقام او مرتبې ته رسوي.

**۵- د دغو قطعو يو ځای کول:** هغه مهال چې انسان د ځان جوړوني له مرحلې څخه خلاصېږي چې هغه په انساني ټولنه کې له نورو څخه جلا بلکې له نورو سره په يو ځای کېدو او پيوند سره په يوې واحدې کتلې باندې داسې تبديلېږي، چې هر انسان د انسانی ټولنې په منځ کې د ځانګړي ارزښت لرونکی وي، چې دا کتله د اسلامي امت په نوم يادېږي او د توحيد موخه ( په يو صف کې دانساني عالم ودرول) دي، ټول د ورونو په څېر ژوند کوي، هېڅوک په بل چا باندې له تقوی نه پرته لوړوالی نه لري. په همدې توګه لیدل کېږي چې دېری ځل يولوی موټر د هغه له ټول غټوالي سره د يوې کوچنی پرزې او حتی يوه پېچ په نه لرلو سره د حرکت کولو وړ نه وي، نو په همدې توګه انسانان په ټولنه کې د هر يو ونډه ګټوره بولي، هېڅ کس په بل باندې مسخرې نه کوي. دا انسان د حقيقتونو په درک کولو سره پوهېږي چې د انسان په فزيکي جوړښت کې سره له دې چې سترګه د ليدلو لپاره ده، دا سترګه نشي کولای له معدې نه پرته خپله دنده په سمه توګه سر ته ورسوي. سره له دې چې پښې د ټول بدن وزن پورته کوي، ولې نشي کولای چې له سترګو نه پرته خپله دنده په ښه توګه سر ته ورسوي. بناءً د بدن د ډېرو کوچنيو غړو شتون د انسان د فزيکی جوړښت په کارونه کې بې حده ګټور دی. په همدې توګه په انساني ټولنه کې هر انسان مهمه ونده لري چې مسلمان انسان خپل ځان د اسلامي ټولنې د يو غړی په توګه ګڼي او په دې بنسټ هېڅکله ځان له ټولنې څخه لرې کوي، ځکه نو دالهي اوامرو په بنسټ په خپلو دعاؤو کې هم ځان يوازې نه پرېږدي بلکې ټل ټول مسلمانان په خپلو دعاګانو کې شاملوي او وايي:

رَبَّنَا آتِنَا  فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَفِی الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ (البقرة/۲۰۱)

**ژباړه:** ای زموږ پروردګاره! موږ ته په دنيا او آخرت کې ښېګنه راکړه؛ او موږ د دوزخ له عذابه وژغوره.

او په خپل عبادت کې هم د ټولو په نمايندګی خدای (ج) ته خطاب کوي وايي:

اِيَّاکَ نَعْبَدُ وَ اِيَّاکَ نَسْتَعِيْنُ (الفاتحه/۵).

**ژباړه:**خاص تاته عبادت کؤو او خاص له تانه مرسته غواړو.

د همدې اصل له مخې مسلمان شاعر هم د اسلامي امت دغه په يو صف کې ودرېدل دا ډول توصيفوي:

**بنی آدم اعضای یک پیکر اند**

**که در آفرینش ز یک جوهر اند**

**چوعضوی به درد آورد روزگار**

**دیگر عضوها را نماند قرار**

**تو کز محنت دیگران بیغمی**

**نشاید که نامت نهند آدمي**

Download from: www.aghalibrary.com

## د شپږم څپرکي پوښتنې

### الف: تشریحي پوښتنې:

۱. د انسان په اړه ماټیریالیستي نظر څه دی؛ څرګند یې کړئ؟
۲. د انسان په اړه ایډیالیستي نظریات ولیکئ.
۳. په قرآن کریم کې د انسان د شخصیت په اړه معلومات ورکړئ.
۴.په اوسني عصر کې د انسان ستونزه څه ده؟
۵. د ټولې بشري ټولنې د ستونزو لپاره د حل لاره څه ده؛ واضح یې کړئ؟

### ب: سمې او غلطې پوښتنې:

۱.د انسان له دندو څخه یوه د ځمکې جوړول دي.

۲. انسان یو هدفمند مخلوق دی چې د الله(ج)د عبادت لپاره پیدا شوی دی.

۳.د بشري ټولنې ستونزه په دې کې ده چې وسایلو ته لاس رسی نلري.

۴.دنیا وسیله ده نه هدف.

### ج: خانه خالي پوښتنې:

لاندې خانه خالی د آیتوشریفو په ژباړې سره ډکې کړئ.

۱-(وَ علم ادم الاسماء کلها) سوره بقره آیه ۳۱ ( ................................)

۲-(قالوا سبحنک لا علم لنا الا ما علمتنا) سوره بقره آیت ۳۲ ( ........................)

۳- (ولقد کرمنا بنی آدم) سوره اسرا آیه ۷۰ (..................................)

Download from: www.aghalibrary.com

## اوم څپرکي

## طبيعت پېژندنه

### د څپرکي ښوونيزې موخې:


- په اسلامي نړۍ ليد کې د طبيعت پېژندني په هکله پوهاوی ترلاسه کول.
- په اسلامي نړۍ ليد کې د طبيعت د ارزښت په اړه پوهاوی ترلاسه کول.
- د اسلام له نظره له نړۍ سره د اړيکي په هکله د پوهاوي تر لاسه کول.
- له طبيعت څخه د وسيلي په توګه د کټي اخيستني په اړه د پوهاوي تر لاسه کول.

### سريزه:

په دې څپرکي کې په اسلامي نړۍ ليد کې طبيعت پېژندنه، څنګه کولای شو له طبيعت څخه ګټه واخلو، له دنيا سره اړيکه د اسلام له نظره، او د ستري کوچنۍ نړۍ په اړه د هدف په توګه بحث کېږي.

### په اسلامي نړۍ ليد کې د طبيعت ارزښت

د اسلامي  شريعت له ليدلوري نه طبيعت د متعال خدای يو خلاص کتاب دی په دې معنی چې د بشريت د لارښوونې او هدايت لپاره دوه ډوله کتابونه رالېږلي دي:




**لومړی ډول) د منزل کتاب(قرآن کريم):** هغه کتاب چې د مقروء( لوستل شوی)، متلو (تلاوت شوي)، منزل کتاب (نازل شوي) په نوم يادېږي، عظيم  الشان قرآن دی چې په لوح محفوظ کې ثبت دی او يوې امانت کارې پرښتې په واسطه چې د جبرائيل (ع) په نوم دی، په يوه شخص باندې چې په ټول عمر کې په امانت دارۍ شهرت درلود او دا لقب د هغه مهال مؤمنو اوغير مؤمنو خلکو ورباندې ايښئ ؤو او د محمد امين په نوم د بشريت په تاريخ کې ثبت دی نازل شوی دی او نوموړی هغه په هماغه امانت دارۍ سره خلکو ته تسليم او وړاندې کړ.

**دويم ډول) مفتوح کتاب(خلاص کتاب):** له مفتوح کتاب څخه موخه دوه ستر کتابونه دي، چې د دوو نړيو په  معنا دی، متعال خدای (ج)فرمايي:

Download from: www.aghalibrary.com

سَنُرِيْهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنْفُسِهِمْ حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَهُم أَنَّهُ الْحَقُّ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ (فصلت/۵۳)

**ژباړه:** ژر ده چې موږ دوی ته د خپل قدرت نښې د نړۍ په آفاقو او د هغوئ په نفسونو کې وروښایو، چې دا خبره ورته څرګنده شي، چې الله(ج)حق دی، د دې مبارک آیت پر بنسټ د الله (ج)د قدرت نښې په دوه برخو کې شتون لري چې له دوه نړیو څخه عبارت دي.

**۱- لویه نړۍ(طبیعت):** دا نړۍ د الهي خلاص کتاب په څېر ټول حقیقتونه او پېژندنې پکې شتون لري او هر کله چې انسان طبیعت ته په دقیق ډول نظر واچوي، د خدای(ج) د وجود ټول آثار او نښې پکې لیدل کېږي.

**طبیعت ته یوه کتنه:**

په هر پوه اوعقلمند انسان باندې لازم دي چې د طبیعت په جوړښت کې نظروغورځوي او په دې نړۍ کې په څېړنو سره هغه پایلو ته ورسېږي چې هم ورته په دنیایي ژوند کې خورازیات ارزښت لري اوهم د عز وجل خدای (ج)د پېژندنې او په بله نړۍ باندې د ایمان لپاره ورته لیار خلاصوي.

**۲- کوچنۍ نړۍ (انسان):**د انسان اناټومي او فیزیولوژي هم یو بل خلاص کتاب دی چې په هره برخ کې یې له حجرو (سلولونو Cells)څخه نیولې، ترنسجونو (Tissues) او غړو او بالاخره سیستمونو(Systems) او د انسان تر ټولیز جوړښت پورې د یو خلاص الهي کتا ب په څېر د دې ټولو په پیداکوونکي (خالق) باندې دلیل دی.

**د اسلام له لیدلوري د نړۍ سره اړیکه**

دنیا، شتمني، د ژوند د وسایلو او اسبابو لرل، په ژوند کې آرامي له هغو چارو څخه دي چې په ډېرو قرآني آیاتو او نبوي (ص)احادیثو کې کله کله د تائید وړ ګرځېدلي او کله هم د غندل شوي او په بد لید بیان شوي، چې په ډېرې حالاتو کې د ساده اندېښو او لند فکرو تر منځ د اختلاف لامل شوی دی.

دلته بیا بله ستونزه رامنځته کېږي چې هرکله څوک دنیا ترک کړي، د اسلام د پیغمبرله وینا سره مخالفت کېږي چې فرمایلي یې دي:

(لا رهبانة فی الاسلام)

او هر کله چې له دنیا سره مینه وکړي له بل حدیث سره مخالفت کېږي چې:

(حب الدنیا رأس کل خطیئة)

قرآني حقیقت دادی چې دنیا او د ژوند او آرامی ټول وسایل د انسان د لیدلوري پر بنسټ د مقام لرونکي او یاهم د بد مرغۍ لامل ګرځي چې کېدای شي دنیا د وسیلې په توګه وکارول شي نو په دې حالت کې دنیا تر ټولو غوره پدیده او دنیوی وسایل او د ښه ژوند کولو او د دنیا اوآخرت د نېکمرغۍ لپاره غوره لیاره وګرځي او یاهم دنیا د موخې په توګه وکارول شي، چې دلته ستونزه رامنځته کېږي نو لازمه ده چې دلته لنډ توافق ولرو:

Download from: www.aghalibrary.com

### دنیا د وسیلې په حیث

هر کله چې دنیا د لوړو انساني موخو لپاره چې (الهي نږدېوالی) دی د وسیلې په توګه وي، وکارول شي، بیا نو دنیا په ژوند کې تر ټول غوره شی دی. اسلامي نصوصو ټل دنیا د انسان د نېکمرغی تر ټولو غوره وسیله ګڼلې ده. د دې مطلب د توضیح لپاره یوه بېلګه بیانوم. ټول پوهېږو چې موټر د ژوند له ډېرو مهمو وسایلو څخه دی او هرکله چې موټر ولرو او هغه د ژوند د وسیلې په توګه وکاروو، زموږ ډېری ستونزې د موټر په واسطه حل کېږي د ژوند په ټولو حالاتو کې له موږ سره مرسته کوي. بناءً هېڅوک موټر ته بد شی نه شي ویلای ولې باید په پام کې وی چې کله دغه موټر په موخه بدل شي او انسان د هغه د لاسته راوړلو لپاره له ټولو جنایاتو څخه ګټه واخلي په دې صورت کې به موټر په ژوند کې یو بد شی وي او یا دا چې انسان به د موټر په لاسته راوړلو سره په یو متکبر او ځان غوښتونکي بدل شي. په هغه به ویاړي، او یا به هم په خپله د موټر په خدمت کې وي، هر وخت به هغه صافي کوي او له موټر سره به یې زړه تړلی وي، مګر د اړتیا پر مهال ښار ته پیاده لاړ شي نو په دې صورت کې موټر په یوه ناسمې موخېباندې بدلېږي. په همدې توګه که دنیا د دغه موټر په څېر و کارول شي، نوهمدغه مطلب افاده کوي. هغوئ چې د دنیا حقیقت یې درک کړی دی او دنیا د یوې غوره وسیلې په حیث کاروي، له هغه وخت نه ګټه اخلي چې په دنیا کې ورته ورکړل شوی دی او له ټولو دنیوي شتو څخه د وسیلې په حیث ګټه ا خلي د هغوئ لپاره دنیا تر ټولو غوره شتمني ده او د همدې لامل له مخې یې ویلي دي چې: (الدنیاء مزرعة الآخرة)

دنیا د آخرت لپاره مزرعه یا کښت ځای دی. ټول پوهېږو چې بزګر د غنمو د لاسته راوړلو لپاره له ځمکې څخه ګټه اخلي او ځمکه د بزګر لپاره ارزښتناکه ده، ولې د بزګر موخه په خپله ځمکه نه، بلکې د ځمکې حاصلات دي. دنیا هم د یو مؤمن لپاره د ځمکې په څېرده، دنیا د همدې ځمکې په څېر استعمالوي، د دنیا لپاره کوښښ او تلاش کوي، ولې بنسټیزه موخه د دنیا محصولات دي چې د آخرت لپاره په کار راځي. د فرعون ساحران په سلګونو کلونه په بدو کارونو او جادوګری باندې بوخت ول؛ ولې هغه مهال چې د دنیا حقیقت یې درک کړ او د نړی او د انسان طبیعت ویوهېدل، او یوه شول چې داسې خدای (ج) شتون لري چې موسی (ج) ته یې معجزه ورکړې ده، نو ټول حقیقت ته تسلیم شول، هغوئ په نیم ساعت کې مسلمانان شول، په همدې نیم ساعت کې د موسی(ع)په اصحابو بدل شول، په همدې نیم ساعت کې د هغوئ کیسه د ایماندارو اشخاصو په توګه د نورو د عبرت لپاره په قرآن کریم کې ذکر شوه، اوس چې د هغوئ نیم ساعت ژوند چې د الله(ج)د رضایت لپاره د وسیلې په حیث استعمال شوی ؤ له هغه په سل کاله پخوانی ژوند په نسبت چې د هدف په توګه استعمال شوی ؤ ډېر ارزښتناکه ؤ.

بناءً دې پایلې ته رسېږو چې د دنیا او آخرت د نېکمرغی د لاسته راوړلو لپاره دنیا تر ټولو غوره وسیله ګرځي په دې شرط چې دې موخې ته د رسېدو لپاره استعمال شي. اودنیا د انسان لپاره ترټولو ناوړه موجود کېږي، په دې شرط چې دنیا پخپله هدف وګرځول شي او د دنیا د لاسته راوړلو لپاره ټول جنایات سرته ورسول شي.

**۲- دنیا د هدف په توګه:** هرکله چې دنیا هدف وګرځول شي او د انسان ټول کوښښ اوتلاش د دنیا دلاسته راوړلو لپاره وي، نو بیا دنیا د انسان د عالي اهدافو د هېرولو لامل ګرځي چې له دغو اهدافو څخه تر ټولو لوړ د خدای(ج)پېژندل او د هغه دربارته قرب (نږدې والی) دی.

Download from: www.aghalibrary.com

د اسلامي شریعت په اصطلاح کې دنیا دهغې د نوم په بنسټ ډېره دون (ټیټه) بلل شوې او د دې وړنده چې هدف وګرځول شي. د انسان هدف باید ډېر لوړ وي چې دا لوړوالی د خدای (ج)په رضایت کې دی، او هرکله چې انسان دنیا هدف وګرځوي، د یو پست اوضعیف شي هدف ګرځول انسان د پستی او کمزوری لوري ته ورلېږي ځکه په دې حالت کې دنیا د خدای(ج)پر وړاني واقع کېږي، او د خدای (ج) په مقابل کې د دنیا مقایسه کول په حقیقت کې د دنیا پستي او ټیټوالی ثابتوي، ځکه د خدای (ج)په مقابل کې دنیا یو کوچنی او اندکه او پست شی دی.

اوس نو د دنیا محبت د خدای له محبت سره مخالف ده، مؤمن انسان خدای (ج) سره مینه کوي، محبت ورسره کوي او په دې اړه عظیم الشان قرآن فرمایي:

وَمَنَ النَّاسِ مَن يَّتِخِذُ مِنْ دُونِ اللهِ أَنْدَادًا يُحِبُّوْنَهُمْ كَحُبِّ اللهِ وَالَّذِيْنَ آمَنُواْ أَشَدُّ حُبًّ لِّلهِ (البقره/۱۶۵)

**ژباړه:** ځیني خلک له الله(ج)نه پرته نور کسان له خدای (ج)سره شریکوي او هغوئ سره د خدای (ج)په څېر مینه کوي، ولې هغه کسان چې ایمان لري، له خدای (ج)ډېره قوي مینه کوي.

د همدې لامل له مخې دی چې اسلامي نصوص تل انسان پوهوي چې له دنیا سره مینه و نکړي، ځکه د دنیا محبت، تاسي ته دنیا هدف ګرځوي. د دې پر ځای له الله(ج)سره مینه وکړئ او دنیا د ډېرې ارزښتناکې او مهمې وسیلې په حیث د الله (ج) د رضا لپاره استعمال کړي. مثلاً هغه خلک چې له خدای (ج)سره مینه نکوي حتی د خدای (ج)په لاره کې هم د هغې له مصرف کېدو څخه ممانعت کوي.

خدای(ج)فرمایي:

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ مِنَ النِّساءِ وَالْبَنِيْنَ وَالْقَنَاطِيْرَ الْمُقَنْطَرَةِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْأَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ذَالِكَ مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَ اللهُ عَنْدَهُ حُسْنُ الْمَئَابِ (ال عمران/۱۴)

**ژباړه:** هغوئ ته له نفساني هیلو سره مینه کول ښایسته کړل شوي دي لکه له ښځو، اولادونو، له سیم وزر نه ډکو شویو خزانو، نښه شوي آسونو، څارویو اوکرنې سره. دا ټول دنیاوي ګټې دي او ښېرته د الله(ج)ته ورګرځېدل دي.
دا آیت شریف بیانوي چې خلکو ته دغه چارې ښایسته کړل شوې دي، تر څو له ټولو سره محبت وکړي او حقیقي محبت هېر کړي، ولې ریښتینی ګرځېدنه چې د هدفمندۍ وړ ده د خدای (ج) په نزد شتون لري او انسان ته پکار ده چې تر څو له خدای(ج)سره په محبت کولو سره له دغه ټولو چارو څخه د یوې وسیلې په توګه ګټه واخلي او له هغوسره د زړه مینه ونلري.

بناءً د اسلام په سپیڅلي دین کې د دنیا پرېښودل مذموم (بد وګنل شو) دی او بېکاره کېښناستل او د خدای (ج) له نعمتونو لرې والی اختیارول هم سم کارندی او په همدې توګه له دنیا سره مینه کول او هغه خپل هدف ګرځول هم سم کار ندی، بلکې دنیا د وسیلې په توګه او د الله (ج) رضا د موخې په توګه انسان فلاح (بریالیتوب) او ژغورنې ته رسوي.
الله(ج)فرمائي:
قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللهَ فَاتَّبِعُوْنِىْ يُحِبِبْكُمُ اللهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَاللهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ (آل عمران/۳۱)

Download from: www.aghalibrary.com

**ژباړه:** ووايه اى محمده(ص)كه تاسي له خداى (ج) سره محبت كوى، نو زما تابعداري وكړئ: خداى (ج)به له تاسي سره مينه وكړي اوستاسي گناهونه به وبخښي او خداى(ج)د گناهونو بخښونكى او مهربانه دى.

او بيا هغه كسان مخاطب كوي چي د خداى (ج)له ميني څخه يي لرېوالى اختيارکړى او له حق څخه د باطل په لوري ځي الله (ج)فرمايي:

..... وَإِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُمْ (محمد/۳۸)

**ژباړه:** او كه تاسي (مسلمانان) له دين څخه مخ واړوى، نو موږ به ستاسي پر ځاى بل قوم ځاى ناستى کړو چي هغوئ به ستاسي په څېر نه وي.

**د دنيا د هدف گرځولو پايلي او نښي يا علامي:** په نني عصرکي هغه مهال چي دهغو خلكو ژوند پرتله کړو چي دنيا يي هدف گرځولي ده، په ښه توگه وينو چي دا ډول اشخاص سره له دې چي په ژوند کي د عالي منازلو او مرتبو لرونكي دي. د ژوند د ښو وسايلو لرونكي دي، مگر دنيا هغوئ دومره ذليل کړي دي چي د زرگونو انسانانو وژنه، د مليونونو انسانانو لوږه، د انسانان پېر او پلور او د مخدراتو خپرېدا، د اخلاقي فساد انتشار او د مختلفو ناروغيو خپرېدل د هغوئ لومړنى لاسته روړنه ده.

## د طبيعت پيدايښت او د هغه اجزاوې

د طبيعت د پيدايښت په اړه درې فرضيې شتون لري:

**لومړى**: طبيعت او نړى خالق لري چي هغه يي پيدا کړى دى.

**دوهم:** طبيعت تصادفاً پيدا شوى دى.

**دريم:** طبيعت د مادې د ذراتو او د هغې د اجزاؤو او عناصرو جوړښت دى. يعني دخپلي اصلي مادې د عناصروفكر يې کړى دى او پلټلي يې دى او پرېكړه يې کړې ده چي د دې نړى راز راز شيان پيدا کړي.

د اسلام د سپيڅلي دين له ليد لوري د طبيعت لپاره خالق شتون لري چي هغه يې پيدا کړئ او اوس يې هم ټولي چارې او تنظيم د يو خالق په لاس كي دي، او ټول طبيعت او نظم د هغه د خالق د وجود شاهد دى، ولي ځيني فرضيې لكه د طبيعت تصادفى پيدا كېدل او يا هم پخپله د طبيعت ايجاد هغه فرضيې دي چي ټول پوهان او د عقل څښتنان هغه د عقل له دائرې څخه بهر بولي.

## د اووم څپركي پوښتني

### الف: تشريحي پوښتني:

۱-په اسلامي نړى ليد كي د طبيعت پېژندني په اړه معلومات وركړئ.

۲-څنگه كولاى شو له طبيعت څخه گټه واخلو.

۳-د اسلام له ليدلوري له دنيا سره د اړيكي په هكله معلومات وركړئ.

Download from: www.aghalibrary.com

۴-لویه نړۍ یعني څه واضح یې کړئ.

**ب: سمي او غلطي پوښتني:**

۱.طبیعت د اسلام له لید لوري نه یو خلاص (غوړېدلی) کتاب دی.

۲.الله(ج) د بشریت د لارښوونې او هدایت لپاره دوه ډوله کتابونه رالیږلي دي.

۳.کوچنی نړۍ یعني طبیعت.

**ج:خانه خالي پوښتني:**

۱-مقرو کتاب، یعني (..........)

۲-متلوا کتاب، یعني (...............)

۳-منزل کتاب، یعني (.............)

## اتم څپرکی

## اسلام په مقدس دین کي دعباداتو فلسفه

**د څپرکي ښوونیزې موخې:**

- په اسلام کې د عباداتو د فلسفي په اړه پوهاوی ترلاسه کول.
- په اسلام کې د عباداتو په اړه د پوهې ترلاسه کول.
- په اسلام کې د لمانځه، روژې، زکات او حج په اړه د پوهې ترلاسه کول.

Download from: www.aghalibrary.com

## سريزه:

هغه موضوعات چې په دې څپرکي کې تر بحث لاندې نیول کېږي، په اسلام کې د عباداتو حکمت او فلسفه، د لمونځ، روژې، ذکات اوحج، په اسلام کې د عباداتو فضایل، د یادو عباداتو د فرض کېدو دلایل، د رسول الله (ص) د لمانځه ځانګړتیاوې، دبې لمازنځانو جزاء، د فرد اوټولنې په جوړښت کې د روژې ونډه، د ټولنیز، سیاسي او اقتصادي نظام په جوړښت کې د زکات ونډه اود د فرد او ټولنې په جوړښت کې د حج ونډه او متفرقه موضوعات به تر بحث لاندې ونیول شي.

## د لمانځه حکمت او فلسفه

۱- د لمانځه مفهوم.

۲- د لمانځه فلسفه.

۳- د حضرت محمد (ص)د لمانځه ځانګړتیاوې.

۴- د بې لمانځانو جزاء

## لمونځ په لغت او اصطلاح کې

لمونځ ته په عربي ژبه کې (صلاة) وایي او دا کلمه په عربي ژبه کې په درې مفهومو راغلې ده:

**۱- صلات:** د صلی له ریښې څخه اخیستل شوې ده او مفهوم یې (کوږ شي ته تودوخه ورکول) دی تر څو سم شي او لمونځ ته ځکه صلاة وایي چې انسان په نفس او خواهشاتو باندې په مبتلا کېدو سره په کوږوالي باندې اخته کېږي او لمونځ هغه د پروردګار (ج) عظمت ته متوجه کوي، په زړه کې یې تودوخه رامنځته کوي او د انسان د استقامت لامل ګرځي (ان صلاة تنهی عن الفحشاء و المنکر) لمونځ انسان له ګناهونو او بدو کارونو څخه ژغوري. کله چې انسان په کوږ اماره نفس باندې اخته شوی نو د لمونځ په وسیله ورته د خدای (ج)تودوخه، ګرمي او عظمت رسېږي او کوږوالی یې لرې کېږي.

**۲-صلاة** د (صلت) له اصل څخه اخیستل شوی چې د اړیکو په معنی دی، او صلاة (لمونځ) له خدای (ج)، مخلوقاتو او هم نوعانو سره د انسان اړیکه او علاقه ټینګوي، ځکه بې لمانځه انسان د عالمیانو له پرودګار سره اړیکه پرې کړې ده او لمونځ ته په راګرځېدو سره له خدای (ج)سره خپله اړیکه بیا ټینګوي.

**۳- صلاة** د تحیت(احترام)، او دعا او سلام په معنی هم راغلی دی، ځکه چې یوالله پرسته مؤمنان، خپل ټول احترامات په خپل لمونځ کې خپل خدای (ج)ته وړاندې کوي او په لمونځ کې الهي دربارته راز او نیاز کوي او پروردګار په خبرو کولو سره خپل دعا هم ورته وړاندې کوي.

## صلاة(لمونځ) په قرآني اصطلاح کې

صلاة (لمونځ) د قرآن په اصطلاح کې د خدای (ج) لورې ته توجه، د خدای (ج)دربار ته په پښو ودرېدل او خدای (ج)دربار ته دعا او زارۍ کول او د خدای (ج)ته د نږدې والي په معنی راغلی دی.

Download from: www.aghalibrary.com

**د اسلامي شريعت په اصطلاح کې لمونځ:** له ځانګړي عمل څخه عبارت دی چې د الله اکبر په لفظ سره پيل او د **(السلام عليکم ورحمة الله و برکاته)** په لفظ پای ته رسيږي او د خاصو ارکانو او شرايطو لرونکی دی.

**د لمونځ حقيقت:** ظاهراً لمونځ يو لړ حرکات، تلاوتونه، دعاوې او نور اعمال دي چې هر يو يې الهي احکامو ته د بدن د هر غړي تسليمي ده، ځکه دا ټول حرکات له قرآني لارښوونواو نبوي سنتو سره سم سرته رسول کيږي چې د انسان د بدن د غړو ټول حرکات د الله (ج)په احکامو وي ځکه دا حرکات ټول له الهي لارښوونو او نبوی سنتو سره سم سرته رسول کيږي چې د بدن ټول غړي د متحرک قرآن په څېر د پروردګار (ج)پر وړاندي تمثيل کوي. زړه، ژبه، لاسونه، پښې، سترګې، غوږونه او د بدن ټولو غړي له يو بل سره په ګډه د پروردګار په ستاينه بوختيږي،او دا داسي يو حالت دی چې انسان له عادي حالت څخه بهر کيږي او ګويا د پيغمبر (ص)په څېر د معراج په لوري په حرکت کې راځي.

(ان تعبد ربک کانک تراه فان لم تکن تراه فانه يراک)

خدای (ج)ته داسي عبادت وکړهلکه ته چې هغه وينې او هرکله چې ته هغه نه وينې نو هغه خو تا ويني.

**د لمونځ د روح حقيقت:** د لمونځ روح مؤمن له عادي حالت او له دنيوي اړيکو څخه د پروردګار (ج)په لوري لوړوي او داسي يوه شېبه ده چې متعال خدای(ج)د خپل بنده خبرې اوري او د هغه د هرې کلمې په مقابل کې له پرښتو سره د انسان د لوړوالي او له پروردګار (ج)د هغه د مينې خبرې کوي.

حضرت ابی هريره(رض) فرمايي: له رسول الله (ص) څخه مې واورېدل چې ويې ويل: خدای (ج) فرمايي: لمونځ مې د خپل ځان او بنده تر منځ ويشلی دی او بنده ته هغه څه چې وغواړی ورکول کيږي.

کله چې بنده ووايي: الرحمن الرحيم.

الله تعلی فرمايي: زما بنده زما ثنا بيان کړه.

کله چې بنده ووايئ: مالک يوم الدين.

الله (ج) فرمايي: زما بنده زه تمجيد کړم او کله هم فرمايي: زما بنده خپلی چاری ماته وسپارلی. کله چې بنده ووايی: اياک نعبد واياک نستعين.

الله (ج) فرمايي: دا خبره زما او زما د بنده تر منځ ده او بنده ته مې هر څه چې وغواړی ورکول کيږي.

کله چې بنده ووايئ: اهدنا الصراط المستقيم صراط الذين انعمت عليهيم غيرالمغضوب عليهم ولا الضالين.

الله(ج) فرمايي: دا زما د بنده لپاره دی اوهر څه چې وغواړی د هغه لپاره دي.

## د مؤمنانو لمونځونو فلسفي

لمونځ د اسلام په سپيڅلي دين کې د ډېر ارزښت لرونکي دی او حتی په احاديثو شريفو کې د مؤمن او کافر تر منځ توپير د لمانځه ادا کول بيان شوی دي. د اسلام په سپيڅلی دين کې د لمانځه په ونډي باندي د پوهيدو لپاره لازم ده چې په دي بحث کې د لمانځه د فلسفي په اړه ځيني مطلبونه بيان کړو.

**۱- له پروردګار(ج) سره د خبرو کولو فلسفه:** د لمانځه لومړنی فلسفه له خدای (ج)په خبری کول کي بيان شوی دی، ځکه کله چې انسان وغواړی چې له خدای(ج) سره خبری وکړي بايد لمونځ ادا کړي او هر کله چې وغواړی چې خدای (ج)ورسره خبری وکړي نو عظيم الشان قرآن د تلاوت کړي.

متدين او باعقيده مسلمان، ددی لپاره چې له خپل پروردګار سره اړيکه ولري او له الهي لارښوونی سره سم ورځ کې پنځه وخته له خپل پروردګار خبری او راز او نياز وکړي، نو په خپلو لمنځونو کې بايد جداً متوجه اوسي، د مادی او

Download from: www.aghalibrary.com

معنوي، بدني، لباس او ځای د پاکوالی او د لمونځ د ټولو احکامو په مراعت کولو سره په خشوع (د زړه، فکر او اندیشی حضور) او تواضع (ټیټوالی او ماتوالی) سره د خدای(ج) په وړاندې د قبلې لورى ته مخ اړوى او د فرض، واجب، سنت او نفلی لمونځونو له لارى د الله(ج) په عبادت سره د خپل زړه مطلبونه او د ژوند او آخرت هیلې خپل پروردګار (ج) ته بیانوي.

دا مؤمن پوهېږي چې لمونځ له پروردګار (ج)خبرې کول دی. انسان تل له خپل دوست سره خبرې اترې کوي، خپل دوست ته خپل رازونه بیانوي له خپل دوست نه مرسته غواړي، د خپل دوست کور ته ځي او کوښښ کوي چې د خپل دوست رضایت تر لاسه کړي. داسي عمل سرته نه رسوي چې د دوست د خوابدئ لامل وګرځي. او داچې دا مؤمن پوهېږي چې (والذین آمنو اشد حباً لله) هغه څوک چې ایمان لري له خدای (ج)سره ډېره قوي مینه لري. بناءً له خدای (ج)سره خپل دغه محبت هره ورځ په عبادت او له خپل پرودګار سره په خبرو کولو سره د لمانځه له لارې زیاتوي.

مګر د لمانځه پرېښودل په دې معنا دی چې له خدای (ج)سره په قهر اوخفه دی، او نه غواړي له خدای له خدای (ج)سره خبرې وکړي لازم ده چې دغه انسان له خدای (ج)پخلا شي او لمونځ وکړي. که د لمونځ مفهوم له خدای(ج)سره خبرې کول دی، نو بیا د لمونځ نه ادا کول له الله (ج)سره د خبرو پرېښودلو په معنا دی. انسان هغه مهال له چا سره خبرې نکوي چې هغه خواشینی وي او یا له هغه سره دښمني ولري.

هغه څوک چې ځان مؤمن بولي او د اسلام ادعا کوي، ولې لمونځ نکوي، لازمه ده چې بېرته الهي دربار ته رجوع وکړي له خدای (ج)پخلا شي او خپله دغه پخلاینه د لمانځه په ادا کولوسره اعلان کړي.

دا چې لمونځ له الله (ج)سره خبرې کول دی، نو که څوک له لمانځه نه وروسته قسم وخوري چې له الله (ج)مې خبرې کړې حانث یا ګنهګار نه دی او قسم یې سم دی ځکه چې لمونځ له الله (ج)خبرې کول دی او هغه بنده چې له خدای (ج)سره ملاقات کوي په دغه انسان باندې لازم دی چې د خپل بدن او جامو پاکی ته متوجه اوسي خدای (ج)فرمایي: (خذوا زینتکم عند کل مسجدٍ) یعني په هر ځای کې چې لمونځ ادا کوي بازینته اوسی. صحابه کرامو مسجد ته د تلو پرمهال پاکې جامې اغوستې ځان ته یې زینت ورکاوه عطر یې وهل او ویل به یې چې موږ د الله (ج)ملاقات ته ځو.

کله چې خدای (ج)خپلو بنده ګانو ته امر کړی دی چې هره ورځ پنځه وخته د هغه دربار ته رجوع وکړي او د هغه د ذات پر وړاندې و دربېږي او له خدای (ج)سره خپل محبت ثابت کړي، د دې چارې پر خلاف بل تفسیر شتون نلري ځکه چې څوک و نه غواړي چې له الله(ج)سره خبرې وکړي.

ځینې داسې خلک شته چې لمونځ پرېږدي، ولې د الله (ج)رحمت بې نهایته زیات دی بیا هم هغوئ ته وخت ورکوي تر څو دحقیقت په پوهېدو سره بېرته رجوع وکړي او پخوانی تېروتنې د قضائي لمونځونو په ادا کولو سره جبران کړي. ولې څوک چې له خپل خدای (ج)سره خپله اړیکه په اونیو، میاشتو او بلاخره پرې کوي، معنا یې دا ده چې هغه له خدای (ج)سره قطعاً خپله دښمني اعلان کړې ده ځکه د دنیا په ژوند کې مو داسې څوک لیدلي چې له خپلو دوستانو څخه له یوه سره خواشینی وي بالاخره د یوې یا دوه اونیو په تېرېدو سره پښېمانه شي بېرته له یو بل سره خبرې پیلوي، مګر هغه څوک چې له چا سره په میاشتو او کلونو خبرې نه کوي په دې معنی دی چې هغه قطعاً له هغه دوستي نلري او هغه نه غواړي چې له هغه سره په ټول ژوند کې دوستي وکړي.

اوس هغه کسان چې لمونځ پرېږدي له خدای (ج) سره په میاشتو او کلونو خبرې پرېږدي په حقیقت کې یې دوستي پرې اینښې ده او ددې کار دوام د الله (ج)د قهر اوغضب سبب کېږي.

Download from: www.aghalibrary.com

د لمونځ پرېښودل به یوخطرناک کار وي ځکه دا کارد خدای (ج)دغضب لامل کېږي او د قیامت په ورځ هغه مهال چې د خدای (ج)پر وړاندې قرار ونیسي، نو خدای (ج)به له هغه سره خبرې ونکړي او د خدای(ج) غضب دوزخ ته د ننوتو سبب ګرځي (ما سلككم في سقر قالو لم نک من المصلین) (کله چې له دوزخیانو وپوښتل شي چې کوم شی تاسي دوزخ ته وغورځولی؟) وبه وائي: موږ د لمونځ کوونکو له ډلي څخه نه ؤو.

**۲- لمونځ له پروردګار (ج)سره د مخلوق د اړیکي دوام:** ډېر خلک خدای (ج) پیژني په هغه باندې ایمان لري، مګر له هغه سره اړیکه نلري هغوئ د لمانځه په پرېښوولو سره له خدای (ج)خپله اړیکه پرې کړي ده. د لمانځه بله فلسفه دا ده چې لمونځ له خالق سره د انسان اړیکه په دوامدار ډول تضمینوي. مؤمن انسان د خپل عمر په څلیرویشتو ساعتونو کي پنځه ځلي په وېش کي چې دغه سجدې هغه شېبې دي چې مخلوق له خالق سره ډېر زیات نږدې کوي.

برعکس هغه انسان چې لمونځ پرېږدي له خپل خالق سره خپله اړیکه پرېکړې ده او خپل خالق یې هېر کړی دی او که بالفرض روژه هم ونیسي له یو کال نه وروسته خپل خدای (ج) په یاد لري ولې د لمونځ کوونکي انسان اړیکه له خدای (ج)سره تلثابته او ټینګه ده، ځکه هغه مهال چې څوک هره ورځ پنځه ځل له خپل دوست ملاقات وکړئ کور ته یې ورشي هغه یاد کړي اړیکه یې ډېره ټینګه وي.

لمونځ په لومړی پړاو کي د پروردګار(ج)لوري ته د مخ اړولو لامل دی او په دوهم پړاو کي د منان خدای (ج)د مخ اړولو موجب دی.

کله چې بنده الهي دربار ته مخ اړوي، خدای(ج) هم هغه یادوي او لمونځ د دې یادونو لوی ممثل ندی خدای(ج)فرمایي:

فَاذْكُرُونِيْ أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُواْلِيْ وَ لَا تَكْفُرُونِ (البقره/۱۵۲)

(ما یاد کړئ چې تاسي یاد کړم او زما شکر په ځای کړئ او کفران مکوئ)

حضرت زید بن اسلم(رض) فرمایي: چې موسی (ع)وویل: ای پروردګاره! ستا شکر څه ډول ادا کړو؟ خدای(ج)وفرمایل: ما په یاد ولري، دا زما شکر ادا کول دي او کله مو چې زه هېر کړم نو زما د نعمت کفران یا ناشکري مو وکړه.

څه ډول کولای شو چې خدای (ج)په یاد ولرو، پرته له شکه چې لمونځ د خدای (ج)تر ټولو ستر یاد دی.

امام ابن کثیر په خپل تفسیر کي لیکي چې په صحیح حدیث کي روایت شوی دی چې خدای (ج)فرمایي: چې که زه یې په خپل نفس کي یاد کړم زه هم هغه په خپل نفس کي یادوم او که زه چا په یو ټولي کي یاد کړم زه هم هغه د تر ټولو غوره خلکو ټولي کي یادوم.

دا ټولي معناوې په یواځې لمنځونو او د جماعت په لمنځونو کي په ښه توګه تر لاسه کېدای شي، ځکه چې بنده خپل خدای (ج)په لمانځه کي یادوي نو خدای (ج)هم دهغه پرمخ د رحمت دروازې پرانیزي.

**۳- له پروردګار (ج)سره د عهد او پیمان نوی کول:** د لمانځه له فلسفو څخه یوه دا ده چې مؤمن انسان د ورځي ۳۲ ځله له خدای (ج)سره خپله وعده نوې کوي**(ایاک نعبد)**پرودګاره! یوازې ستا عبادت کؤو.

**(و ایاک نستعین)** ای پروردګاره!یوازې له تانه مرسته او استعانت غواړو.

هغه مؤمن چې د دغه دؤو آیتونو په مفهوم باندې پوه شي د لمانځه پر مهال یې له خدای (ج) سره وعده وکړه او له لمانځه وروسته هم په دې وعده باندې باقي پاتې شي او خپل ټول عبادات یوازې د الله (ج)لپاره سرته رسوي او هر هغه شی چې نوم یې عبادت دی یوازې الله (ج) ته یې ځانګړی کړي او که کله له کومي ستونزې سره مخ کېږي، نو هغه په

Download from: www.aghalibrary.com

صبر او لمانځه پر مهال د مرستې دغوښتلو په موخه الهي دربار ته وړاندې او حل یې له الله (ج)څخه غواړي(واستعینوا بالصبر و الصلوة) ای مؤمنانو! په صبر اولمانځه سره مرسته وغواړی.

د پنځه ګونو لمونځونو د اداکولو پر مهال خپل دا ژمنه نوي کوي او په خپل ټول ۲۴ ساعته وخت کې له خدای (ج) سره ژمن وي. او هرکله چې څوک تل له خدای (ج)په خپلو تعهداتو باندې باقي پاتې شي، نو ښائی چې خدای (ج) هم نوموړی په خپلو نږدې بنده ګانو کې وشماري (انشاء الله).

**۴- د خشوع او زړه د حضور فلسفه:** دلمونځ بنسټیز شرط د زړه حضور دی. حضرت نبی کریم (ص)فرمایي: (لا صلاة الا بحضور القلب) د زړه له حضور نه پرته لمونځ سم ندی. دزړه له حضور نه منظور دا دی چې د انسان ټول هوښ اوفکر د لمانځه پر مهال د خدای (ج)ذات ته متوجه اوسي.

د الله په دوستانو کې له یوه ځینې وپوښتل شول چې: تاسې څه ډول لمونځ کوئ؟ ویې ویل کله چې زه لمونځ کوم نو فکر کوم چې د ژوند وروستی لمونځ دی، خدای پوهېږي چې بل لمانځه ته وخت ومومم که عزرائیل به مې روح قبض کړي، کله چې په لمانځه ودرېږم فکر کوم چې کعبه شریفه مې په مخکې، جنت مې په ښي اړخ کې او دوزخ یې کیڼ اړخ کې واقع دي او په دې فکر لمونځ کوم.

که چېرې یو مسلمان د خدای (ج)د دغه دوست په څېرلمونځ وکړي نو حقیقتاً یې په لمونځ کې خشوع، تواضع، بېچارګي، عجز او نیاز پیدا کېږي.

خدای (ج)فرمایي: (قد افلح المؤنون الذین هم فی صلاتهم خاشعون) په تحقیق سره چې بریا او خلاصون وموند هغه مؤمنانو چې په خپلو لمونځونو کې خشوع کوي.

۵- خدای (ج)ته مخ ګرځول او انسان ته دخدای نږدېوالی: لمونځ په لومړنۍ پایه کې د الله (ج)لوري ته د بنده د مخ ګرځولو لامل کېږي او په دوهمه مرحله کې بنده د منان خدای (ج) د نږدېوالي موجب دی. کله چې بنده د خدای (ج)دربار ته مخ ګرځوي خدای (ج)هم هغه یادوي او لمونځ د دغو یادونو د لوی والی ممثل ندی خدای فرمایي:

فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوالِيْ وَ لَا تَكْفُرُونِ (البقره/۱۵۲)

(ما یاد کړئ چې تاسې یاد کړم او زما شکر په ځای کړئ او کفران مکوئ)

**په منکر او فحشا باندې له مبتلا کېدو څخه ژغورنه:**خدای په عظیم الشان قرآن کې دلمانځه تر ټولو لویه فلسفه بیانوي چې:

(إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ ...... (العنکبوت/۴۵)

لمونځ له فحاشۍ او بدو کارونو څخه ممانعت کوي.

کله چې یو مؤمن له محبت نه په ډک او له الهي عدالت نه لا ډېر ډک زړه سره الهي دربار ته درېږي او د خپل بدن ټول غړي د الهي اوامرو سره سم په حرکت راولي او له لا ډېر- ډېر تعهد سره خدای (ج) ته د ځان او نورو ټولو مؤمنانو لپاره د هدایت دعا کوي او تعهد کوي، چې بدۍ به پرېږدي او د هدایت او انسانیت لاره به نیسي؛ نو پرته له شکه چې د هغه دا لمونځ د هغه په شخصیت کې مثبته آغېزه کوي او له لمانځه نه بهر دې له فحشا او منکراتو څخه د هغه مانع ګرځي او هرکله چې کومې ګناه ته ور وګرځي او یا څو لمونځونه قضا کړي د تېروتنې احساس کوي او الهي دربار ته په ودرېدو سره خپله پښېماني څرګندوي او د خدای (ج)دربارته د توبې لاسونه پورته کوي او بېرته بیا

Download from: www.aghalibrary.com

الهي دربار ته رجوع كوي، چې نېكو اعمالو ته بېرته ګرځېدل او له بديو نه توبه د مؤمنانو نصيب كېږي. برعكس هغه انسان چې لمونځ نه کوي؛ د ډېرو ګناهونو په ارتکاب سره د پښېمانۍ احساس نه كوي؛ ځكه چې هغه د لمانځه په پرېښودو سره د الله (ج)له ذات سره هېڅ اړيكه نلري او شيطان يې نور هم د بديو لوري ته تشويقوي، چې پخپله له همدغه انسان څخه شيطان جوړ كړي، چې غالباً انساني شيطانان د جني شيطانانو په خدمت كې وي.

ځيني پوښتنه كوي چې داسي دوستان لرو چې لمونځ كوي ولې بيا هم په بدو كارونو اخته دي، پورتنۍ آيت څه ډول وربانديې تطبيق كېږي؟

حقيقت دا دی، چې د قرآن آيتونه يو بل تفسير او توضيح كوي؛ نو بل آيت شريف كې فرمايي:

قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ (١) الَّذِيْنَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ (المؤمنن/٢)

بريا د هغه مؤمنانو نصيب كېږي چې په خپلولمونځونوكې خشوع لري.

په لمانځه كې خشوع په دې معنا ده چې د لمونځ د معنی په پوهېدلو سره ادا كړو او داسي احساس ولرو، چې خدای (ج)مو پر وړاندې شتون لري او لمونځ د زړه په حضور سره ادا كړي. پدې معنی چې دوه ركعته لمونځ د پنځو څخه تر لسو دقيقو كې اداء كړي. دا ډول لمونځونو په انساني شخصيت كې مثبت آغېز لري؛ مګر بېړني او عاجل لمونځونه، چې د لمانځه احكام پكې مراعت نشي؛ بلكې د فزيكي حركاتو بې معنی مجموعه وي، هېڅكله خپل مثبت آغېز نشي لرلای. هغه لمونځونه آغېز لري چې د پيغمبر (ص)او صحابه كرامو د لمونځونو په څېر اداء كړل شي، كوم وخت چې به صحابه كرامو(رض)خپل لمونځونه ادا كول؛ نو د وچو شويو ونو په څېر به د ذولجلال ذات پر وړاندې ولاړ ول، زړونه به يې له محبت او وېرې، له عشق او پاكۍ نه ډک او فكر يې د هرې كلمې معنا ته دقت كاوه، د وېرې په آيتونو كې يې ژړل او د رحمت په آيتونو كې يې د رحمت غوښتنه كوله.

## ۷- د متحرک (ګرځنده) قرآن فلسفه او له لمونځ سره يې اړيكه:

خپل لمونځ نه بهر ژوند د لمانځه د ژوند په څېر جوړ كړئ.

كله چې د لمانځه پر مهال د يو انسان ټولو حركاتو ته ځير شو، نو ښايي وګورو چې يو مؤمن كس د خپل بدن ټول غړي له قرآني احكامو سره سم كاروي، د هغه لاسونه، سترګې، ژبه، هوښ او فكر، ټول حواس د پروردګار په لوري وي او په ډېره پاملرنه د خپل بدن غړي له الهي لاربښوونو سره سم په كار اچوي. د هغه دغه عمل هغه يو متحرک (ګرځنده) قرآن جوړوي، اصحاب كرام (رض) متحرک (ګرځنده) قرآنونه ول؛ ځكه هغوئ خپل ټول حركات له قرآن كريم سره سم سرته رسول او لمونځ كوونكی انسان هم د لمانځه پر مهال متحرک (ګرځنده) قرآن دی؛ ځكه د خپل بدن ټولو غړو ته له قرآني احكامو سره سم حركت وركوي او كه د لمونځ كوونكي له لمانځه بېرون هم عادت شي او د خپل بدن ټول غړي له قرآني احكامو سره سم په حركت راولي نو هغه په حقيقت كې يو متحرک قرآن كېږي.

لمونځ د دې لپاره تمرين دی چې انسان د ژوند په ټولو حالاتو كې متحرک قرآن شي.

**۸- لمونځ په غيب باندې له ايمان نه وروسته د متقيانو بنسټيز صفت:** خدای (ج)فرمايي: چې عظيم الشان قرآن د متقيانو لپاره هدايت دی، هغه څوک چې په غيب باندې ايمان لري او لمونځ كوي او له هغه څه نه چې ورته وركړل شوي نفقه كوي:

اَلَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَ يُقِيْمُونَ الصَّلَاةَ وَ مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ (البقره/٣)

له دې آيت شريف سره سم په غيب باندې له ايمان نه وروسته د مسلمانانو بنسټيز صفت لمونځ دی.

**۹- لمونځ لوی آمر (الله (ج)) ته فرمانبرداري:**خدای (ج)مؤمنانو ته امر كړي چې بايد لمونځ وكړي.

Download from: www.aghalibrary.com

وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ وَارْكَعُواْ مَعَ الرَّاكِعِيْنَ(البقره/۴۳)

لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ او رکوع کوونکو سره رکوع وکړئ. هغه څوک چې لمونځ کوي، الهي امر ته تسلیم شوي دي او هغه څوک چې لمونځ نکوي هغوئ د الله(ج)نافرماني کړې ده، ځکه الهي قاطع امر چې په قرآن کریم او نبوي (ص) په سنتو ثابت شوی دی یې پرې ایښی دی.

**۱۰- لمونځ د پروردګار(ج)د شکرادا کولو نمونه:** هر کله چې کوم انسان موږ ته ډالي راکړي؛ نو د هغه موقف ته د درناوي لپاره د منني او درنښت څرګندونه کوو، ځکه زموږ دغه شکرګذاری د هغه د رضایت لامل کېږي تر څوچې په راتلونکې کې هم زموږ لپاره دا ډول کارونه وکړي. خدای (ج)چې ډېر لوی او مهربانه ذات دی او انسان ته یې ډېر ګران بیه نعمتونه ورکړي دي، چې که هر کله وغواړو چې دا نعمتونه حساب کړو؛ نو زموږ لپاره به یې محاسبه ستونزمنه وي:

(وَاِنْ تَعُدُّواْ نِعْمَةَ اللهِ لَا تُحْصُوهَا .......(ابراهیم والنحل/۱۸)

په موږ باندې لازم دي چې د الله (ج) له دربار څخه د منني لپاره لمونځ ادا کړو؛ ځکه چې لمونځ د الهي نعمتونو شکر دی.

**۱۱- لمونځ د رشد او کمال ښنه:** لمونځ د جوړوني کارخونه ده. یو ماشوم چې د خپلې مور شیدې خوري په حقیقت کې یې بشپړ خواړه خوړلي دي او دغه بشپړ خوړو د هغه د بدن ټولې اړتیاوې پوره کوي. ښايي د دې ماشوم مور عادي خواړه خوړلي وي؛ ولې خدای د دې ماشوم لپاره له هماغه عادي خوړو څخه داسې شیدې چمتو کوي چې د ماشوم د بدن ټولې اړتیاوې لکه ویټامنونه، کلسیم، اوبه، پروټین او د هغه ماشوم نورې اړتیاوې پوره کوي.

خدای(ج)د انسان لپاره د انسان د شخصیت او معنویت د کمال ښې په لمانځه کې ایښې دي. د تواضع ادب، د امتیازاتو ټاکنه، د کښېناستلو، ولاړېدلو، ودرېدلو، ټيټېدلو، سم چمتووالي اسلوب د جامو، بدن، ځای او زړه پاکي ټول په لمانځه کې دي او دا ټول صفات د انسان د شخصیت د کمال لپاره د هغه په مالي او معنوي اړخ کې بې پایه مهم اغېز لري.

د دې کار د اثبات لپاره باید د کمال مفهوم په لنډ ډول پوه شو. کمال د انحطاط، ټيټوالي او رکود یا ماتې مخالف ټکی دی. د یو موجود تکامل او استکمالي (د کمال په لور) حرکت له هغه تدریجي حرکاتو څخه عبارت دی چې هغه ته حاصلېږي او د هغوئ په اثر هغه استعداد چې د یو کمال وجودی صفت ته د رسېدو لپاره یې لري؛ فضیلت ته رسېږي چې دا خدای (ج) ته د رسېدو موجب ګرځي.

**۱۲ - لمونځ له خدای پاک سره مینه ده:** که چېرې د لمونځ حقیقت ته په غور سره فکر وکړو، په دې به پوه شو چې لمونځ له خدای (ج) سره مینه پیدا کېدل؛ ځکه پنځه ګوني لمونځونه کول مومن انسان خپل پروردګار ته نږدې کوي او هغه تل د هغه په یاد کې وي.

خدای (ج) موسی (ع) ته وفرمایل: (اقیم الصلات) لمونځ قایم کړه او دلیل یې هم بیان کړ (لذکری) ددې لپاره چې زما یاد په تا کې ژوندی شي او هروخت چې انسان د خدای (ج) په یاد کې په لمانځه بوخت شي، اړیکه له خدای (ج) سره پیاوړې کېږي او د زړه سکون ورته حاصلېږي.

کوم کسان چې د لمانځه او د خدای (ج) د ذکر پرځای د هندوانو او بت پرستانو د سریالونو او پروګرامونو په ننداړو باندې بوخت وي، په پای کې پخپله او د کورنۍ غړي یې له بت پرستانو سره مینه او محبت پیدا کوي او د قیامت په ورځ انسان له هغه چا سره را جمع کېږي چې له هغه سره یې مینه ولري.

Download from: www.aghalibrary.com

له خدای متعال (ج) سره مینه د هغه د رحمت تر سیوري لاندې ژوند دی.

**۱۳ ــ په لمانځه سره خدای (ج) ته نږدې کېدل**: د یو مومن وګړي لوړه موخه د الهي درګاه ته نږدې کېدل دي، دا مسلمان هڅه او تلاش کوي چي خپل ځان خدای عزوجل ته نږدې کړي او د هغه حضور ته نږدې شي او هروخت چي پنځه وخته لمونځ پخپل وخت ادا کړي دی موخی ته رسیږی او د الله تعالی نږدېوالی ورته حاصلېږي.

په حدیث شریف کي راغلي دي چي بنده هغه وخت خپل خدای (ج) ته ډېر نږدې کېږي چي د خدای (ج) په حضور کي سجده وکړي.

**۱۴ ــ لمونځ د معنوي روحيي د پياوړتيا وسيله**: لمونځ د یو مومن لپاره د هغه د معنوي قوې د پياوړتيا سبب کېږي هغه د ژوند په بیلابیلو ساحو کي پیاوړی او قوي معنویت ته بوځي، د پراخی سبب کېږي او دغه معنوي او روحي پیاوړتیا د هغوئ په مادي پرمختګ کي ارزښتناکه اغېزه لري، مګر د مسلمانانو د معنویت کمزوري ددې سبب شوی چي پخپلو مینځو کي ټوټې- ټوټې شي او په پای کي د استعماری ځواکونو په وړاندې هم کمزور شوه.

ددې لپاره چي د مسلمانانو روح یوځل بیا په پیاوړتیا پیل وکړي، لازمه ده چي د عبادت مفهوم یوځل بیا د مومنانو په نظر کي وځلیږی ټول په دې اړه یوه خوله دی چي د مسلمانانو د ټولو خواریو او بزدلیو سبب د معنوي روحيي په کمزورتیا نفاق کي ده. لمونځ کولای شي چي دا درد دوا کړي.

خدای (ج) څه ډول لمونځ له مومن نه غواړي؟

خدای (ج) هغه لمونځ غواړي چي هغه روحیه پکي وي چي د لمونځ ریښتیني معنی پکي ترلاسه شي.

**۱۵ ــ لمونځ د وخت پیژندني یوه وسیله ده**: وخت د انسان لویه شتمنی ده. متمدن انسانان پخپل ژوند کي تل یو منظم مهال ویش لري او که هر وخت د لمونځ وختونو ته په غور سره پام وکړو لمونځ انسان وخت پیژندني او د وخت ارزښت ته متوجه کوي. د مسلمانانو لمونځ ۲۴ ساعته ندی، بلکي د ورځی او شپي په اوږدو کي د لمانځه لپاره دقیق وختونه فرض کړل شوي دي.

لمونځ کوونکي مسلمانان د لمانځه دغه مهال ویش په خپلو ټولو کارونو کي تطبیق کوي، د خپل هر کار لپاره مهال ویش لري ترڅو یې چارې منظمی شي او هرڅوک چي د خپلو دندو د ترسره کولو لپاره د لمانځه د مهال ویش په څیر یو مهال ویش ولري. پرته له شک څخه د خپلو هم رتبه کسانو په منځ کي به په اول کتار کي ځای ولري اواول نمره به وی، ځکه چي د ځوانو محصلینو او ټولو کارکوونکو ډېری بدبختی د ژوند لپاره د یوې ځانګړی پروګرام او د عملي کارونو لپاره د یو مهال ویش نه درلودل دي، چي دا کار د وخت د ضایع کېدو او وروسته پاتي والی سبب ګرځي.

کاش چي زموږ مسلمان ملت دغه ایماني درسونه په پام کي ونیسي او د هیواد د پرمختګ لپاره ګټور تمام شي.

**۱۶ ــ لمونځ د دين ستن ده**: لمونځ د اسلام د سپیڅلی دین یو مهم اصل دی چي په ټولو اسلامي بناوو کي د کلیمي طیبي څخه وروسته ځای لري او په حدیثونو کي حضرت پیغمبر لمونځ د دین ستن بیان کړې ده.

Download from: www.aghalibrary.com

کچېرې اسلام د يو بنسټ په څېر وي چې هغه د بنا په څېر په خپل ذهن کې تصورکړو، ددې بنا ترټولو بنسټيزهيې لمونځ دی چې ټول عبادتونه پياوړی کوي.

نو پردی بنا هروخت چې څوک وغواړي د اسلام کور يې پرېښنو ودريږي لمونځ دې وکړي څکه چې د لمونځ پرېښودل يې د دين بنسټيزه ستن ويجاړوي.

**۱۷ ــ د محمد (ص) د امت پېژندل له څېرو څخه:** د قيامت په ورځ چې د مومن او کافر بشريت يو- يو د پروردګار(ج) ذات په وړاندې د حساب ورکوني او پوښتني لپاره ودريږي او هر کس د خپلې اعمال نامي د اخيستلو لپاره انتظار وباسي په دې ورځ پيغمبر (ص) د خپل امت شفاعت کوي؛ ولې پوښتنه ولاړيږي چې حضرت محمد (ص) خپل امت څنګه پېژني؟

د هغې ورځې د سختی له کبله ټول خپل اصلي رنګونه له لاسه ورکوي او توريږي، يوازې د پيغمبر (ص) د لمونځ کوونکو امتيانو مخونه او لاسونه او پښې به چې د اودس په وخت کې وينځل شوی دی سپين وی، څکه په هغو ځايونو چې د اودس اوبه ورته رسيدلی دی د قيامت لمر ورباندې اغېزه نشي کولای دغه لمونځ کوونکی خلک له لرې د سپينو مخونو، لاسونو او پښو څخه پيژندل کيږي او پيغمبر (ص) هم هغوی د همدغو مخونو څخه پيژني او شفاعت يې کوي.

لنډه دا چې د لمونځ کوونکو انسانانو په څيرو کې هم په دنيا او هم په اخرت کې د ايمان نور وي او بی لمانځه خلک هم په دنيا او هم په اخرت کې د بی ايمانه انسانانو په څير د ايمان له نور څخه محرومه وي او په څيرو کې يې د اخرين پيغمبر د امت نښي نه ليدل کيږی.

**۱۸ ــ لمونځ د مومنانو لپاره يو قېمتي الهي نعمت دی:** که د لمانځه حقيقت او فلسفي ته پام وکړو پوهېږو چې لمونځ د بنده لپاره يو فرصت دی، چې له پرودرګار (ج) سره عرض او نياز وکړي، له هغه سره خبرې وکړي، له پروردګار (ج) سره د ملاقات يوه موقع ده. تاسې فکر وکړئ، که يو ولسمشر يو کس ته وخت ورکړي چې له هغه سره ملاقات وکړي، هغه څومره خوشحاليږي چې فلاني ولسمشر له ما مسکين سره ملاقات کوي. په داسې حال کې چې ولسمشران له بېچاره او ناتوانه خلکو سره ملاقات نه کوي او ډېری وختونه چې ولسمشران او پاچاهان له کومې لارې نه تېريږي، خلک په هغې لارې تېرېدلو ته هم نه پرېږدي؛مګر راځئ چې وګورو چې پروردګار(ج) چې (مالک يوم الدين) دی. نه يوازې د دنيا بلکې د آسمانونو او ټولو آسماني اجرامو او مخلوقاتو امر دی، د قيامت د ورځې رښتينی امر چلوونکی دی، چې په هغه ورځ د پاچاهان او ولسمشران عادي او ساده وګړي وي، دغه د دواړو نړی والو (دنيا او اخرت) پروردګار يو بنده ته چې ښايي ډېر بيوزله هم وي موقع ورکوي چې له هغه سره ملاقات وکړي، له هغه سره خبرې وکړي او خپل دردونه هغه ووايي.

نو لمونځ يو قېمتي نعمت دی چې د الهي بندګانو ته ورکړل شوی دی او د هغو خلکو په حال شاباس چې له دې موقع نه ګټه واخلي خپله عريضه پروردګار (ج) ته وړاندې کړي او پروردګار (ج) هم د هغه عريضه قبوله کړي او د دنيا او اخرت نېکبختي يې د هغه په نصيب کړې ده.

Download from: www.aghalibrary.com

**۱۹ ــ لمونځ د مومنانو لپاره د الهي غیبي خزانو پرانېستل دي:** که انسان د لمانځه لویوالی ته په غور سره فکر وکړي پوهېږي چې د الهي رحمت دروازې هغه وخت انسان ته خلاصېږي چې انسان د لمانځه په حال کې د الهي دربار ته رجوع وکړي.

کله چې معتقد مومن له ستونزې سره مخ شي او د حل لاره یې ونلري یا په ناروغی اخته شي، سمدستي لمانځه ته ورګرځي او له پرودګار(ج) سره خپل عرض او نیاز کوي او په پای کې دا درک کوي چې متعال خدای یې ستونزه اسانه کړي او د غیبي خزانو دروازې یې په مخ ورته پرانېستلي دي.

خدای (ج) رښتینی طبیب دی او د انسان د ستونزو دوا یې په لمانځه کې بیان کړې ده. کله چې انسان په ستونزه اخته کېږي؛ د ستونزې د لرې کولو لپاره طبیب ته ځي چې ورته نسخه ولیکي او د ناروغی د درملني لاره یې پیدا کړي. په ډېرو ستونزو کې چې طبیبان نشي کولای له انسان سره مرسته وکړي؛ خدای (ج) انسان ته د درملني لاره بیان کړې ده، د ستونزې پر مهال دغه الهي درملنه په لمانځه کې شته ده:

(وستعینوا باالصبر والصلات... (البقره/۴۵)

په صبر او لمانځه سره مرسته وغواړئ.

او پیغمبر (ص) به د ستونزو په مهال لمانځه ته رجوع کوله، ځکه چې د لمانځه په مهال ټولې پردې لرې کېږي او بنده او د هغه د پروردګار ترمنځ هېڅ خنډ شتون نلري، بنده کولای شي د لمانځه پر مهال خپلې ستونزې پرودرګار ته وړاندې کړي له هغه نه مرسته وغواړي او د خپلو ستونزو د حل لار هغه سره شریکه کړي.

**۲۰ ــ لمونځ انسان له خپلې ټولنې سره نښلوي:** بله اغېزه چې لمونځ یې د مسلمانانو په ژوند کې منځته راوړي؛ داده چې د الهي نږدې والي په څېر هغه له انساني ټولنې سره نښلوي او د ټولو انسانان په پرتله بلکې ټولو همدوله کسانو سره اګر که نامسلمان هم وي؛ یو مسول وګړی جوړېږي او دا د لمانځه روح او د خدای عبادت دی، چې هېڅکله نه پرېږدي چې وګړي د خدای د مخلوق په وړاندې بې تفاوته پاتې شي او ټولنیز احساس او مسولیت ونلري.

نو په لمانځه کې دوه لویې اغېزې نغښتې دي:

**الف:** فردي اغېزه چې خدای (ج) ته د هغه د نږدېوالی سبب ګرځي.

**ب:** ټولنیزه اغېزه چې هغه په ټولنه کې یو مسول وګړی جوړوي؛ یعني داسې نشي کېدای چې یو کس دې لمونځ کوونکی او عبادت کوونکی وي او په عین وخت کې دې د بشري ټولنې او همدوله کسانو په وړاندې د هېڅ دندې او مسولیت احساس ونکړي. دغه د بشر دوستی احساس هغه وخت ډېر پیاوړی کېږي، چې انسان د مسجد په لور چې د خدای کور دی؛ روان شي او هلته له ټولو مسلمانانو سره لیدنه وکړي او له هغوی سره په یو کتار کې لمونځ وکړي او په دې ډول ټول کلی د یوې کورنۍ په څېر د یو له بل له ستونزو نه خبرېږي او د یو بل مرستې او کمک ته وردانګي.

Download from: www.aghalibrary.com

**۲۱ ــ لمونځ د پیغمبر (ص) اخري وصیت دی:** حضرت رسول الله (ص) د لمانځه په هکله ډېر زیات تاکید کاوه او د پیغمبر (ص) اخری خبرې همدا وې چي ویل یې: (الصلات، الصلات و ما ملکت ایمانکم) د لمانځه او د خپلو لاس لاندې خلکو په هکله ډېر متوجه و اوسئ.

**۲۲ ــ لمونځ د دین عملي بنسټ دی:** لکه څنګه چي د عقایدو په باب کي د خدای (ج) په واحدانیت باندي ایمان د سرچیني بنسټ او د دین او د ټولو موضوعاتو محور دی، په همدی ترتیب د اعمالو په برخه کي لمونځ د دین عملي بنسټ دی. په همدی سبب په قرآن کریم کي په لمانځه ډېر تاکید شوی دی په دومره کچه چي ګواکي لمونځ د دین محور او عملي بنسټ دی.

**۲۳ ــ لمونځ یوازنی همېشنی عبادت دی:** لمونځ یوازنی همېشنی عبادت دی چي په ټولو فرض دی. ټول عبادتونه په ځانګړو خلکو او په ځانګړو وختونو کي فرض دي، د بېلګي په توګه: حج او زکات یوازي په شتمنو او پانګه لرونکو مسلمانانو فرض دي، روژه په هر کال کي یوه میاشت فرض ده، مګر لمونځ یواځینی عبادت دی چي وروسته له ایمان راوړلو نه پرته له قید او شرط نه د هغه ادا کول په هر عاقل او بالغ مسلمان که سړی وي که ښځه، مقیم وي که مسافر، غني وي که فقیر، روغ وي ناروغ هره ورځ پنځه وخته فرض دی او استثنا یواځي د ښځو لپاره د (حیض او نفاس) په حالت کي شته ده.

**۲۴ ــ په ځانګړي ځای کي د لمونځ د فرضیت فلسفه:** کله چي لمونځ د ټولو عبادتونو سره پرتله کړو په اول کي ټول عبادتونه په ځمکه کي فرض دي، مګر لمونځ د رسول الله (ص) د معراج په وخت کي په اسمانونو کي او هغه هم په سدره المنتهی کي هغه ځای کي چي ستر الهي رسول الله (ص) بللی و؛ هم فرض شوی وو. په دا ډول ستر مقام کي د لمونځ فرضیت د لمانځه منزلت په ښه ډول روښانوي او داچي رسول الله (ص) د معراج په مهال دا ډول توښه لاسته راوړه؛ نو پردې بنا لمونځ الهي بارګاه ته د هر مومن معراج دی هغه شامخ مقام ته چي د هر مومن غوښتنه ده . لمونځ مومن انسان ترټولو لوړ مقام ته د نیکمرغیو په لور او له پروردګار سره د خبرو اترو لپاره بیایي هغه له ټیټو منزلونو نه د ترټولو لوړو منزلونو ته پورته کوي.

**۲۵ ــ لمونځ د ټولو پرښتو د عبادت خلاصه:** څه وخت چي رسول الله (ص) له آسمانونو نه تیریده او پرښتی یې لیدلی چي په بیلابیلو ډولونو د خدای عزوجل مشغولي وې، یوه ډله د قیام په حالت کي یوه ډله د ناستی او قاعدی په حالت کي یو ګروپ د رکوع او بله ډله د سجدی په حالت کي وې.

دغی ښکلي منظرې د رسول الله (ص) زړه د یوه ذات عبادت ته لکه د پرښتو په څیر کش کړ او همدلته یې ارزو وکړه چي کاشکي د هغوی په څیر د خدای عزوجل په عبادت کي په داسي حالتونو کي مشغول وای او کاشکي دا ډول چانس یې د امت لپاره هم برابر شوی وای. خدای عزوجل د رسول الله (ص) دغي غوښتني ته لبیک ووایه چي د لمانځه د ادا کولو الهي حکم ورته نازل شو او د ملایکو ټول بیلابیل عبادتونه چي قیام، قعده، رکوع ، سجده وه په لمانځه کي شامل شو او څوک چي لمونځ ادا کړي د ملایکو ټول عملونه یې ادا کړي دي او خپل ځان یې له یوې پرښتې سره نه بلکي له ټولو پرښتو سره یوشان کړی دی او پردی بنا له مادی حالت نه بیرون شوي په معنوي حالت کي داسي د الهي په دربار کي ځای نیسي لکه چي بی وزره پرښته ده.

Download from: www.aghalibrary.com

**۲۶ ـ لمونځ د مومنانو ترمنځ عهده ده**: په يو حديث شريف کي د حضرت آنس (رض) څخه روايت دی چي رسول کريم (ص) وفرمايل: څوک چي زموږ لمونځ ادا کړي او زموږ د قبلي درناوی وکړي او زموږ په لاس حلال شوی حيوان وخوري او له خدای او د هغه له پيغمبر سره په عهد کي دی؛ نو پردې بنا د دغه عهد په ماتولو کي دی کار نلري[۱].

---

**۲۷ ـ په لمانځه کي د پروردگار (ج) څو امرونه پر ځای کيږي**: که د لمانځه حقيقت ته نظر وکړو؛ گورو چي په لمانځه کي مختلف رکنونه شتون لري چي خدای (ج) په هر يوه باندې په جدا توگه امر کړی دی، نو پردې بنا د لمانځه ادا کول د الهي څو حکمونو ته لبيک ويل دي، مثلاً:

- اقيموا الصلات (لمونځ قايم کړئ)
- وارکعو مع راکعين (له رکوع کوونکو سره يوځای رکوع وکړئ)
- واسجد واقترب (سجده وکړه او د خپل رب نږدېوالی وگټه)
- الذين يذکرون الله قياماً و قعودا (هغه کسان چي په ولاړه او ناسته د خدای په ثنا مشغول دي)
- فسبح بحمد ربک (د خپل پروردگار په ستاينه تسبيح ووايه)
- عظموا ربکم (خپل پروردگار مو په لويئ يا عظمت ياد کړئ)

**۲۸ ـ لمونځ د توبی لپاره دروازه او د نيکيو په لور کرځېدل دي**: گناه داسي شی نه دی، چي په لحظه کي ترسره شي؛ بلکي گناهونه او معصيتونه د انسان ډېر وخت نيسي که احياناً يوه گناه ددې سبب کيږي چي د انسان زيات لمونځونه قضا او پرېښودل شي؛ هر وخت چي يوڅوک د لمانځه په ارزښت پوه شوی وي او تل خپل لمونځ په خپل وخت ادا کړي او پوه شي چي پيغمبر (ص) فرمايلی دی چي (من ترک الصلات متعمداً فقد کفر) هرچا چي لمونځ په قصد سره پرېښودو، هغه کافر کېږي او د علماوو په وينا که حقيقي کافر نشي نو د لويی گناه مرتکب شوی او ځان يي د کفر او شيطان دوستی ته نږدې کړی دی. دغه مومن انسان اگر که د شيطانی وسوسو او نفسانی غوښتنو په بنسټ يي د شيطان فريب خوړلی او د خپل ظالم نفس پيروي يي کړې ده او علاوه ددی گناه نه خپل څو لمونځونه يي هم ترک کړي دي، هغه ته لويه پښيماني پيښه شوه او سمدستی د الهي درگاه ته توجه کوي، توبه کوي، ژاړي، له خدای (ج) نه بخښنه غواړي او همدا لمونځ ددی سبب کيږي چي هغه خپله پښيماني ددې گناه نه ښکاره کوي او په راتلونکي کي تصميم نيسي چي بيا به دې گناه ته لاس نه وړاندې کوي.

---

[۱]: حدثنا عمرو بن عباس قال حدثنا ابن المهدی قال حدثنا منصور بن سعد عن ميمون بن سباه عن انس بن مالک قال قال رسول الله (ص) من صلی صلاتنا و استقبل قبلتنا و اکل ذبيحتنا قدلک المسلم الذی له غه الله و دمه رسوله فلا تخفسروا الله فی دمته) حديث نمبر ۳۷۸ کتاب الصلات صحيح البخاری.

Download from: www.aghalibrary.com

ځکه چي هغه په پای کي پوهېږي چي د یوی ګناه په مرتکب کېدلو سره د څو ګناهونو مرتکب شوی دی. هغه د خپل پروردګار له خبرو څخه محروم شوی دی، ځکه په ګناه کي د هغه مشغولتیا د هغه له خپل دوست سره د ملاقات خنډ وګرځیده.

**۲۹ ــ لمونځ د ځوانی په دوران کي له خدای متعال سره د دوستی لاره ده**: له هیڅا نه پټه نه ده، چي د ځوانی او ځلمیتوب وخت ژوند جوړونکی او د یو انسان په ژوند کي بنسټیزه مرحله ده. یو روان شناس وایي: (په ځلمیتوب کي د شخصیت او هویت مسله په ټول شدت سره له تانه میدان ته را دانګي، نو ځلمیتوب او ځواني د هستی یوه له ډېرمنو مراحلو او مرتبو څخه ده چي د هغی په دوران کي د لوی عمره شخص د شخصیت او هویت قطعی تثبیت شوی بنی دوباره مطرح کېږي). د همدی موخی په بنسټ د اسلام سپیڅلی دین د ځوانان پام لومړی اعتقادی او اخلاقی باورونو ته جلبوي، چي ځوانان د خپل ژوند هستي په پوره باور او آرامی سره پیل کړي.

ډېری ځوانان د ځوانی د پیل او د ځوانی په مرحله کي ډېر احساساتی او دقیق وي . او هغه ځوانان غواړي چي په ټولنه کي ملګري ولري . او ځیني وخت دوی د یو ښه ملګري لپاره د ځان ټوله هستي له یاد څخه اوباسی او د خپل ملګري په خاطر ځان هم قربانوي. اصلاً د ملګري د پیدا کولو لپاره یي دلېوالتیا دلیل دا دی چي هر انسان په خپل ژوند کي یوهمراز ته اړتیا لري، تر څو د درد، رنځ، ستونزو، اومصیبت په وخت کي له هغه سره همراز شي او د ژوند ټول رازونه ورسره شریک کړي او د هغه ملګري د هغه مشکلات په ښه توګه او په حوصله مندی سره واوري . او د مشکلاتو د حل لپاره یو ښه سالاکار او ریښتیني لارښود وي. او ډېر داسي مادي او مجازي ملګري هم شته چي نه یوازي د درد او مشکلاتو دوا ندي، بلکي د نورو بدبختیو لامل هم ګرځي. هغه کسان چي په مخدره توکو باندي اخته شوي، علت یي په مخدره توکو باندي اخته کسان او یا د مخدره توکو دتجارانو سره کېناستل او ملګرتیا ده . او هغه کسان چي په ټولنیزو جرمونو باندي اخته دي، د هغه علت هم د نا اهلو ملګرو لارښوونه او مجلسونه دي، چي دځوانانو راتلونکی یي برباد کړي دی. او دهر جنایت تر شا د یوه نا اهله ملګري لاس دی. او دا ځوانان ډېری وختونه د ځوانی د احساساتو په خاطر له خطرونو سره مخ کېږي چي په پایله کي یي دا ځوان نا هیلی کېږي او له ملګرو څخه کرکه کوي او کله چي یو ځوان د ځوانی په پیل کي د الله (ج) په عبادت باندي بوخت وي او دالله (ج) سره مینه ولري، دالله (ج) سره مینه انسان دنیوی نیکبختي او اخروي نیکیو ته رسوي او کله چي غواړي چي له خپل حقیقي ملګري سره خبري وکړي، نو قرآن شریف له معنی سره ووایي او په هره ستونزه کي دا ملګری ورسره دي دا ملګري قوي ، ځواکمن، قادر،غچ اخیستونکي ،مشکل کشا او مدد رسوونکي دي. او د الله (ج) سره ملګرتیا هغه د زیاتو مجازي ملګرو څخه مستغنی کوي او دالله (ج)په مرسته هغه ډېرموخو ته رسیدای شي.

**آنکس که ترا شناخت جان را چي کند**

**فرزند وعیال و خانمان راچي کــــــند**

**دیوانه کنی هردو جهان ش بخـــــشی**

**دیوانه تو هر دو جهان را چي کــــــند**

Download from: www.aghalibrary.com

له دې امله کله چې يو ځوان د الله (ج) په عبادت بوخت وي او د الله (ج) سره ملګريتوب وکړي؛ د قيامت په ورځ به د لوړې رتبې او ځوکې څخه برخمن کيږي، هغه وخت چې ورځ يې پنځوس زره کاله د دنيا دکلونو کيږي او د الله (ج) د رحمت تر سيورى لاندې به اوسيږى.

**۳۰- رکوع دالله (ج) لپاره تعظيم**: شيطان هميشه کوښښ کوي چې د مخلوق مينه د انسان به زړه کي زياته کړي او بنده د الله(ج) له ياد څخه بې پروا کړي او هغه انسان د مخلوق تعظيم ته ورسوي، رکوع په لمونځ کي د خالق د عظيمت او لويوالى بيان کوي او بت پرستان او مخلوق پرستان خپل سر باطلو معبودانو ته ټيټوي خو د الله (ج) مخلص بنده ګان فقط الله (ج) ته سر ټيټوي او په هر رکوع کې وايي :سبحان ربى العظيم (پاک دى با عظمت پروردګار). دکلام خلاصه په فلسفه کې دا بيانوي چې هېڅ يو بنده دالله ج لپاره په حقيقت کې رکوع نکوي مګر چې الله (ج) هغه کس په خپل جمال کې ښکلا ورکړي او تر خپل کبريا سيوري لاندې يې وساتي.

رکوع لومړي پړاو کي او سجده دوهم پړاو کي او هرچا چې لومړي پړاو په ښه توګه ترسره کړه د دوهمپړاو شايستګى يې تر لاسه کړى ده. رکوع بشپړ ډول خضوع او خشوع ده، چې سجده په متابعت سره کامله شي.

له بيع بن خثيم نه روايت دى چې پر يوه رکوع به يې ټوله شپه سبا کوله او کله به چې سهار ته ورسېد نو خپل بدن به يې نبغ (سم) کړ او ويل به يې: آه مخلصانو مخکې والى وکړ او موږ له لارې پاتې شو.

نو اى مؤمنه! خپله رکوع دى بشپړه کړه، سره له دې چې شا د سمه (نبغه) ده او له دې څخه وګڼه چې په خپل قدرت او همت سره د هغه خدمت قيام وکړې او دا د الله (ج)له مرستې نه پرته امکان نلري.

زړه دې د شيطان له وسوسو، دوکو او نېرنګونو څخه لېرې وتښتوه؛ ځکه چې خداى (ج)خپل هغه بنده ګان لوړوي چې پر وړاندې يې سر ټيټ کړى وي او هغوئ په هره اندازه چې دهغه عظمت د هغوئ پر باطنو باندې رڼا وغورځوي د تواضع حقيقت ته رسوي او د خپل ځان پر وړاندې ورته هدايت کوي.

او په رکوع کې د اوږدوالي معنا دا ده چې په خداى (ج) ايمان کي استوار يم که سر مي هم ووهل شي او له رکوع نه د سر راپورته کولو او (سمع الله لمن حمده) معنا داده چې هر مسلمان په دې عقيده دى چې د خداى (ج)ذات زموږ حمد او ثنا اوري. کله چې مو د تعظيم سر د هغه دربار ته ټيټ کړ او د هغه په عظمت مو خوله پرانستله، ټول يې واورېدل او هر حمد په مستقيم ډول ورپادوي او دا دخداى (ج)په صمديت( بى نيازى) باندې عملي اقرار دى او هېڅکله دغه مؤمن انسان نورو ته نه ورځي له واسطه لټولو صرف نظر کوي او خپل نېک اعمال د الله (ج) دربار ته د تقرب (نږدېوالي) وسيله ګرځوي.

**۳۱- سجده د بنده ګى د کمال نښه:** سجده د اقدس رب په دربار کي د سر سولول او له خپل ځان څخه سترګي پټول دي. د بدن تر ټولو لويه برخه چې سر دى هغه پر خاوره باندې اېښودل او ځان حقير ګڼل دي.

د سجدې روح له فاني او مادي چارو څخه د زړه خلاصول او له دنيوي علايقو څخه اميد پرې کول دي.

د سجدو حقيقت معبود سره يوځاى کېدل دي او د خپل پرودګار له محمود مقام سره دبنده وصال دى.

Download from: www.aghalibrary.com

خدای (ج)ته د نږدېوالی تر ټولو غوره حالت دی چې په اړه يې اقدس ذات فرمايلي دي(واسجدو و اقترب) سجده وکړه او نږدېوالی ولټوه.

د اچې نږدېوالی په سجدو کې ايښودل شوی دی، په همدې دليل کولای شوچې ادعا وکړو چې د بنده ګی د کمال نښه په سجدوکې ده او په يو روايت کې راغلي چې: خدای (ج)ابراهيم (ع) د اوږدو سجدو له امله د خليل الله مقام ته ورساوه.

اما د سجدې په اړه هغه څه چې له رواياتو څخه را څرګندېږي دا دي چې انسان د خپل معبود پر وړاندې هر ډول تکبر او ځان غوښتنه ادعا نفي کوي او ټول عظمت او کبريا د هغه اقدس ذات ګڼي.

روايت دی چې يو کس پيغمبر (ص)ته راغی او ويې ويل: ای د خدای (ج)رسوله! زما ګناهونه بې شمېره دي او زما نېک عمل کم، پيغمبر (ص)وفرمايل: پرېمانه سجدې وکړه ځکه چې سجده ګناهونه داسې لرې کوي لکه باد چې د ونو پاڼې رژوي.

په دې هکله د کلام خلاصه دا ده چې حضرت علی (رض) د سجدو د فلسفې په اړه وپوښتل شو، هغه وفرمايل:

لومړی سجده په دې معنا ده چې ای خدايه! زموږ اصل له خاورې نه دی.

له سجدې څخه د سر راپورته کولو معنا دا ده چې خدايه! موږ دې له خاورې نه را وايستو.

د دوهمې سجدې معنا دا ده چې خدای! بېرته موږ خاورې ته ور ګرځوې.

له دوهمې سجدې څخه سر راپورته کول په دې معنا ده چې خدايه! د قيامت په ورځ به مو يو ځل بيا له خاورې نه راپورته کړې.

**۳۲- تشهد د خدای (ج) پر وړاندې ناسته:** باطل پرستان په هر ځای کې د باطلو معبودانو پر وړاندې ناست او خپل ټول احترامات، پاکی او عبادات د هغوئ لپاره سر ته رسوي، ولې حقيقي مؤمنان له خدای هېڅوک نه شريکوي د خپل پروردګار پر وړاندې په خورا احترام سره ناست او خپل ټول احترامات، پاکي او درودونه د پروردګار ذات ته ځانګړې بولي او په دې باندې اقرار کوي.

مؤمن بنده دغه الفاظ په داسې حالت کې ادا کوي چې د خدای (ج)ذات تر ټول پورته ګڼي بيا په تشهد پيل کوي چې دا د خدای (ج)په يووالي او د حضرت محمد (ص)په رسالت باندې د شهادت تکرار او تجديد دی چې په دې باندې بنده، خدای (ج) او رسول (ص)يي پوهېږي چې په اصل کې په ايمان او اسلام باندې تأکيد دی.

مؤمن بنده هماغسې د خبرو او قول په مقام کې د بنده ګی څرګندونه کوي بايد د هغه کلام معنا د ضمير له پاکی سره پيوند کړي اوپه خپل ټول بدن سره د خدای (ج)بنده ګي وکړي، ځکه چې بايد پوه شي چې ټولې چارې د هغه په لاس کې دي هېڅ اراده د هغه له غوښتنې او ارادې پرته د هستی په نظام د هېڅ کار په سر ته رسولو باندې قادر ندی.

لنډه داچې د تشهد له اسرارو څخه يو دا دی چې بنده د پروردګار پر وړاندې ناست او اوس په نوي حالت سره د احترام تجديد او الله دربار ته د بنده ګی څرګندونه کوي.

Download from: www.aghalibrary.com

د بنده ژبه له زړه سره همغږې او خبرې له کردار سره همغږي او اقوال او عبودیت له اکثرپرستی څخه د توحید او یو پرستی نظام ته لیږدوي. همدارنګه دغه بنده په رسول کریم (ص) باندې درود استوي او له الهي دربار څخه د هغه لپاره د رحمت د زیاتوالي استدعا کوي.

د شهادت په کلمي سره عبادت د خدای ځانګړی بولي او محمد (ص) د خدای (ج)بنده او رسول بولي، هر یو ته یي له مقام او رتبي سره سم درناوی کوي. الهي مقام د معبودیت مقام دی او د پیغمبر مقام د بنده ګی او رسالت مقام دی.

او د لمانځه په پای کي تشهد دخپل ژوند سر مشق ګرځوي چي عبارت دی له:

- **التحیات:** (ټول احترامات د خدای (ج)لپاره ځانګړي دي).
- **والطیبات:** پاکی هم د خدای (ج) لپاره ځانګړې دي.
- **والصلوات:**لمونځونه او عبادات هم د الله (ج)لپاره ځانګړي دي.
- درود اوسلام د الله په را لیږل شوي باندې.
- د ځان او ټولو مؤمنانو لپاره د سلامتی دعا.
- د حضرت محمد (ص)په رسالت او بنده ګی باندې اعتراف.

## د حضرت محمد (ص) د لمونځونو خصوصیت او ځانګړتیا

هر مسلمان له دې پرته چي د لمونځ د حقیقتونو په اړه معلومات ترلاسه کړي، کوښښ او تلاش کوي چي خپل لمونځونه له کومي نیمګړتیا پرته ادا کړي. د دې لپاره چي لمونځونه یي سم شي او د الهي دربار کي د قبلیدلو وړ وګرځي، نو لازمه ده چي د حضرت محمد (ص) د لمونځونو خصوصیات درک کړي او خپل لمونځونه د حضرت محمد (ص) له لمونځونو سره سم ادا کړي، ځکه د انسان ژغورنه یوازې او یوازې په یوې وسیلې تر لاسه کېږي چي هغه د عظیم الشان قرآن او د رسول الله (ص) پیروي ده.

مقبول لمونځ چي د مختلفو صفاتو او فلسفو لرونکی او د انسان په ژوند کي زیاته آغېزه لري، هماغه لمونځ دی چي پیغمبر (ص) ادا کړی دی او صحابه کرامو (رض) ته یي فرمایلي چي (صلوا کما رایتومی اصلی) تاسي هماغسي لمونځ وکړئ لکه څنګه چي ما ګورې چي لمونځ کوم. صحابه کرامو د پیغمبر په لمانځه کي دوه برخي کتلي دي چي پر ځای خبره ده تر څو په دې مبحث کي دواړه برخی په مفصله توګه تشریح او توضیح کړو.

۱)د پیغمبر (ص)د لمانځه ظاهري بڼه.

۲) د پیغمبر د لمانځه روح.

**الف:** د لمانځه ظاهري شکل: حضرت عباده بن صامت (رض)وویل چي له پیغمبر (ص) نه مي واورېدل چي ویل یي: متعال خدای پنځه وخته لمونځ فرض کړی، هرڅوک چي اودس سم وکړي او خپل لمونځونه، رکوع او خشوع یي په بشپړه توګه په وخت ادا کړي، د خدای(ج) وعده ده چي هغه به وبخښي او هر څوک چي دا ونه کړي د خدای(ج) هېڅ وعده ورسره نشته که وغواړي هغه به وبخښي او که ونه غواړي هغه به ونه بخښي او هغه ته به عذاب ورکړي.

له دې حدیث شریف نه معلومېږی چي پیغمبر(ص) په خپلو لمنځونو کي څلور ټکي مراعت کول:

د پیغمبرصلی الله علیه وسلم

Download from: www.aghalibrary.com

د لمانځه ظاهري شکل

سم اودس — وخت — د لمانځه د ارکانو اداکول — خشوع

**۱) سم او صحیح اودس:** ځیني خلک اودس کوي خو د تنبلی او وارخطائی په بنسټ د اودس ډېر احکام هېروي، کله چې اودس سم نشي لمونځ هم نه سمېږي.

اګر چې انسان کولای شي په یو اودس ډېر لمونځونه وکړي، خو رسول کریم (ص) د اودس د لرلو سره سره هم د هر فرض لمانځه لپاره اودس کاوه. حضرت انس (رض)فرمايي چې پيغمبر (ص)د هر لمانځه لپاره اودس کاوه.

**۲) وخت:** وخت په لمونځ کې تر ټولو غوره عنصر دی. ځيني خلک د لمانځه په وخت کې بې پايه غافل وي. د مازيګر لمونځ تر هغې پورې وروسته کوي چې نږدې وي لمر پرېوزي او يا هم د کيسو پر مهال لمونځ هېروي څو وخته لمونځ ورڅخه قضا کېږي په ځانګړي توګه د ودونو په مجلسونو او محفلونو کې ډېر ضعيف الايمانه خلک دا کار کوي.

**۳) د لمانځه د ارکانو ادا کول:** پيغمبر (ص) به قيام، رکوع، له رکوع نه وروسته ودرېدل، سجده، د دوه سجدو تر منځ کېنښاستل، قعده (د التحيات لپاره کېنښاستل) او د لمانځه ټولي برخي داسي په ترتيب او صبر سره ادا کولي چې تر ټولو لوی مثال يې په رکوع، سجدې، له رکوع څخه د سر پورته کولو او د دوه سجدو تر منځ کېنښاستلوکې مساوات دي.

په نني عصر کې موږ ګورو چې ډېرئ مسلمانان په خپلو لمونځونو کې له رکوع څخه د پورته کېدو او د دوه سجدو ترمنځ د کېنښاستو پر مهال بې پايه بيړه کوي. په هغه حالت کې چې رسول کريم (ص) څلور شيان يو ډول ادا کول يعني په هماغه اندازه چې رکوع يې کوله له رکوع د پورته کېدو پر مهال يې هماغه اندازه توقف کاوه. همدارنګه په هماغه اندازه په سجده او د دوه سجدو ترمنځ په ناسته کې توقف کاوه چې دا څلور چارې يوه له بلې مساوي کېدلې.

حضرت براْ (رض) فرمايلي چې له قيام او قعدې نه پرته د پيغمبر (ص) د رکوع، سجدې، د دوه سجدو ترمنځ او له رکوع څخه د سر پورته کولو وخت يو له بل سره مساوات ته نږدې ول.

له دې حديث شريف څخه معلومېږي چې پيغمبر له رکوع څخه په پورته کېدو، د دوه سجدو تر منځ ناسته کې په خورا ډېر احتياط کاوه چې حتی هغه يې رکوع او سجدې ته ورته ادا کول.

نو راشی ! د رسول (ص) کريم په څېر لمونځ وکړو.

امام قرطبی د دې آيت په تفسير کې په لاندې توګه ليکي:

د خشوع ځای زړه دی او هرکله چې زړه کې خشوع پيدا شي، د بدن ټول غړي هم خشوع پيدا کوي.

په يو حديث شريف کې دي چې: پيغمبر (ص) يو کس وليد چې په لمانځه کې يې له خپلې ږيرې سره لوبې کولې، حضرت (ص)وفرمايل: که زړه يې خشوع درلودای نو د بدن غړو به يې هم خشوع لرله. (لوخشع قلبه هذا لخشع جورحه).

Download from: www.aghalibrary.com

لازم دي چي ښاغلي لمونځ كوونكي په خپل لمانځه كي دزړه حضور ولري په حديث كي دي چي:

**(لا صلاة الا بحضور القلب)** لمونځ د زړه له حضور نه پرته نه سمېږي.

همدارنګه يوازي هماغه اندازه لمونځ د پروردګار (ج)حضورته د قبوليت لپاره وړاندي كېږي چي دزړه حضور پكي شتون ولري. كله چي د زړه حضور له پروردګار (ج) سره وي نو زړه له نورو سره له بوختيا څخه منصرف كېږي فقط د الهي اقدس ذات (ج) ته متوجه كېږي نو انسان په دې حالت كي ځان د خپل خالق په دربار كي حاضروي هغه مخاطب كوي له هغه سره راز او نياز كوي او كله چي داسي حالت په خپل ځان كي پيدا كړي نو تر ټولو ډېرسعادت (نېكبختي) ورته په نصيب كېږي.

اما هغه كسان چي لمونځ د زړه له حضور نه پرته ادا كوي، په حقيقت هغه د يو قرض په څېر په ډېره بيړ ادا لولي او هېڅ خوند ورڅخه نه اخلي.

د محبوب محبت هغه مهال حاصلېږي چي له زړه نه له هغه سره راز او نياز وكړو.

ولي هر كله چي د حضرت انس (رض) حديث ولولو نو تعجب به مو لازيات شي چي موږ په دې عمر كي څومره خپل لمونځ د پيغمبر (ص) د لمنوځونو خلاف ادا كړو. راشئ دا حديث شريف ښه په دقت سره ولولو: حضرت ثابت (رض)وايي چي حضرت انس (رض) د پيغمبر (ص) لمونځ زموږ لپاره تشريح كړى دى، هغه داسي لمونځ كاوه چي كله به يي له ركوع نه سر راپورته كاوه نو دومره به ودرېده چي موږ به فكر كاوه چي هېر كړى يي دى.

دلته ګورو چي حضرت انس (رض) د مسلمانانو لپاره داسي بيان كاوه چي حضرت محمد (ص) په خپلو لمونځونو كي له ركوع نه وروسته دومره ودريده چي خلكو به فكر كاوه چي پاتي لمونځ يي هېر كړى دى ولي په حقيقت كي يي هېر كړى نه وو بلكي له ركوع نه وروسته درېدل بايد هم دومره اوږده وي.

او په بل حديث شريف كي راغلي دي چي د دوه سجدو تر منځ به يي هم ورته كار كاوه.

د دغه لارښوونو پر بنسټ كله چي به صحابه اكرامو (رض) كوم كس وليد چي د خپلو لمونځونود ركوع، سجدې او نورو ټولو چارو په ادا كولوكي تنبلي كوي او هغه په بيړه سرته رسوي نو هغه به يي متوجه كاوه، او پوهاوه به يي چي په دوه دقيقو كي د څلورو ركعتونو لمونځ ادا كول د پيغمبر(ص) د روش مخالف كار او د پيغمبر (ص)لمونځ داسي نه ؤ.

حضرت ابى وايل له حضرت حذيفه (رض) نه روايت كوي چي هغه يو كس وليد چي په خپل لمانځه كي ركوع او سجده سمه توګه نه ادا كوي، كله چي يي خپل لمونځ پوره كړ، نو حذيفه (رض)ورته وويل: چي تا لمونځ ندى كړى ....... كوم چي ورته يي وويل: كه ته په دغه حالت كي وفات شي نو د پيغمبر له سنتو نه پرته وفات شوى يي.

حضرت پيغمبر (ص) داسي لمونځ كاوه چي د لمانځه په هره برخه كي به ډېر په صبر او حوصلې ؤ هر حرف به يي له خپل مخرج څخه ادا كاوه او د هغو كلماتو او آياتو معنا ته به متوجه ؤ. حضرت ابن جبير چي يولوى تابعي دى وايي: چي له حضرت انس نه مي اورېدلي دي چي ويل يي چي له حضرت رسول الله (ص)نه وروسته ما په داسي هېڅ چا پسي لمونځ نه دى كړى چي لمونځ د دغه ځوان (عمر بن عبدالعزيز) په نسبت ډېر د نبى كريم (ص) لمانځه ته ورته

Download from: www.aghalibrary.com

وي. حضرت ابن جبیر د عمر بن عبدالعزیز په اړه فرمايي چې کله مو د رکوع او سجدې تسبیحات اندازه کړل د لس لس ځلو په اندازه تسبیحات ول د حضرت ابن جبیر او حضرت انس (رض) منظور دا دی چې حضرت عمر بن عبدالعزیز د پیغمبر په څېر لمونځ کاوه، لامل يې همدا ؤ چې په رکوع کې يې د لس ځل په اندازه سبحان ربی العظیم او په سجده کې يې د لس ځل سبحان ربی الاعلی په اندازه توقف کاوه.

له دې احادیثو نه معلومېږي چې د پیغمبر لمونځ ډېر له خشوع او تواضع سره یعني په کراره او د لمانځه په هره برخه کې په دقیق فکر کې ؤ. او څوک چې په لمونځ کې بیړه وکړي، په سجده کې د مرغانو د مښوکې وهلو په څېر په بیړه سجده وکړي او په سمه توګه يې ادا نکړي، حروف يې له خپلو مخارجو څخه ادا نکړي، خشوع او تواضع و نکړي نو لمونځ يې نه سمېږي.


**۴) خشوع:** د خشوع موضوع د لمانځه د معنوي برخې اړوند کېږي چې هلته به .........

**۷۲- د پیغمبر(ص) د لمانځه روح:** د لمانځه روح په لمانځه کې له خشوع څخه عبارت دی، او خشوع له ډېرې شکستګی،عاجزی ،نیاز او عزر سره د لمونځ ادا کول دي. البته په دې شرط چې د انسان هوښ، فکر او زړه یو خدای (ج) ته متوجه واوسي.

متعال خدای (ج)فرمایي:

قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ (۱) الَّذِينَ هُمْ فِي صَلاتِهِمْ خَاشِعُونَ (المؤنون/۲)

هغو مؤمنانو بریا تر لاسه کړه، چې پخپلو لمونځونو کې خشوع کوونکي دي.




ابن کثیر فرمایي: حضرت ابن عباس (رض) وفرمایل: خاشعون وېرېدونکي او آرامو ته ویل کېږي.

حضرت علی بن ابی طالب (رض)فرمایي: له خشوع منظور د زړه خشوع ده.

ابن کثیر زیاتوي چې په لمانځه کې خشوع هغو کسانو ته حاصلېږي چې خپل زړه د لمانځه د ادا کولو لپاره فارغ کړي او له ټولو چارو څخه راوګرځي او خپل زړه یوازې په لمونځ کې بوخت وساتي او له خپلو ټولو افکارو څخه لمونځ مهم او لوړ و ګڼي.

هرکله چې څوک وغواړي چې لمونځ يې سم او د خدای (ج) د قبول وړ وګرځي، باید د توان تر بریده کوښښ وکړي چې په خپل لمونځ کې خپل فکر د خدای (ج)عبادت متوجه کړي او له لمونځ څخه له بهرني افکارو نه ځان وساتي.

حضرت نبی کریم (ص)فرمایي: (لاصلاة الا بحضور القلب) لمونځ نه سمېږي، مګر د زړه په حضور سره قبلېږي. د

Download from: www.aghalibrary.com

زړه له حضور څخه منظور دادی چي د انسان ټول هوښ او فکر د لمانځه کولو پر مهال د متعال خدای (ج)ذات ته متوجه وي.
هرکله چي څوک خپل لمونځ د خدای (ج) له وېرې او خوف سره ادا کړي او خپلو حرکاتو ته متوجه واوسي، له احادیثو نه معلومېږي چي د پیغمبر لمونځ له خورا خشوع او تواضع سره کرار کرار او د لمونځ په هره برخه کي په آرام فکر سره ؤ. او څوک چي په لمونځ کي بیړه وکړي د مرغانو د ټونګو وهلو په څېر دی. کله چي په سجده کي بیړه وکړي، کلمات سم ادا نکړي، حروف له خپلو مخارجو نه ادا نکړي او په لمونځ کي خشوع او تواضع ونکړي لمونځ یي نه سمېږي.

## د ځینو صحابه وو او د خدای د دوستانو لمونځ

د خدای (ج) له دوستانو څخه له یوه ځیني وپوښتل شول چي تاسي څه ډول لمونځ کوئ؟ ویې ویل: کله چي زه لمونځ کوم، فکر کوم دا مي د ژوند وروستی لمونځ دی، خدای (ج) پوهېږي بیا به فرصت تر لاسه کړم که به مي عزرائیل (ع) روح قبض کړي. کله چي په لمانځه باندي ودرېږم فکر کوم چي کعبه شریفه مي په مخکي، جنت مي په ښي اړخ کي او دوزخ مي په کیڼ ارخ کي او متعال خدای مي په سر باندي ولاړ دی، په دي ډول لمونځ کوم.
که کوم څوک د خدای د دغه دوست په څېر لمونځ وکړي، په لمونځ کي یي خشوع، خضوع، بېچارګي او عاجزي را پیدا کېږي.
حضرت پیغمبر (ص) داسي لمونځ کاوه چي د لمانځه په هره برخه کي ډېر په صبر او حوصلي ؤ هر حرف یي له خپل مخرج نه ادا کاوه او دلمانځه آیتونو او کلماتو ته متوجه ؤ.
صحابه کرامو (رض) داسي لمونځ کاوه چي انسان نشي کولای چي د هغو صفات په لفظونو کي تمثیل کړي. حضرت عبد الله بن زبیر(رض) چي کله په بیت الله کي لمونځ کاوه، د حرم شریف کفترو فکر کاوه چي هغه وچه ونه ده د هغه په سر کښېناستلي، ځکه چي د الله له عظمت او هیبت نه هغوئ د وچي وني په څېر په ټولیز ډول بې حسه او بې حرکته ودرېده.
په یو روایت کي دي چي یوه ورځ د حضرت علی بن ابی طالب (رض) په پښه کي ازغی ننوت چي د درد له زیاتوالی څخه هېڅ چا هغه نشو ایستلای او طبعاً هغه مهال د انستیزئ درمل هم شتون نه درلود، بناءً ټول حیران ول چي ستونزه په څه ډول حل کړي. یو کس چي د هغه حضرت لمونځ یي په دقت سره کتلای ؤ او دهغه د لمانځه په حقیقت باندي پوهېده وفرمایل: تاسي کولای شئ چي دغه عملیات د هغه د لمانځه پر مهال سرته ورسوئ ځکه چي هغه مبارک حضرت په لمانځه کي دومره په الهي فکر او اندېشه کي غرق کېږي چي هېڅ شي ته به متوجه نشي او په همدي توګه یي د سجدي پر مهال دهغه له مبارکي پښي څخه ازغی وایست.
حضرت علی هېڅ احساس نکړ او له لمانځه څخه وروسته وپوهېد چي پښه یي جراحی کړې ده.
حضرت صفوان په خپلو سجدو کي دومره مداومت کاوه چي د تندي رنګ تغیر کړی ؤ او د تندي پوستکي یي سولېدلی ؤ.

Download from: www.aghalibrary.com

**په بیړې سره د لمونځ کولو حکم**

حضرت ابو هریره (رض) فرمايي چې يو کس مسجد ته دننه شو، پيغمبر (ص) په يوه گوښه کې ناست ؤ، نوموړی کس لمونځ وکړ او پيغمبر (ص) ته راغي او سلام يې وکړ پيغمبر (ص) وويل: وعليک السلام لاړ شه لمونځ وکړه تا لمونځ ندی کړی.

هغه کس لاړ او بيا يې لمونځ وکړ پيغمبر (ص) ته راغی اوسلا م يې وکړ. پيغمبر (ص) وويل:

وعليک السلام لاړ شه لمونځ وکړه تا لمونځ ندی کړی په دريم ځل کې يا وروسته له هغه (ص) پيغمبر ماته وويل: کله چې لمانځه ته پورته شې په سمه توگه اودس وکړه.

بيا د قبلې په لوري ودرېږه الله اکبر ووايه.

بيا له هغه نه وروسته چې له قرآن نه په هر څه باندې پوهېږې هغه ولوله.

بيا له هغه نه وروسته رکوع وکړه چې په رکوع کې ښه ډاډ تر لاسه کړې.

بيا له هغه نه وروسته دې سر پورته کړه تر دې چې ښه سم ودرېږې.

بيا له هغه نه وروسته سجده وکړه تر دې چې ښه ډاډ تر لاسه کړې.

بيا له هغه نه وروسته خپل سر پورته کړه تر دی چې ښه په اطمنان سره کښېنې.

بيا له هغه نه وروسته سجده وکړه تر دې چې ښه ډاډ تر لاسه کړې.

بيا له هغه نه وروسته پورته شه او کښېنه تر څو چې ډاډه شې.

په بل روايت کې دي چې:

له هغه نه وروسته د ودرېږې تر دې پورې چې ښه سم ودرېږې او په همدې ډول خپل لمونځ پای ته ورسوه.

**پوښتنه:** ولې پيغمبر هغه صحابي ته چې لمونځ يې کړی ؤ وويل: لاړ شه او بيا لمونځ وکړه؟

**ځواب:** هغه کس په بيړه لمونځ وکړ او د سجدې پر مهال او د لمانځه په ټولو برخو کې په اطمينان او آرامی سره لمونځ ونکړ له دې امله پيغمبر داسې لمونځ ناسم وگاڼه اوهغه ته يې امر وکړچې بيا په سم شکل سره لمونځ وکړي ځکه چې په بيړه او شتاب سره لمونځ سم ندی.

په دې حديث شريف کې د هغه چا لپاره پند دی چې په تېزۍ او بيړې سره لمونځ کوي او دهغوئ لپاره لاندې ستونزې دي:

لمونځ يې سم نه وي.

لمونځ د پروردگار (ج) د قبول وړ نه وي.

لمونځ يې د پيغمبر (ص) له لمونځ سره سم ندی.

**د بې لمانځو جزا:** له قرآني لارښوونو سره سم له کافرانو او مشرکانو نه وروسته ډيرى دوزخيان بې لمانځان دي قرآن کريم فرمايي:

(فِی جَنَّاتٍ يَتَسَاَلُوْنَ (۴۰) عَنِ الْمُجْرِمِينَ (۴۱) مَا سَلَکَکُمْ فِی سَقَرَ (۴۲) قَالُواْ لَمْ نَکُ مِنَ الْمُصَلِّينَ (المدثر/۴۳)

په دې آيت شريف کې بيان شوی، چې له مجرمانو نه پوښتل کېږي چې څه شي تاسې دوزخ ته وغورځولئ، په ځواب کې هغوئ وايي چې موږ د لمونځ کوونکو له ډلې څخه نه ؤو.

Download from: www.aghalibrary.com

د بې لمانځې ځوارلس سزاګاني
- پنځه سزاوې په دنيا کې
- د مرينې پر مهال ۳ سزاوې
- د قبر په منځ کې ۳ سزاوې
- د قيامت په ورځ ۳ سزاوې

د بې لمانځه کسانو او هغو کسانو لپاره چې لمانځه کې سستي کوي او لمونځ قصداً پرېږدي د خدای له لوري ځوارلس سزاوې مقرر شوي دي. پنځه سزاوې په دنيا کې، درې سزاوې د مرينې پر مهال، درې سزاوې له مرګ نه وروسته په قبر کې اودرې سزاوې د قيامت په ورځ کې.

په دنيا کې پنځه سزاګاني

۱)له ژوند څخه يې برکت پورته کېږی.
۲) له مخ څخه يې د ايمان نور پورته کېږي.
۳)د هيڅ عمل اجر نه ورکول کېږي.
۴)هرڅومره چې دعا وکړي دعايې نه قبليږي.
۵) د نېکو بنده ګانو دعا يې هم په حق کې نه قبلېږي.

## د مرګ پر مهال درې سزاوې

۱)د بې لمانځه روح په خوارى او ذلت سره قبض کېږي.
۲) بې لمانځه وږى مري.
۳)د مرګ په مهال به داسي تږي ومري، چې که د دنيا د ټولو دريابونو اوبه وڅښي؛ تنده يې نه ماتيږي.

## له مرګ نه وروسته درې سزاوې:

۱)د بې لمانځه قبر دومره تنګيږي چې پُښتۍ يې يوه له بلې سره ونښلي.
۲)د بې لمانځه په قبر کې اور لګيږي.
۳)داسي يو مار پرې مسلط کيږي چې د هر لمانځه وخت کې عذاب ورکړي.

## د قيامت په ورځ درې سزاوې

۱)د هغه د اعمالو حساب به سختۍ سره واخيستل شي.
۲) حق تعالی به په هغه په قهر وي.
۳)بې لمانځه به ذليل شي او دوزخ ته دننه کړل شي.

د روژې حکمت او فلسفه

Download from: www.aghalibrary.com

په دې څېرکي کې به دلاندې موضوعاتو په اړه تحقیق وشي:

- رمضان په لغت او اصطلاح کې.
- په فرد اوټولنه کې د رمضان ونډه.

**رمضان د اسلامي شریعت په لغت او اصطلاح کې:**

**رمضان په لغت کې:** رمضان د (رمضا) له کلمې څخه اخیستل شوی چې د تودوخې د شدت په معنی دی.

عربان وایی:**(رمضان الیوم)**د نن ورځې ګرمي ډېر شدت اخیستی، همدارنګه وایي: **(رمضان النصل)**

توره یې د دوه تیګو تر منځ هواره کېښوده بیا یې هغه ښه وسولوله، ترڅو ښه هواره شوه. اسلامي پوهان د رمضان د تسمي علت دهغې معنی ته سوق کوي او وایي چې دغه میاشت یې رمضان ونوموله ځکه **(لانه یرمضی الذنوب ای بحرقها بالاعمال الصالحه)**ځکه چې ګناهونه په نېکو اعمالو باندې سوزوي او ځیني هم داسې وایي، چې زړونه د ډېرو لاربنوونو او موعظو په واسطه داسې نیول کېږي او ګرمېږي لکه څنګه چې تیګې او شګې د ګرمی پر مهال قوي تودوخه لري. او ځیني وایي چې د رمضان کلمه (رمضت الشی) کوم شی چې ددوه تیګو تر منځ میده او اوړه شي. په دې معنی چې د انسان ګناهونه د ډېرو صالحو اعمالو په منځ کې متلاشي کېږي او له منځه ځي.

**رمضان د اسلامي شریعت په اصطلاح کې:**رمضان د قمري کال د مبارکو میاشتو نهمه میاشت ده چې د شعبان او شوال د میاشتو په منځ کې واقع ده او په هغې کې په هر یوالله پرست مؤمن باندې روژه فرض ده. د قرآن د نزول میاشت ده او په هغې کې داسې شپه ده چې له زرو میاشتو عبادت څخه غوره والی لري، دغه میاشت د ګناهونو د بخښني او له الهي عذاب څخه د ګنهکارانو د خلاصی میاشت ده.

**صوم (روژه) په لغت کې:** صوم په لغت کې له یو عمل له سرته رسولو څخه ځان ساتني او چوپتیا ته وائی. همدارنګه له خوړلو، څښلو، نکاح، په لاره تلو، خبرې کولو او نورو څخه د ځان ساتني ته هم کارول کېږي.

امام قرطبي فرمایي: چې معنا یې امساک (ځان ساتنه) او له یو حالت څخه بل حالت ته لېږد دی او همدارنګه چوپتیا ته هم صوم وائي چې هغه له خبرو کولو څخه د ژبې چوپ ساتل. د مریم په اړه آیت شریف وایي: (...إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَنِ صَوْمًا ...(مریم/۲۶)ما د متعال خدای (ج) لپاره روژه نیولې ده، یعني له خبرو کولو نه مې چوپتیا اختیار کړې ده.

**صوم (روژه د شریعت په اصطلاحاتو کې):** له خوړو، د څښاک شیانو، شهواني غوښتنو او اخلاقی منفي چارو څخه د انسان د نفس له ساتلو څخه عبارت دی چې په نیت سره د صادق فجر له راختلو څخه د لمر تر لوېدو پورې دوام کوي.

بشپړه روژه هغه ده چې د بدن ټول غړي له منفی او ناروا چارو څخه وساتل شي ځکه چې پیغمبر (ص) فرمایي: هر څوک چې ناوړه خبرې او په هغو باندې عمل پرې نږدې، خدای (ج)د هغه د خوراک او څښلو پرېښودو ته هېڅ اړتیا نلري.

(من لم یدع قول الزور والعمل به فلیس لله حاجة فی ان یدع طعامه و شرابه)

**رمضان د عظیم الشان قرآن د نزول میاشت**

د رمضان مبارکه میاشت د عظیم الشان قرآن د نزول میاشت ده، د بشریت د لاربنووني لپاره تر ټولو لویه الهي ډالی په همدې میاشت کې نازله شوې ده خدای (ج)فرمایي:

Download from: www.aghalibrary.com

شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِیْ أُنْزِل فِيْهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَىٰ وَالْفُرْقَانِ ......(البقر/۱۸۵)

د رمضان مياشت هغه ده چي قرآن پکي نازل شوی او دخلکو لپاره هدايت او د هدايت لپاره روښانه دلايل او د حق او باطل تر منځ فرق کوونکی دی.

امام احمد د شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِیْ أُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرآن ....(البقره/۱۸۵)په تفسير کي وايي: متعال خدای د رمضان مياشت د ټولو مياشتو په نسبت توصيف کړې ده، ځکه چي عظيم الشان قرآن په دې مياشت کي نازل شوی دی او همدارنګه دغه مياشت د ټولو الهي کتابونو د نزول لپاره هم غوره شوې ده ولې فرق پکي يوازې همدا دی چي د تورات، زبوراو انجيل صحيفي يو ځل نازل شوي دي مګر عظيم الشان قرآن د رمضان په مبارکه مياشت کي په بيت العزه کي په کامل (بشپړ) ډول د دنيا آسمان ته نازل شوی دی د نزول دغه شپه د رمضان په مبارکه مياشت کي د قدر شپه وه متعال خدای (ج)فرمايي:

إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِیْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ (القدر/۱)


او فرمايلي يي دي:

إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِی لَيلَةٍ مُّبَارَكَةٍ .... (الدخان/۳)

بيا د درويشتو کلونو په موده کي له پيښو سره سم په متفرق شکل په پيغمبر (ج)باندې نازل شوی دی.

### د فرد او ټولني په جوړښت کي د روژې ونډه

د قرآني لارښوونو په بنسټ او له نبوي له احاديثو څخه په ګټه اخيستني سره د رمضان د مبارکي مياشتي روژه د اسلام د سپيڅلي دين له بنسټيزو ارکانو څخه يو رکن دی چي د اسلام په پنځو بنسټيزو بناؤو کي د اسلام د دين دريم رکن دی. د رمضان د مياشتي مبارکه روژه که څه هم په ظاهر کي له خوراک، څښاک او شهواني غوښتنو څخه د بدن د غړو ساتل دي، ولې که د هغي مفاهيمو ته ژور ورننوځو او د هغي په اړه د فلسفی حقيقتونو له نظره د دې اسلام حکم په هکله فکر وکړو رمضان او په دې مياشت کي روژه نيول له ځينو مهمومزاياؤو څخه دي چي هغوئ په لاندې ټکو کي تر مطالعي لاندې نيولی شو.




### د روژې ونډه

د رمضان د مبارکي مياشتي روژه او ټولي واجب او سنت روژې د ټولو اسلامي لارښوونو او احکامو په څېر د مؤمن انسان په ژوند کي مهم رول لوبوي، چي دغه ونډې د مؤمن انسان د شخصيت په جوړښت کي هم له مادي او معنوي پلوه او هم له ټولنيز لوري څخه مهم آغېز پرځای پرېږدي.

چي په دې بحث کي دغه مطالب تر مطالعي لاندې نيسو:

Download from: www.aghalibrary.com

### د فردي شخصیت په جوړښت کې د روژې ونډه

روژه د مؤمن انسان د شخصیت په جوړښت کې مهمه ونډه لري او انسان ته د یو مؤمن فرد په حیث په دؤو یعني مادي او معنوي برخو کې روزنه ورکوي.

**الف په معنوي برخه کې:** په هر خدای پرسته مؤمن باندې لازم ده چې د خپلې معنوي کچې د لوړولو لپاره تل کوښښ او تلاش وکړي، ځکه د اسلام د سپیڅلي دین بنسټ په معنویت باندې اېښودل شوی دی. او ریښتینی مؤمن خپل ټول ژوند په معنوي معیارونو باندې آراسته کوي.

خدای[ج] د مؤمنانو د معنوي کچې د ودې لپاره ډېرې لارې بیان کړي دي، ترڅو مؤمن انسان د خپل مادي وجود تر څنګ او له مادیاتو څخه له ګټه اخیستنې سره د معنویت په برخه کې هم مخکښ و اوسي د رمضان د مبارکې میاشتې روژه د مؤمنانو د معنویت د ودې له لارو څخه یوه ده او دا امر په لاندې ټکو کې بیانولی شو.

**۱- اخلاقي معنویت؛ یا تر ټولو لوړ مقام ته د هغه د اخلاقي کچې لوړول:**

اسلامي اخلاق هماغه اخلاقو ته وایي چې له اسلامي لارښوونو او احکامو سره سمون ولري، اګر چې هر مؤمن فرد دخپلې کچې په لوړولو کې تل کوښښ او تلاش کړی دی او دد ي موخې لپاره له اسلامي لارښوونو څخه ګټه اخلي. مګر هغه کسان چې خپل ځان په ٪۱۰۰ اسلامي اخلاقو باندې جوړوي، اخلاقی مرحلې هم په پام کې نیسي او کوښښ کوي چې دهغه هماغه تر ټولو لوړې کچې ته ځان ورسوي، د رمضان مبارکه میاشت له هغو لارو نه یوه ده چې دې کچې ته مؤمن انسان چمتو کوي.

اوس لازمه ده چې لومړی دا مرحلې تر مطالعې لاندې ونیسو اوبیا د رمضان د مبارکې میاشتې ونډه پکې و ارزوو.

- **ښه (جید) اخلاق:** هغه اخلاق دي چې انسان د عالي اخلاقي صفاتو لرونکی وي.
- **عالي (جید جداً):** هغه دي چې په عالي اخلاقي صفاتو سره متصف وي بیاهم د هغه زیان باید نورو خلکو ته و نه رسېږي. او هېڅکله هم له نوروخلکوسره په مخ کېدو کې چاته زیان متوجه نشي، په ډېری حالاتو کې داسې وي چې ځینې خلک ښه اخلاق لري او الهي احکام او لارښونې هم په ځان باندې تطبیقوي، ولې له نورو سره په معامله کې ځینې چارې هېروي.

**اعلی (ممتاز) اخلاق:** هغه اخلاقو ته وایي چې سره له دې چې خپله د عالي اخلاقولرونکی دی او نور ته هم زیان نه رسوي بلکې د نورو د ضرر رسولو پرمهال هم منفی عکس العمل نلري او لکه څنګه چې د رمضان په مبارکه میاشت کې تر ټولو عالي اخلاقي مقام ته رسېږي چې:

(فان شاتمه احد و قاتله اين صائم مرتين)

هر کله چې څوک ورسره جګړه وکړي او یا ورته ښکنځلې وکړي، ورته وایي چې زه روژه لرم.

په ټولنه کې د انسان ځواک او توانایي هغه مهال ثابتېږي چې هغه توانمندی پر مهال خدای[ج]هېر نکړي او خپل اخلاق عالي معیار ته ورسوي. انسان هغه مهال د ډېرو عالي اخلاقو لرونکی وي چې د غضب پر مهال خپل قهر د خپل عقل تر آغېز لاندې راولي په قهر نشي اوهغه مهال عالي اخلاق مراحلو ته رسېږي چې د جنګ او دځلکو د کنځلو پر مهال صبر وکړي او خپله ژبه د ناوړه خبرو له کولو څخه وساتي او د هغه شخص په مقابل کې فزیکی عکس العمل ونه ښئي بلکې په همدغه سختو شېبو کې چې د ډېرو ضعیف  الاخلاقو خلکو لپاره خورا ستونزمن وي. مګر هغه انسانان چې عالي اخلاقو لرونکي وي لکه رسول الله (ص) چې فرمایلی دي: روژه سپر ده، روژه لرونکی

Download from: www.aghalibrary.com

انسان نه زشتی ته مخه کړي او نه هم ګناه وکړي او که څوک له هغه سره جګړه وکړي او یا ورته ښکنځل وکړي دوه ځل دې ورته ووايي چې: زه روژه لرم.

عن ابی هریره (رض) قال رسول الله (ص) قال الصیام جنة فلا رفث ولا یجهل و ان امر و قاتله اوشائمه فلیقل انی صائم مرتین والذی نفسی بیده لخوق فم الصائم اطیب عند الله تعالی من ریح المسک یترک طعامه و شرابه و شهوته من اجلی الصیام لی و انا اجری به و الحسنة بعشر امثالها البخاری/۱۷۶۱.

**ژباړه:** په هغه ذات باندې قسم چې زما نفس دهغه په تصرف کې دی د خدای (ج) په نزد د روژه دار د خولې بوی د مشکو له بوی څخه غوره دی هغه خپل ټول خوراک، څښاک او شهوات د الله لپاره پرېږدي. متعال خدای (ج) فرمايي چې روژه زما لپاره ده او زه يې اجر ورکوم او د هرې نېکی په مقابل کې لس برابره ثواب ورکول کېږي.

**۲-د انسان جوړوني لپاره عملي کورس:** د ټولو ځانګو پوهان خپلو تر لاس لاندې کسانو ته هر کال عملي کورسونه ترتیبوي چې دهغې ځانګې متخصصین له دې کورسونو څخه په ګټه اخیستنې سره د خپل مسلک د تقویه کولو په موخه په هغو کې ګډون کوي او د مسلک دغه تقویه د کال په پاتې وختونو کې د هغوئ لپاره د لا ډېرې ودې او عالي خدمتونه شوني کوي. د رمضان مبارکه میاشت د انسان جوړوني لپاره یو عملي کورس دی؛ ځکه چې مؤمن انسان په دې میاشت کې د خپل بدن ټول غړي له الهي احکامو سره سم برابر او چمتو کوي. او حتی په هغه حالاتو کې چې یوازې وي اود خوړو، څښاک اوشهوت څخه د ګټه اخیستنې ټول امکانات ورته مساعد وي بیا هم د متعال خدای (ج) په یاد لرلوسره له دغو تېروتنو څخه ځان ساتي او د نورو د تېروتنې پر مهال فوراً مقابل لوري ته وايي چې زه روژه لرم، په داسې حال کې چې ښکنځلې یې هم کړې دي. حقیقي مسلمان په دې میاشت کې حتی د پاکو او حلالو خوړو او څښاکو له خوړلو څخه پرهېز کوي او له رمضان نه وروسته په فکر کې وي چې ما په دې میاشت کې له حلالو څخه ځان ساتلی او په ټولو میاشتو کې کوښښ او تلاش کوم چې له حرامو څخه ځان وساتم متعال خدای د روژې حقیقي فلسفه د بندګانو په متقی جوړولو کې بیان کړې ده (لعلکم تتقون).

د رمضان دغه میاشت انسان د تقوا په لوري را کش کوي په دې شرط چې خپله روژه یې په بشپړ ډول له الهي احکامو او نبوی (ص) لارښوونو سره سمه نیولې وي. هغه داسې متقي جوړوي چې د دغه یو میاشتنی کورس په پای ته رسولو سره د کال په نورو میاشتو کې هم د رمضان د میاشتې په څېر په الهي احکامو کې بوختېږي.

**۳- د نفس روزنه او ډاډه نفس ته یې لوړول:** د رمضان د مبارکې میاشتې روژه د انسان د نفس د روزنې لپاره یو روزنیز سیستم دی. په حقیقت کې د انسان نفس له فاسد چاپیریال اولار ورکو دوستانو سره د اړیکې له امله په اماره نفس (اماره بالسوء)باندې بدلېږي.

دغه نفس انسان تل بدی ته سوق کوي او د عبادت له حقیقت څخه یې لیرې کوي، ولې مؤمن انسان کوښښ کوي چې خپل دغه منفي سیستم په پر له پسې توګه عباداتو سره ګناه ته د لېوالتیا له حالت څخه په (لوامه) نفس باندې بدل کړي.

لوامه نفس هغه نفس دی چې کله یو انسان بد کار کوي نو نفس یې هغه ملامتوي او ورته وایي چې تېروتنه کوې په دې معنا چې د هغه وجدان یې ژوندی کړی، ځکه نو د ګناه د ارتکاب یا هم ګناه ته د نږدېوالي په صورت کې د ملامتی او شرم احساس کوي.

مؤمن انسا بیا هم د ډېرو عباداتو په کولو سره کوښښ کوي چې خپل نفس عالي پړاوونو ته ورسوي او هغه مطمئنه نفس ته ور واړوي. مطمئنه نفس هغه نفس دی چې د ژوند د حقیقتونو په درک او له یو خدای (ج) سره په قوي اړیکې سره په بشپړ ډول ډاډه ژوند کوي او هغه پوهېږي چې اوس له هغه ډېر لوی ذات دی او په ټولو ستونزو کې له هغه

Download from: www.aghalibrary.com

سره مرسته کوي. او د نړۍ له خالق سره دغه قوي اړیکه هغه ته داسي اطمینان ور په برخه کوي چي ډېر بې دینه انسانان د ژوند په میلیونونومالي پراخیو سره نشي تر لاسه کولای.

مطمئنه نفس هماغه نفس چي د آخرت په ورځ ورته خطاب کیږي چي:

(يَا ايَّتُهَالنَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّة اِرْجِعِيْ اِلىٰ رَبِّكـِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّة فَادْخُلِيْ فى عِبَادِى و ادْ خُلِىْ جَنَّتِى).

**ژباړه:** ای ډاډمنه نفسه! د خپل پروردګار پر لور وګرځه، په داسي حال کي چي له خپل خدای ځيني راضي يې هغه هم له تا ځيني راضي دي. زما د بنده ګانو په صف کي داخل او جنت ته مي ددننه شه.

**۴-رمضان د خدای پیژندني لپاره حقیقي ثبوت:** رمضان هر چاته ثابتوي چي هغه څومره خدای(ج) پیژندوکی دی، ځکه چي د ورځي په شپېو کي کله چي انسان له خپل ځان سره د یوازېتوب په حالت کي وي چي هغه وکولای شي هر کار چي وغواړي تر سره يې کړي، وخوري، وڅښي، شهوت رانی وکړي، مګر کله چي هغه په یوازې توب کي هم خدای(ج) په یاد ولري او د خدای (ج) د وېرې له امله ځان وساتي نو ورته ثابتيږي چي هغه حقیقتاً خدای (ج) پيژندلی دی او متعال خدای (ج) حاضر او ناظر ګڼي.

ځکه هغه خلک چي خدای (ج) نه پيژني ښائي چي د خلکو پر وړاندې له خوړلو او څښلو څخه ځان وساتي، ولي د يوازې توب په حالت کي په ګناه کولو لاس پوري کړي.

**۵- له خواهشاتو سره پر مبارزې باندې حاکمیت بخښل:** د رمضان مبارکه میاشت انسان ته ځواک وربخښي چي د خپلو نفساني او شهواني غوښتنو پر خلاف مبارزې ته چمتو اوسي.

حضرت علقمه (رض) فرمايي چي:

**قال لنا النبی (ص) یا معشرالشباب من استطاع منکم الباۀ فلیتزوج ومن لم یستطع فعلیه بالصوم فانه له وجاً.**

موږ ته نبی (ص) کریم وویل: له تاسي څخه چي څوک توان لري نو واده دي وکړي او څوک چي نشي کولای نو په هغه باندې لازم ده چي روژه ونیسي. روژه هغه ته وقایه ده.

د پیغمبر (ص) دغه حدیث د نفلي روژې لپاره دی چي په هغو ځوانانو باندې روژه نیول لازم دي چي د نفقي اولګښت توان نلري، ترڅو د ګناهونو له ارتکاب څخه وقایه وشي، مګر د رمضان د مبارکي میاشتي روژه هم د کال په باقي پاتي میاشتو کي د ګناهونو پر وړاندې د مبارزې لپاره د حاکمیت یو درس کېدای شي او په دغه باقي میاشتو کولای شي له نورو حلالو چارو څخه ګټه پورته کړي.

**۴) د کادر جوړوني لپاره ذوب کول:** د اسلامي نړۍ په درسونو کي مو ولوستل چي مؤمن انسان د عباداتو په واسطه ذوب کیږي، تر څو د هغو پارچو په څېر شي چي د یوې بشپړې اسلامي ټولني د جوړولو لپاره چمتو واوسي. د رمضان د مبارکي میاشتي روژه د کادر جوړوني لپاره د انسانانو په ذوب کولو کي ډېره مهمه او ارزښتناکه ده او هرکله چي څوک د رمضان د مبارکي میاشتي روژه په هماغه حقیقي شرایطو سره ونیسي له هغه نه يو ايمانداره کادر جوړيږي چي انساني ټولني ته د خدمت رسولو لپاره هره شيبه خدمت ته چمتو وي.


**ب:** په بدني برخه کي: مسلمان ډاکټران او طبيبان د انسان په بدن او روغتيا باندې د رمضان د مبارکي میاشي د روژو د مادي ګټو په اړه ډېر جالب بحثونه لري.

د زکات حکمت او فلسفه

- په لغت او اصطلاح کي د زکات تعریف.
- د زکات ونډه.

Download from: www.aghalibrary.com

- د زکات فضايل.




**دزکات ونډه:** زکات د اسلام د سپيڅلي دين له مهمو ارکانو څخه يو دی چې په مالي او اقتصادي برخه کې د تطبيق وړ دی او د فرد او اسلامي ټولني په جوړښت کې آغيزې لري چې هغه په لاندې ټکو کې تر مطالعې لاندې نيول کېدای شي:

**۱- د فرد په جوړښت کې:** هرکله چې قرآن آياتو ته چې انسان ته لمانځه باندې امرکوي پاملرنه او دقت وکړو د هر قرآني آيت په څنګ کې د زکات په اړه هم حکم شتون لري. لمونځ چې د معنويت په لحاظ د انسان اړيکه له متعال خدای (ج) سره ټينګوي.

زکات دغه اړيکه د هغې په مادي برخه کې ټينګوي ځکه ډېر عيبونه شتون لري چې د خدای(ج) او بنده ترمنځ د واټن لامل ګرځي.

د مثال په ډول له مال سره مينه، بخل، غلاء، قطاع الطريقی، اختلاس، رشوت او ټول خطرناک عيبونه له همدغه مالی نقطو څخه د انسان بدن ته ننوځي.

که چېرې انسان الهي احکام مراعت کړي د خپلو پاکو او حلالو مالونو زکات ورکړي، هغه له مال سره له افراطی محبت څخه بل محبت ته لېږدوي، چې هغه د خدای(ج) محبت دی. دا مؤمن ثابتوي چې د خدای (ج) د رضا لپاره له خپل مال څخه تېرشوی او هغه يې د متعال خدای (ج) په لاره کې لګولی دی. نو څه ډول به د حرام مال پر لوري مخ واړوي.

د مالونو زکات د مؤمن ايمان لا پسې ځوکمن کوي، ځکه په ډېرو حالاتو کې رياکاره انسانان کولای شي چې په سلګونو رکعته ريائي لمونځونه وکړي او هره شپېه په نکل ويلو پيل وکړي، مګر د هغه برعکس د متعال خدای (ج) په لاره کې د پيسو لګول ښئي چې هغه په رښتيا سره له خپل پروردګار سره مينه لري او د هغه د رضايت لپاره يې له ترټولو خوندور شي څخه صرف نظر کړی دی، بناءً زکات انسان لاندې چارو ته کشوي.

**الف:** د خدای په لاره کې د مالونو په لګولو سره دايمان پياوړتيا.

**ب:** له بخل نه لري والی.

**ج:** له فقيرانو سره مينه.

**د:** له حرامو مالونو څخه لري والی.

**۲- د انساني ټولني په جوړښت کې د زکات ونډه:** د انساني ټولني او د حيواناتو د ټاټوبي (ځنګل) تر منځ توپير په يوه بنسټيزه نکته کې اېښودل شوی دی چې انسان د نورو لپاره او حيوان د ځان لپاره ژوند کوي.

دی شيخ با چراغ همی ګشت ګرد شهر

کز ديوو دد ملولم و انسانم آرزوست

Download from: www.aghalibrary.com

که چېرې په انساني ټولنه کې هر څوک د خپلې شخصي ګټې لپاره کوښښ او تلاش وکړي او د نورو بربادي او کم ترکمه نورو ته په نه پاملرنه بوخت شي، خپل انساني شخصيت له لاسه ورکوي. د رمضان د مبارکې مياشتې روژه، د اسلامي ټولنې د جوړښت لپاره زکات فرض کړی دی، چې انسان د نورو د خير فکر لپاره له خپلو پاکو او حلالو مالونو څخه لګښت وکړي او د خپلو پيسو يوه برخه د ټولنې د جوړولو لپاره په کار واچوي.

### الف: په ټولنيزه برخه کې:

که چېرې په يوه ټولنه کې د همکارۍ او عاطفي احساس د خلکو تر منځ شتون ولري، غنيان د فقيرانو ستونزې په پام کې ولري او دحل لپاره يې لارې ولټوي او د فقيرانو او د فقر د آثارو د له منځه وړلو لپاره کوښښ او تلاش وکړي، پرته له شکه په دې ټولنه کې دجرم اثار او لاملونه تر آخري بريده پورې کمزوري کيږي، ځکه په ډېرى ټولنو کې د ډېرى جناياتو او جرمونو بنسټيز لامل بيوزلي وي. زکات د فقر د له منځه وړلو او د فقيرانو او اړمنو خلکو دستونزو د حل لپاره دلارموندنې له خورا مهمو وسيلو څخه يوه ده. کله چې غنيان د خپلو مالونو زکات په سم او حقيقي شکل سره يې له الهي احکامو سره سم اسلامي حکومت ته ورکړي او حکومت له دغه مالونو څخه له فقر او بې کارۍ سره د مبارزې په لاره کې سمه ګټه واخلي. دلته په ټولنه کې څو ګټې رامنځته کېږي:

- د غنيانو پر وړاندې د بد ليد حس له منځه ځي؛ ځکه هغوئ پوهېږي چې دوئ ورسره مرسته کړې ده.
- د فقر لمن هره ورځ ټولېږي او هر کس کولای شي نورمال ژوند ولري.
- کله چې دولت د زکات له مال څخه د تعليمي مرکزونو د تأسيس او بېنوايانو د سرپرستۍ لپاره ګټه واخلي د بې کارۍ او بې سوادۍ لمن ټولېږي او له منځه ځي.
- د ټولنې د غړو تر منځ دوستي او محبت ډېرېږي، ځکه چې غنيانو له فقيرانو سره همدردي کړې ده اود هغوئ محبت يې تر لاسه کړي دی.

**ب: په سياسي برخه کې:** د حکومتونو له ډېرو مهمو ستونزو څخه يوه له فقراوبېسوادۍ او بېچارګۍ سره مبارزه ده. دغه حکومتونه نشي کولای چې د خلکو اړتياوې په بشپړ ډول رفع کړي او په دې شکل سره کله کله مجبورېږي تر څو له نورو څخه مرستې واخلي، چې دغه بهرنۍ مرستې په ډېرو حالاتو کې د هغه هېواد د استعمار لامل ګرځي د دې پرځای چې ګټه ورته ورسوي دهغه سياسي عظمت له منځه وړي. زکات د اسلامي حکومت لپاره تر ټولوغوره اقتصادي وسيله ده.

اسلامي حکومتونه کولای شي له الهي قانون څخه په ګټه اخيستنې سره د غنيانو مالونه راټول کړي او د فقر، بېکارۍ، بېسوادۍ، يتيمان، د کونډو د بې سرپرستۍ، د شهداؤو د وارثينو او معلولينو د ستونزو پر ضد عملاً مبارزه پيل کړي.

د اسلام په سپيڅلي دين کې اسلام حکومت مکلفيت لري چې د زکات د راټولو اداري تر عنوان لاندې يوه اداره رامنځته کړي، دغه اداره د خپل رعيت د شتمنيو د ثبت فورمې ترتيب کړي او له هغو سره سم هرکال د هغوئ د مالونو زکات را ټول کړي او له الهي احکامو سره سم يې ولګوي چې د حکومت دغه کار دلاندې ګټو لرونکی دی:

- په هغه صورت کې چې حکومت د زکات اموال رسماً راټول کړي هيڅ شتمن نشي کولای چې له ادا کولو نه يې سر غړونه وکړي، بناءً د فقراؤو له حق څخه په ښه توګه ساتنه کېږي.
- حکومت کولای شي چې په منظم ډول له فقر سره په مبارزه کې عملي پروګرامونه ولري.
- حکومت کولای شي چې له بې سوادۍ سره په مبارزه کې هم عملي پروګرامونه ولري.

Download from: www.aghalibrary.com

- حکومت به د ډېرې قوي مالي بودیجي لرونکی وي، نو له نورو څخه د خیرات غوښتني اړتیا به نه رامنځته کېږي.
- کله چي حکومت وکولای شي د خپل رعیت ستونزې رفع کړي، نو امنیت او استقرار هم هلته حاکم کېږي.

**ج: په اقتصادي برخه کي:** د نړۍ د ټولو هېوادونو اقتصادي ستونزې دهغوئ عایدات او لګښتونه جوړوي. د نړۍ اقتصاد پوهان په دې چارې پسي لګېدلي دي چي لومړی د خپل هېواد عایدات څنګه لوړ کړي او همدارنګه په لګښت کي یي څنګه کوښښ او تلاش وکړي ترڅوبي لګښتونه یي اقتصاد ته ګوزار ورنکړي. که اسلامي هېوادونه د زکات قوانین د دولتونو د اقتصادي بنسټ لپاره عملاً تطبیق کړي، نو د هغوئ لپاره تر ټولو لويه اقتصادي ملاتړ دی او که چېرې د مالونولګښتونه له اسلامي احکامو سره سم د اسلامي چوکاټ په دننه کي تثبیت کړي او د بې ځایه لګښتونو مخنیوی وکړي، دا کار به هم په ملیونونو هغه شتمني چي په مبتذلو چارو او بې ځایه فلمونو اوسریالونوباندې لګول کېږي، وژغوري.

## د عمر بن عبد العزیز خلافت اقتصادي الګو (نمونه)

حضرت عمر بن عبد العزیز (رض) چي د اسلام په پنځم خلیفه باندې مشهور دی، د خپل حکومت بنسټ د تقوا او ټولو اسلامي احکامو د تطبیق پر بنیاد کښېښود. هغه به ویل چي: که چېرې دغرونوپه سر باندې یو څاروی ولوېږي نو خدای (ج)به له ما څخه وپوښتي چي ای عمره! ولي دې ورته لیاره آباده نکړه؟

عمر بن عبد العزیز دخپل خلافت پر مهال د اسلامي اقتصاد قانون چي زکات یي یو له دعایمو څخه یو دی؛ تطبیق کړ او پایله یي دا شوه چي د مالیې وزارت د بیت المال مامورین په ټول ښار کي په فقیرانو پسي ګرځېده او په ټوله اسلامي خاوره کي فقیر نه موندل کېده، چي مرسته ورسره وشي.

**د: په کولتوري برخه کي:** د اسلام کولتور د اخوت او وروړګلوۍ کولتور دی. دټولنیز تکامل د نورو د ستونزو د حل لپاره د کوښښ او تلاش کولتور دی.

**تو کز محنت دیگران بیغمی**

**نشاید که نامت نهند آدمي**

اسلام دغه اسلامي کولتور په عملي شکل سره د خلکو په منځ کي نشر او خپروي.

## د زکات فلسفي

**د کی لا یکون دوله بین الاغنیأ فلسفه:** د اسلام په دین کي مال او پیسي حکمونه لري، چي دغه مالونه د الهي لاربښوونو په بنسټ یوازې د شتمنو په لاس کي پاتي نشي؛ بلکي غني انسان مجبور دی چي کال کي خپل ۲.۵ سلنه مال فقیرانو ته ورکړي او د اسلامي دولت له خوا د قانون او په اجباري شکل ورڅخه اخیستل کېږي او د فقیرانو او مساکینو لپاره لګول کېږي. که چېرې هغه سوداګر چي په میلیاردونو ډالر ولري او زکات یي اسلامي حکومت په رسمي شکل له دغو سوداګرو څخه واخلي؛ ټول مالونه د غنیانو په لاس کي نه پاتي کېږي؛ بلکي فقیرانو ته هم فرصت ورکول کېږي چي ورڅخه ګټه پورته کړي.

Download from: www.aghalibrary.com

**د بېنوایانو د حقونو د خوندي ساتلو فلسفه:** د بشر په لاس جوړو شویو نظامونو کې اګر چې د انسان د حقونو او بشردوستۍ ادعاوې تل غوړونه تازه کوي، مګر د عملي تطبیق په برخه کې یې لا هم په کمزورۍ او بېچارګۍ باندې اخته کېږي، فقیران لا هم په فقر او غربت اخته کېږي او شتمن لا ډېر د ملت وینې زبېښي.

دا نظامونه کله د سوسیالیزم او کمونیزم تر نوم لاندې پانګه د دولت په انحصار کې غورځوي او د دولت رهبران ټوله پانګه له خپلو پلانونو سره سم لګوي او د ملت حق تر ستوني تېروي او کله هم دغه د بشر په لاس جوړ شوي نظامونه د پلورالیزم په نوم شتمنو ته حق ورکوي، چې له هرې لارې نه چې وي؛ پیسې لاس ته راوړي او په مقابل کې یې د فقیرانو او محرومې طبقې پر وړاندې هېڅ ډول مسئولیت هم ونلري.

د اسلام د زکات قانون چې د اسلام د سپیڅلي دین له پنځه ګونو بنیادي بنسټونو څخه یو دی، چې له هغه څخه انکار کفر دی او یو له هغو فرایضو نه دی چې له ادا کولو نه پرته یې حتی د انسان حلال مال چټلېږي. غنیان مجبور دي چې دغه اندازه چې د مال دوه نیم سلنه کېږي فقیرانو ته ورکړي او هرڅومره شتمني ډېرېږي په هماغه اندازه د زکات اندازه هم ور سره ډېرېږي چې د فقیرانو او بېنوایانو تر منځ د دغو مالونو عادلانه وېش له اسلامي ټولنې څخه دغه ستونزه لرې کوي.

د زکات د نظام په پلي کولو سره د فقیرانو او مساکینو حقوق خوندي کېږي او د هغوئ لپاره په دولت کې یوه ځانګړې اندازه سرمایه وي، دغه سرمایه د هغوئ د ګټې لپاره د هغوئ له اړتیاؤو سره سم لګول کېږي، چې دا نظم د دې لامل کېږي چې فقیران د امکاناتو په ترلاسه کولو سره بالاخره د غنیانو په صف کې ځای پر ځای شي.

**د اموالو د نفقې فلسفه د دین تر ټولو مهمه برخه:** هر عبادت د مؤمنانو په ژوند کې خپل ځانګړی اغیز لري، امکان لري چې څوک په بدني او بې لګښته عباداتو کې په لومړي کتار کې وي، ولې د هغه ایمان هغه مهال بشپړېږي چې دغه مؤمن فرد په دغه بدني عبادات سربېره د پروردګار د رضایت لپاره د اموالو په وړاندې کولو کې چې مالي عبادت دی هم فعاله برخه واخلي او خدای (ج)په عظیم الشان قرآن کې زکات د لمانځه په څنګ کې ذکر کړی دی، چې مؤمن انسان د خپلې بنده ګۍ د دعوې د ثبوت دواړه په موازي شکل البته د توان په صورت کې سرته ورسوي.

(وَ أَقِيْمُواْ الصَّلَاةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ وَارْكَعُواْ مَعَ الرَّاكِعِينَ (البقره/۴۳).

د اموالو پاکي د زکات په ادا کولو سره رامنځته کیږي. لمونځ له مادي او معنوي نظره د انسان دجسم د پاکۍ لپاره ګټور دی، ولې عبادت هغه مهال د پروردګار په دربار کې د قبول وړ ګرځي چې د انسان بدن له حلال مال څخه تغذیه شوی وي. همدارنګه لباس او د عبادت ځای هم باید پاک وي هماغسې چې د یو حلال څاروي د غوښې د پاکولو لپاره ذبح کولو ته اړ یو، په همدې ډول د مالونو د پاکولو لپاره زکات ته اړ یو.

د نفس د تزکیې لپاره نېک اعمال لازم دي:

( قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّا هَا ( الشمس/۹).

د څاروي د تزکیې ذبحې ته اړتیا ده:

(وَلَا تَأْ كُلُواْ مِمَّا لَمْ يُذْكُرِ اسْمُ اللهِ عَلَيهِ .....(الانعام/۱۲۱)

د مال د تزکیې لپاره زکات ته اړتیا ده.

(خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةٌ تُطَهِّرُهُمْ وَ تُزَكِّيْهِمْ بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ اِنَّ صَلَا تَکَ سَكَنٌ لَّهُمْ وَاللهُ سَمِيْعٌ عَلِيمٌ)
( التوبة/۱۰۳)

Download from: www.aghalibrary.com

**د زکات د نظام تطبيق د اسلام د رهبرانو دنده ده:** د زکات راټولول او د مساکينو او فقيرانو لپاره يې په قانوني ډول له اسلامي شريعت سره سم لګول، د اسلامي اقتصاد تر ټولو مهم بنسټ دی. که چېرې د يو حکومت مسئول حقيقتاً دغه نظام پلی کړي او هغه په سم ډول راټول کړي او په خير او نېکو چاروکي يې چې د مستحقينو او مسکينانو په ګټه وي ولګوي، نو هغه په رښتيا سره د خپل ملت پر وړاندې خپل مسئوليت په سمه توګه ادا کړی دی. خدای (ج) د دغه ډول کسانو په اړه فرمايي:

الَّذِينَ اِن مَّكَّنَّا هُمْ فِى الْارْضِ أَقَامُوالصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ المُنكَرِ وَ لِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ (الحج/۴۱)

داسي کسان دي چې کله ورته په ځمکه کې امکانات ورکړو لمونځونه کوي او زکات هم ورکوي خلکو ته په نېکو کارونو باندې امر کوي او له بدو کارونو څخه يې منع کوي او د کار عاقبت په الله پورې اړه لري:

کله چې د دولت يو مسئول دغه څلور قرآني اساسات پلي کړي نو حقيقتاً يې د خپل حکومت نظم په شرعي او ايماني صورت ترتيب او تنظيم کړي چې هم يې خپل ځان ته نېکبختي په نصيب کېږي او هم يې د هېواد اتباعوته په نصيب کېږي دغه څلور حکمونه په پورتني آيت کې په ښه توګه بيان شوي دي چې عبارت دی له:

۱)**د لمونځ ادا کول:** کله چې مسئولين د لمانځه په ادا کولو کې چې له خدای (ج)د انسان اړيکه ټينګوي کوښښ وکړي او اتباع يې له متعال خدای (ج)سره اړيکه ولري دا خلک هېڅکله د الهي لارښوونو په خلاف کوم عمل سرته نه رسوي ، ځکه هغوئ تل له خدای (ج) سره اړيکه لري، او هرکله چې څوک له خدای (ج)سره اړيکه ولري، تل پخپله د خپلو اعمالو څارونکی وي، د خدای له وېرې په چا باندې ظلم او تجاوز نکوي.

۲)**د زکات ورکول او د زکات د چارو تنظيم:** کله چې د يو حکومت مسئولين پخپلو اقتصادي پروګرامونو کې د الهي احکامو سره سم زکات بنيادي کړي د دولت ډېری اقتصادي ستونزې له دې لارې رفع کېږي.

۳)**په نېکيو باندې امر کول:** که دولتي مسئولين دې چارې ته متوجه وي او خلک نېکو کارونو ته راوبلي او ټولې دولتي او خپلواکې ډله ايزې اطلاعاتي وسيلې د نېکيو لوري ته د خلکو په را بللو بوختې وي؛ ټول هنري پروګرامونه، هنري او تمثيلي پارچې تفريحي پروګرامونه او خپل فلمونه په نېکيو باندې د امر کولو په خدمت کې واچوي، په رښتيا سره چې کولای شي چې ټولنه د نېکيو او اخلاقي لوړوالي په لور کش کړي.

۴)**له بديو څخه منع کول:** ډېر خلک له بديو څخه د نهي په حقيقي مفهوم باندې نه پوهېږي او فکر کوي چې د تاو تريخوالي پوسيله به عبادت باندې د خلکو مجبورول د دغه اسلامي حکم يو ډول دی، په داسي حال کې چې داسي نده. له بديو څخه د خلکو د منع کولو اصلي موخه د انسان د ژوند په ټولو عملي برخو کې دی. که چېرې د چا په کور کې بې سوادي خوره وي او خوينديې، ورونه او د کورنی ټول غړي په دغه منفي کار هلاکوونکي ناروغی باندې اخته وي، دغه کس کوښښ وکړي او په درسي پروګرامونو سره هغوئ با سواده کړي او هغوئ د علم زده کړې ته وهڅوي په حقيقت کې يي له منکراتوڅخه نهي کړې ده.

## د زکات فضائل

**زکات د مؤمنانو د ژغورني يوه نښه:** د ۱۸ سپارې په پيل کې د هغو مؤمنانو په اړه چې خلاصون او بريا يې په نصيب شوې ده؛ قرآني آيتونه بيان شوي دي چې په دې ډله کې هغه کسان په دې صفت سره ياد شوي دي چې د خپلو مالونو زکات ورکوي:

Download from: www.aghalibrary.com

وَالَّذِيْنَ هُم لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ (المؤمنون/۴)

**زکات ورکوونکي الهي رحمت ته هیله من دي:** خدای مؤمنانو ته ویلي دي، چې تاسي دغه درې کارونه وکړئ چې ښایي الهي رحمت ته لار ومومئ چې هغه عبارت دي له:

**لمونځ کول:** زکات ورکوونکي او هغه کسان چې د پیغمبر اطاعت کوي.

وَ أَقِيْمُواالصَّلَاةَ وَ آتَوا الزَّكَاةَ وَأَطِيْعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ (النور/۵۶)

**زکات د مال د زیاتوالی لامل گرځي:**

(وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ رِبًا لِيَرْبُوَ فِي أَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُو عِنْدَ اللَّهِ وَمَا آتَيْتُمْ مِنْ زَكَاةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ اللَّهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُونَ (الروم/۳۹)

**زکات له خدای (ج) سره د انسان محبت ثابتوي:** هر څوک چې په خپله ژبه د الهي محبت ادعا کوي؛ خو دا چې د هر چا لپاره مال ذاتاً محبوب دی، په همدې خاطر د انسان په آزموینه کې د اموالو ورانډې کول په ځانګړې توګه زکات فرض شوی دی، چې په هغه کې له خدای (ج)سره د خلکو د مینې اندازه ثابتیږي.

**زکات له بخل نه د انسان د پاکولو وسیله:** د زکات له فرضیت څخه موخه له بخل څخه د انسان پاکي ده. چې دا خاصیت د انسان په وجود کې خورا هلاکوونکی دی چې حقیقي مؤمن ته نه ښائي چې د داسي خصلت لرونکی واوسي. حضرت محمد (ص)فرمایي: درې شیان د انسان هلاکوونکي دي:

۱.هغه حرص او بخل چې اطاعت یې وشي.

۲. دنفس هغه غوښتنه چې پیروي ورڅخه وشي.

۳. تر هر چا خپله رأیه غوره ګڼل

**د مال شکرانه په زکات سره ادا کیږي:** خدای (ج)انسان ته ډېر نعمتونه ورکړي دي. چې باید دټولو شکر ادا کړل شي او د مالي نعمت شکر په زکات سره ادا کیږي.


## د حج فلسفه او حکمت

په دې برخه کې به لاندې موضوعات تر څیړنې لاندې ونیسو:

۱-حج په لغت او اصطلاح کې.

۲-د فرد او ټولنې په جوړښت کې د حج ونډه.

۳-د حج فضائل.




**د حج ونډه:** حج له پنځه ګونو اسلامي بناوو څخه یوه ده. دغه الهي وجیبه د انساني ټولنې په جوړښت کې مهم رول لوبوي، چې کولای شو هغه په مفصله توګه تر مطالعې لاندې ونیسو:

Download from: www.aghalibrary.com

**۱-د فرد په جوړښت کي د حج ونډه:** حج مؤمن انسان تر ټولو لوړ ايماني مرحلي ته کشوي چي کولای شو هغه داسي تحليل کړو:

- **په دې مراسمو کي معنويت:** د بيت الله شريف حج تر ټولو د مخه يو معنوي سفر دی، چي د مؤمن انسان روح له ماديت او شيطاني تمايلاتو څخه د متعال خدای (ج)د عبادت په لور او له گناهونو نه د نېکيو په لور رجوع او د الهي دربار تسليمی ته کشکاږي. د حج دغه معنويت په لاندې چارو کي کولای شو په ښه توگه تر مطالعي لاندې ونيسو:
- **د خدای په لوري سفر:** د حج لومړنی اغېز د خدای (ج) په لوري د انسان په بدني حرکت کي په عيني تجسم کې د آدم (ع)د خلقت د رمز فلسفه او د هغه څه چي په دې فلسفه کي مطرح دي ..........

که د حج حقيقت ته وگورو نو دا په حقيقت کي د خدای (ج) په لور، د انسانيت او مسلمانانو د تاريخي مسير په لور، د ارزښتناکو او تاريخ جوړوونکو شخصيتونو په لور يو سفر دی. د محبت او عشق په لوري او همدار راز د انسان د اصل په خوا يو سفر دی.

په دې سفر کي هر انسان د يو ممثل په څېر چي د بشر ژوند تمثيلوي، همداسي د تاريخي شخصيتونو ژوند هم تمثيلوي. کله د ابراهيم (ع) ژوند، کله د سارا ژوند، کله د اسماعيل (ع) ژوند، کله د ټولو دردونه او رنځونه ... او کله په دغه مختلفو صحنو کي دغه مؤمن مسلمان د لاروي رول لوبوي، مگر نه ظاهري رول بلکي د هغو له دقيقي محتوا او معنا سره. دغه شخص خپل ځان له خپل ژوند نه لېري کړي او هغماغسي چي هغه ممثل په فلم کي ځان هېروي او په بل رول کي ځلېږي او ټول موضوعات په ځان باندې عملاً تطبيقوي. په همدې ډول دغه مؤمن شخص د بشريت د تاريخ ټولي صحني يو ځل تمثيلوي، مگر په يو توپير سره چي دهغه ونډه بنسټيزه او محوري ونډه ده. د هغه رول يوازې د يو کس په رول کي نه، بلکي هغه د ټولو کسانو په رول کي دی. هغه ټول تاريخ په يوازې ځان تمثيلوی او په ټولو نقشونو کي تمثيل کوي او بيا هغه يوازې ظاهري رول چي ښائي د ماديت څو صحني وي ،بلکي هغه د ټولو بنسټيز او معنوي رول تمثيلوي او هغه د هرې صحني په معناؤو کي غرقېږي. هغه په يوه توپير سره چي ژړا يې د ساختگی او خيالي فلم جوړوونکو په څېر نده، بلکي هر کله چي ژاړي، په رښتيا سره ژاړي هر کله چي مينه کوي نو مينه يې د صحنه سازی لپاره نه بلکي د ځان جوړوني لپاره ده. دلته دا رول د نورولپاره او دنورو د ښودني لپاره نه لوبوي، بلکي دغه رول د ځان د اصلاح لپاره په ځان د نيوکي لپاره، ځان ته د خپل تاريخ د انسانيت تاريخ د انسان جوړوني تاريخ د زده کولو لپاره او بالاخره دغه صحنه د نورو لپاره نه ... بلکي د ځان لپاره صحني جوړوي. يو توپير او هغه بنسټيز توپير دی چي ټولي تاريخي پېښي د څو ورځو په موده کي تمثيلوي، مگر صحني يي ساختگي ندي، جامي يي ساختگي ندي، د تمثيل ځای يي ساختگي ندی، بلکي ټول حقيقتونه او واقعتونه دي هغه په دې څو ورځو کي د نورو په ياد او بيا وروسته د خدای (ج) په ياد کي کېږي.

**۲- د ټولني په جوړښت کي د حج ونډه:** حج کولای شي چي د انساني ټولني په جوړښت کي دغه لاندې ونډې په سوغات کي راوړي:

**د حج ټولنيزه ونډه:** مسلمانان د خپلو ورځنيو ستونزو د حل په موخه د سيمي مسجدونو ته ځي او په ورځ کي پنځه ځل يو د بل له احوال څخه خبرېږي او هر کله چي کوم کس دوه يا درې ځل د جماعت په لمانځه کي و نه گوري فوراً يي په اړه پوښتنه کوي او د هغي ستو نزې په حل کي چي هغه ته وړپېښه شوي ده ور سره يو ځای تصميم نيسي. د دغو پېژنگلويو او ستونزو د حل لمنه د جمعي په ورځو کي لا پسي پراخېږي، ځکه چي مسلمانان د ښار جامع مسجد

Download from: www.aghalibrary.com

ته ځي او هلته هم د جمعي لمونځ سره یو ځای ادا کوي چي په دې پراختیا سره د جمعي د ورځو د لمونځونو اداکول د یو ښار د خلکو تر منځ دلا ډېر تفاهم او پیژندګلوۍ لامل کیږي.

او داچي د جمعي په لمانځه کي شرط دی چي د رهبر یا یې له استازو څخه د یوتن پوسیله باید ادا کړل شي، نو بناءً د جمعي په لمونځونو کي د مسلمانانو د امام (خلیفه – امیر المؤمنین) حاضرېدل او د هغه په واسطه د خطبي لوستلو سره مسلمانان کولای شي په دې ورځ د خدای (ج) په کور کي د مراجعینو د ممانعت له دروازو او سکرتریت نه پرته د خپل هېواد ستونزې د مسلمانانو له خلیفه سره په مستقیم ډول مطرح کړي.

مګر د مسلمانانو د نړیوالو ستونزو د حل په موخه باید په کال کي یو ځل کانفرانس دایر کړل شي چي په هغه کي له ټولي نړۍ څخه ټول مسلمانان یو ځای شي او د خپلو نړیوالوستونزو د حل لپاره پرېکړې وکړي. او په دې ډول د هر هېواد استازی خپلي ستونزې او پرابلمونه د نړیوالو غوړونو ته ورسوي او په دې توګه نور خلک د دغه ستونزو په حل کي ورسره همکار شي. بناءً حج د ملتونو او د نړۍ د ټولو مسلمانانو ترمنځ د تفاهم بنسټیزه وسیله ده، ولي د اسلام دښمنان د دې حقیقت په درک کولو سره کوښښ او تلاش وکړ چي د حج مراسم یوازې په عباداتو او سپیڅلي ځایونو ته په ورتلو کي منحصر کړي او سیاسی رهبران یې خپل غلامان جوړ کړي هغوئ یې دې ته مجبور کړي چي د حج د مراسمو په جریان کي د کنفرانسونو او اسلامي مجلسونو له جوړولو څخه ممانعت وکړي او د مسلمانانو د سیاسی مجالسو مانع شي چي اصلاً باید همدلته مطرح شي.

همداراز حج ته د مسلمانانو له ورتلو څخه د مخنیوي لپاره د حج په لګښتونو کي ډېرې لوړې بیې ټاکلي دي چي ډېرئ وختونه د الهي کورعاشقان نشي کولای چي په سادګی سره د الله (ج) د کور په زیارت کولو باندې بریالي شي.

**ب: د حج سیاسي ونډه:** حج د ملګرو ملتونو عملي نښه ده چي دهغه بنسټ توحید او د نړۍ د ملتونو په یو صف کي ودرېدل دي.

د اسلام سپیڅلی دین د حج په فرضیت سره خلکو ته په عملي ډول ورښیي چي ملګري ملتونه د توحید په بنسټ رامنځته کیږي چي په هغه د څو زبرځواکونو لپاره د ویټو حق نه وي، بلکي ټول ملتونه یو برابر له خپلو حقونو څخه ګټه واخلي. اګر چي په نني عصر کي موږ د ملګرو ملتونو په نوم یو سازمان لرو، ولي دا ستونزه پکي ده چي د ویټو حق یوازې د نړۍ څو زبرځواکونو ته ورکړشوی دی. حج یو ځانګړی پروګرام دی چي کله د مختلفو ملتونو خلک له مختلفو رنګونو (تور پوستان، سپین پوستان، ژېړ پوستان، سور پوستان) سره له مختلفو هېوادونو څخه سره یو ځای شي او د اختلافاتو، د هرهېواد د سمبولونو او له ویاړ نه د ډکو جامو د له منځه ولو لپاره ټول یوه متحده جامه په تن کوي او په ژبه باندې یو شعار راولي چي:

(لبیک اللهم لبیک لاشریک لک لبیک انا الحمد والنعمة لک ولاملک لا شریک لک).

په حج کي د ملتونو دغه یوځای راټولېدنه د هغه په پرکټیک او عملي شکل سره د ټولو نړیوالو لپاره د لیدني وړ ده. که د هندوانو جشن د هندوستان د هندوانو لپاره دی او یاهم د چینایانو د بت پرستی په مراسمو کي یوازې د چین خلک ګډون کوي؛ ولي د رب العالمین د عبادت په مراسمو کي هېڅوک حق نلري چي د نورو په نسبت لوړوالی ولري. رسول الله (ص) د مکي له فتحي نه وروسته هېڅ مکي، قریشي، هاشمي، عربي ته امر نه کوي چي د کعبي بام ته پورته شي؛ بلکي ناعربي او ناقریشي حبشي، تور پوستی چي د ابراهیمي توحید سمبول (نښه) کېدای شي، د کعبي بام ته پورته کوي او امر ورته کوي چي د توحید غږ پورته کړه. څومره ښه به وي چي دلته دا حقیقت د داسي یو پوه له خولي نه ذکر کړو چي لا یې هم د توحید شرف ندی ترلاسه کړي ولي په حقیقت پوه دی.

Download from: www.aghalibrary.com

د هندوستان له پروفیسورانو څخه یو تن (راما کرشنا راو) د هندوستان د میسور ښار د مهارانیش د هنرونو د کالج د فلسفي د برخي رئیس، د محمد (ص) په اړه یو کتاب لیکلی هغه وایي: (د مکي له فتحي نه وروسته پیغمبر بلال (رض) ته امر کوي چي د کعبې بام ته پورته شي او له هغه ځایه د الله اکبر نعره پورته کړي. حبشي بلال په خپلو پلنو او عریضو شونډو د کعبې بام ته پورته کېږي، هغه بام چي د اسلام له نظره ډېر سپېڅلی او په ورته وخت کي ډېر تاریخي دی، په دې وخت کي د عربانو غرور او تکبر اوج ته پورته کېږي او وایي: دغه حبشي غلام د کعبې شریفي بام ته پورته کېږي او آذان کوي ښه ورځ دي و نه ویني.

اما د خدای (ج) پیغمبر (ص)د غرور، تکبر، لویئ او ځان غوښتني د له منځه وړلو لپاره راغلی و، پیغمبر (ص) یوه خطبه وایي چي په هغي کي داسي وایي: ټوله ثنا او ستاینه خدای (ج) لره ده چي د ټول عالم پروردګار دی او د هغه شکر باید په ځای کړو، چي موږ یي له بې ځایه خبرو او د جاهلیت له جهل څخه وژغورلو، ای خلکو! په یاد ولرئ، چي ټول خلک په دوه ډلو وېشل شوي دي: له خدای (ج)نه وېرېدونکي خلک او متقیان چي د خدای (ج)په نزد لوړه مرتبه لري او شقی القلب (سخت زړي) خلک چي د خدای (ج) په نزد بدبخته او بې اهمیته دي. ټول خلک د آدم (ع) اولادونه دي او آدم (ع) له خاوري نه پیدا شوی دی.

پروفیسور رام کرشنا وایي: (په کال کي یو ځل ټول نړیوال د سرپه سترګو ګوري چي د رنګ، بوی او توکم اختلافات له منځه ځي او هر انسان د انسان په حیث د یو بل تر څنګ ودرېږي. که دا انسان له اروپا څخه وي یا له امریکا څخه یا له هندوستان څخه وي او یا له چین څخه؛ لنډه دا چي د نړۍ له هر ځای څخه وي مکي ته ځي او هلته د یوې کورنۍ د غړو په څېر غونډېږي، په یوه قیافه او یو شکل په یوه جامه کي او په یو غږ او له هر ډول تکبر او غرور نه پرته په لوړ سر شعار ورکوي:(لبیک الهم لبیک لاشریک لک).

په نړۍ کي هېڅ داسي شی شتون نلري، چي د تمیز او وياړ قابل وي؛ پرته د هغه تعالی له پاک ذات څخه چي هر حاجي له دې آغېزې سره خپل کور ته راګرځي، چي خدای (ج) لاشریک دی او موږ د هغه بنده ګان یو).

هغه زیاتوي:(لکه پروفیسور هرګرونجي چي ویلي دي، چي هغه ملګري ملتونه چي د خدای پیغمبر جوړ کړي وو؛ په هېڅ ملتونو او قومونو کي سابقه نه درلوده او بېلابېل قومونه له هغه نه درس زده کړ. هغه زیاتوي چي له اسلام نه پرته د نړۍ له ملتونو څخه هېڅ ملت د متحده امتونو په جوړښت کي هم پیدا کېدای نشي).

**ج: د حج اقتصادي ونډه:** کله چي د خدای (ج) د کور مسئولیت په مخلصانه ډول سرته رسول کېده، اسلامي رهبرانو کولای شو چي له هغو لګښتونو څخه چي غني حجاجو د حج د مراسمو د سرته رسولو پرمهال ورکول د ټولو مسلمانانو په ګټه کار وکړي او د کلني حج او عمرې عایدات چي میلیونونو ډالرو ته رسېدل د فقیرو او مصیبت ځپلو هېوادونو لپاره لګولی وای او په دې توګه د ملتونو د فقر او بې چارګی لمن په بشپړ ډول له منځه تله.

مګر په خواشینی سره د آل سعود تېل خرڅوونکو د مسلمانانو مالونه مډال کړل او د هغو امریکایانو په سینو یي وزړول، چي د خلیج په جګړه کي یي عراق ویجاړ کړی او یا یي هم د غربیانو شرېدلي جګړه ایز وسایل او جنګي الوتکي په میلیونونو ډالرو وپېرلي او په هغه ځای کي یي د اسلامي نهضتونو د ځپلو لپاره استعمالوي، ولي د اسلام له دښمنانو سره د جګړي پر مهال د څو زره ډالرو په اخیستلو سره هغه امریکایانو ته ورکوي.

**د: د حج کولتوري ونډه:** د نړۍ د ملتونو تر منځ مختلف کولتورونه شتون لري، چي دغه کولتوري چارې د کلیزو د مراسمو، نمانځنو او نورو چارو په شکل د هېوادونو او یا هم د څو هېوادونو په کچه وي. د بیت الله شریف حج، د اسلام د بنسټیز رکن په توګه په اسلامي اصیل کولتور کي خورا مهم رول لوبوي. په هغه ځای کي د ټولي نړۍ

Download from: www.aghalibrary.com

مسلمانان له بېلو نژادونو، مذاهبو، قوميتونو، او اعتباراتو سره حاضرېږي او ټول د خويندو او وروڼو په څېر د كعبې شريفې چاپېره د مينځ عرفات سيمې او د حج ټولو سيمو كې په يوه جامه او يو شعار سره د خپل پروردګار په عبادت كې بوختېږي، په دې ځاى كې تر ټولو مهم اسلامي كولتور چې د بشريت ترمنځ له مساوات او برابرۍ څخه عبارت دى؛ روښانېږي. دلته يوازې يو كولتور شتون لري او هغه هم ايماني كولتور دى، چې د توحيد په ستنو باندې استوار دى.

دلته د اختلاف كولتور له منځه ځي او ټول د ژبې، توكم او جنسيت په پام كې نيولو څخه پرته د پروردګار عبادت كوي.

اسلامي ټولنه كوم سرحد ته ترلې نهده، بلكې يو مسلمان چې رب العالمين ته عبادت كوي او هر وخت وايي:

قُل أَعُوذُ بِرَب النَّاسِ (الناس/١)

په دې بنسټ يې ټل كوښښ او تلاش د انساني ټولنې د ښه والي په موخه د نړۍ د بېلابېلو ملتونو پيوندول وي، حج اوس د ملتونو تر منځ دغه ژور انساني كولتور راژوندى كړي او ټول جغرافيايي، توكميز، مذهبي، حزبي، ژبنى او قومي پولې يې له منځه وړي. ټول يې په يو شعار يوه جامه او يو مكان كې را ټول كړي، د ټولو اختلافاتو په پام كې نيولو څخه پرته ټول خلک خپل مراسم ادا كوي.

د حج په مراسمو كې اسلامي كولتور چې د ملتونو د وروړګلوۍ او وحدت په بنسټ ايښودل شوى دى؛ په ډېر عالي شان ډول سره تمثيلېږي.

او كه په نورو وختونو كې هم دغه كولتور پلى شي؛ ټول تاو تريخوالي او بدليد له منځه ځي او ټول مسلمانان كولاى شي داسې يوه اسلامي ټولنه نړيوالو ته وړاندې كړي، چې د انسان جوړوني او انسانپالنې يوه نمونه (الګو) وي.

### د حج فلسفه:

د سپينې جامې فلسفه كه څه هم ځينې ماده پرستان په ظاهري جامو وياړي او په وياړلو جامو كې خپل شخصيت ښه ګڼي او خپل ځان د نورو په نسبت لوړ بولي، د دې لپاره چې د نړيوال ملاقات پر مهال مسلمانان د بېلابېلو جامو اغوستل مؤمنان له حقيقتونو څخه د مادي چارو په لور بوخت نكړي. ټولو ته سپارښتنه شوې ده چې يوه سپينه جامه په تن كړي، چې هېڅوک د لوړوالي يا كموالي احساس ونكړي او همدا ډول سپين رنګ د محشر د ورځې په ياد ساتلو لپاره چې ټول سپينې جامې په تن دي او قبر ته هم په سپينو جامو كې ځي او دغه د قبر او د محشر د ورځې يادونه د انسان معنوي روح له ماديت څخه را باسي او د ملكوت او معنويت په لور يې لېږدوي او په دې توګه ټول مسلمانان خپل ځانونه په يوه جامه كې حقيقتونو ته نږدې كوي.

**د حج اخلاقي فلسفه:** له قرآني مهمو احكامو څخه يو چې پوهيدل يې په هر مسلمان باندې لازم دي، دا دى چې متعال خداى(ج)مسلمانانو ته په خطاب كې فرمايي:

(يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُواْ ادْخُلُواْ فِي السِّلْمِ كَآفَّةً وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ ...(البقره/٢٠٨)

اى مسلمانانو! په بشپړه توګه په اسلام كې ننوځئ او د شيطاني ګامونو پيروي مكوئ. د دغه مبارک آيت مفهوم دا دى چې مسلمان كوښښ وكړي چې په بشپړ ډول اسلام قبول او عملي كړي او ځان كامل مسلمان كړي. بشپړ مسلمان هغه څوک دى چې ټول اسلامي احكام په بشپړ ډول درک كړي او عقيده پرى وكړي او د هغو د عملي كولو لپاره كوښښ او تلاش وكړي. د اسلام سپيڅلى دين د درى مهمو بنسټونو لرونكى دى:

Download from: www.aghalibrary.com

۱)عقیدوي برخه (اسلامي فکر)

۲)عملي برخه

۳) اخلاقي برخه

د اسلام اخلاقي برخه له خالق او مخلوق سره د انسان اړیکه د آدابو، حیاء، په سمه توګه خبرې کول، متقابل احترام او د نورو د علاقه مندیو مراعتولو په بنسټ وي. دغه اسلامي اخلاق د مسلمانانو توجه د اسلام سپیڅلي دین ته راکاږي. پیغمبر(ص) او صحابه اکرام(رض) دومره اسلامي اخلاق مراعتول چې په زرګونو نامسلمانان خلک د هغوی د غوره اخلاقو عاشق کېدل او د پیغمبر(ص) او صحابه کرامو د همدغو غوره اخلاقو لپاره به یې د اسلام سپیڅلي دین ته خپل میلان اعلانوه او اسلام به یې قبلوه.

کله چې پیغمبر(ص) فرمایي:

(انما بعثت لاتم مکارم الاخلاق)

زه د دی لپاره رالیږل شوی یم، چې د اخلاقو مکارم بشپړ کړم. په دې معنا چې حضرت اعلانوي چې په حقیقت کې یې په دې رسالت کې دنده اخلاقیاتو ته دعوت کول دي.

ځکه د انسان هر عمل چې د اخلاقو منافي شي هغه عمل بې ګټې او بې ارزښته وي د بېلګې په توګه، کله چې څوک د خدای(ج) کور ته سفر کوي چې د یو خدای کورته د رسېدو په لاره کې د سفر له پیل څخه اسلامي آداب مراعت کړي او په دې توګه له شهوت پاروونکو خبرو څخه چې فاسقان یې پخپلو مجلسونو کې یو بل ته کوي، پرهېز وکړي. ځکه هر اسلامي عمل چې له غوره اخلاقو نه خالي وي بې ګټې او باطلیږي. د مثال په توګه:

لمونځ – اخلاق = د لمانځه نه قبلېدل (ځکه په لمانځه کې د عورت پټول چې د اخلاقو بنستیز جزء دی؛ فرض دی.)

زکات – اخلاق = د زکات نه قبلېدل: ځکه په قرآن کریم کې ذکر شوي دي (لا تبطلوا صدقاتکم بالمن والاذی)

حج – اخلاق = د حج نه قبلېدل ځکه په قرآن کریم کې ذکر شوي دي: (ولا رفث ولا فسق و لا جدال فی الحج).

**د ابراهم خلیل الله (ع) د یاد فلسفه:** کېدای شي چې د حج فلسفه د ابراهیم په نوم او د هغه د خاطرو په یادولو سره پیل کړو. ابراهیم چې د پیغمبرانو پلار ګڼل کېږي، هغه د کعبې جوړونکی، هغه لومړنی قرباني کوونکی، څوک یې قرباني کړ؟ خپل زوی یې قرباني کړ، د خپل ځیګر ټوټه یې قرباني کړه، په کوم عمر کې؟ ایا په داسي عمر کې چې کولای یې شول څو نور ماشومان نړۍ ته راوړي او د یو زوی قرباني ساده او آسانه کار او یا دا چې د هغه د زوړوالي پرمهال نویې د زامنو هیله نه بلکې د بل زوی هیله یې هم نه درلوده. نو په داسي مهال کې هغه قربانۍ ته چمتو دی، آیا د هغه ټول مرکچیان قربانۍ ته چمتو دي؟ نه بلکې هغه په داسي مهال کې قربانۍ ته چمتو کېږي چې ټول د ګمراهۍ او هلاکت لوري ته په حرکت کې دی. ټول د خدای (ج) او د خدای (ج)د دین ضد دي، ټولې بېلې کورنۍ د هغه دي، ټول یو بل ته لاس په لاس کې ورکړي، په ځوانۍ کې یې هغه د نمرود په اور کې وغورزاوه .... هغه په دغه وېروونکي چاپېریال او تیاره کې .... د ټولنې دغه ټولو بدیو ته تسلیم نه شو او د وخت د ناولیو په څېر ځان له ټولنې سره برابر نکړ ..... هغه د ټولنې د فرعونیانو پر وړاندې غبر پورته کړ .... هغه د توحید د عقیدې لپاره له لاس او ژبې نه کار واخیست .... هغه په لاس او ژبې سره منکرات له منځه یووړل .... هغه د بت پرستانو بتخانې ته ولاړ .... او د هغوئ بتان یې مات کړل .... او بیا د هغوئ د قناعت لپاره له بتانو څخه یو بت نمونه وګرځاوه ..... هغه په عملي او پرکتیک شکل ټولو ته داسي درس وړاندې کړ چې د انسان عقل .... د انسان پوهه .....د انسان لوړوالی ..... د انسان عظمت... د انسان کرامت ......چېرته ځي؟؟ کله چې مخلوق ته سجده کېږدي .... کله چې بت

Download from: www.aghalibrary.com

ته عبادت وکړو ....د بت پر وړاندې مو خپل کرامت له لاسه ورکړی دی .... بیا ونه وایو چې موږ اشرف المخلوقات یو .... هر کله چې انسان ته د تسلیمی سر ټیټ کړو .... او د استدعا او همکاری او مرستې رسوني او مشکل آساني انسان ته پرانیزو .... ځان مو بایللی .... خپل شخصیت مو بایللی ....خپل کرامت مو له لاسه ورکړ دی....او خپل ټول کرامت مو له هغه شخص څخه قربان کړ ..... ځان مو له انسانیت او اشرفیت څخه د حیوانیت او ځان بایلني دایرې او محور کې ګرځولی دی ..... ابراهیم(ع)د خپل په ژوند په سختو شیبو کې ... د نمرود د اور په منځ کې ....د ټولني غوسي په منځ کې .... د انساني ټولني د بد بختیو په منځ کې بیا هم چا ته نه تسلیمیږي....... حتی د پریښتو په وړاندې خپل شخصیت نه راټیټوي او کله چې پرښته ورته راځي ....په کوم حالت کې؟؟ د اور په منځ کې ... له هغه پوښتنه کوي چې آیا مرسته غواړې؟؟؟ اړتیا لرې؟ چون مؤحد دی .... یو الله پرست دی .....خدای پیژندونکی .... منعقد ...وایي: هو .... مګر له تاسي څخه نه.

بیا لویه پرښته لکه جبریل هغه ته راځي او وایي:ای ابرهیمه په دې حال کې څه غواړې؟؟ او څه پیغام لرې؟ او لږ کار دی/بیا ورته وایي: چې هو هر څه ته ضرورت لرم مګر له تا څخه نه.

ابراهیم پوهیږي چې پرښتي مخلوق دي، پرښتي بنده دي. بنده چې هرڅومره مشرف او مکرم شي ... بنده چې هر څومره محبوب او مقرب وي ..... بنده چې هرڅومره عزت او کرامت ولري ... بنده چې هر څومره لویه دنده په آسماني کرسیو کې ولري.... بیا هم بنده دی.

د فزیکي آزموینې په تېرولو سره د ابراهیم آزموینه پای ته ونه رسېده....هغه بیا هم آزموینه ورکوي .... دا ځل د لومړنۍ آزموینې په نسبت ستونزمنه آزموینه....د عقیدې آزموینه..... د مرستې غوښتني آزموینه....دکمک غوښتني آزموینه.... د ایاک نعبد و ایاک نستعین آزموینه...... ډېری انسانان په سختو فزیکي آزموینو کې بریالی کېږي، ولې د عقیدې او اندېښې..... د خدای پرستۍ او بو پرستۍ په آزموینه کې .... مغلوب کېږي ....د ستونزو پر مهال یې مخ د شیطان له وېناؤو سره سم ... د واحد عزوجل ذات...د ضعیف انسان په لوري اړوي....د ستونزو پر مهال ...واحد خدای هیروي ...واستعینوا بالصبر والصلاة هېروي .... ایاک نستعین هېروي ....له انسان... له مخلوق....له پرښتي ... له پیغمبر... له شخص ...او بالاخره له داسې چا څخه مرسته غواړي، چې پخپله مرستې ته اړ دی.

ولې ابراهیم (ع)د نمرود په اور کې نه په عادي اور کې ....هغه اور کې چې د ټول ښار خلکو د شاو خوا خلکو پکې لرګي اچولي دي؛ بیا یې هم خپله عقیده نه ده هېره کړې... بیا یې هم خپل ایمان له لاسه نه دی ورکړی؛ بلکې په یو قوي ایمان سره په دې آزموینه کې بریالی کېږي... ابراهیم (ع) په ټولې پوهې او سمې عقیدې سره د ملایکو ځواب وایي: چې هو زما دوسته په دغه سختو او ستونزمنو شېبو کې مرستې ته اړتیا لرم.... مرسته کوونکي ته اړتیا لرم .... ژغورونکي ته اړتیا لرم.... ولې هغه کس ته نه یې...تاته...داسې چاته اړتیا لرم سوال کوونکی له سوال نه وړاندې پېژني... د ستونزې له راولاړېدو نه وړاندې یې په ستونزه پوهېږي او د ستونزو حل یې له غوښتنې نه وړاندې چمتو کړی .... داسې یو چا ته اړتیا لرم چې د هغه په نزد وسایل هېڅ دي...یو حکم... د هغه یوازې یو امر د (کاف) او(کن) په منځ کې دی:

اذا اراد شیئًا یقول له کن فیکون.

هغه ته اړتیا لرم نه تاته.....

داسې چا ته اړتیا لرم چې حکم یې په جامداتو هم پلې کېږي.

داسې چا ته اړتیا لرم چې امر یې حتماً تنفیذ کېږي.

Download from: www.aghalibrary.com

له وسیلې نه پرته.

له تأخیر نه پرته.

داسې چا ته اړتیا لرم چې حکم یې نه یوازې د یوې ستونزې حل؛ بلکې حکم یې د ټولو ستونزو حل دی.

دلته الهي حکم اور ته رسېږي (یا نار...ای اوره!...کوني برداً....سوړ شه ... و سلاماً... او سلامت وساته ..... علی ابراهیم.

دلته بیا مفسرین په تعجب کې غورځېږي؛ ولې په دې حکم کې، د سلام کلمه ...هم وکارول شوه؟؟؟ او پخپله ځواب وایي چې که اور ته یوازې ویل شوی وای چې (بردًا...سوړ شه) نو دغه اور به له حقیقت نه بې خبره داسې سوړ شوی وای چې په خپله لمن کې به یې ابراهیم (ع) د یخنۍ له امله وژلی و، ولې خدای اور د ابراهیم لپاره نه یوازې سوړ کړ، بلکې هغه یې ورته مسخر کړ، هغه ته یې امر وکړ چې سوړ شي، ولې نه دومره سوړ چې ابراهیم (ع) هلاک کړي؛ بلکې سوړ شه د ابراهیم (ع)په خدمت کې اوسه.

دغه حاجي چې د حج سفر په مخکې لري او مقام ابراهیم ته ځي، د لمانځه لومړنی رکعت ادا کوي، په دې مقام کې ځان د ابراهیم په جامو کې جوړوي او په دې مقام کې د مقام د څښتن پر وړاندې د ابراهیم (ع)د خدای (ج)د نوح د خدای، د اسماعیل د خدای، د پیغمبرانو د خدای د عیسی او موسی د خدای او د ټولو نړیوالو د خدای پر وړاندې و درېږي او د ابراهیمي توحید عقیده تمثیلوي، ځان د ابراهیم په څېر موحد او یو پرست جوړوي، ځان هېڅ چاته نه تسلیموي او خپله توجه یوازې د هغه (ج) ذات ته وګرځوي. هغه پوهېږي چې کعبه یو مخلوق دی او مخلوق ته عبادت نه کېږي، کعبه یوازې د توحید سمبول دی، قبله ولې سجده د قبلې څښتن ته کېږي، ټول یو اړخ ته مخ اړوي، ولې په بېرته ګرځېدو سجده نه کوي، عز و جل خدای (ج)ته سجده کوي، د یو دېوال شاه لمونځ کول هغه دېوال ته سجده نه ده، د دېوال څښتن ته سجده ده، کعبه یو جامد جسم دی هغه نشي کولای چاته ګټه راجلب کړي، پخپله مخلوق دی پخپله اړمنه ده، دغه مسلمان اوس د ابراهیم (ع)په مقام کې ځای لري، ابراهیمي عقیده لري، هغه سترګې، لاسونه او زړه او ژبه د هغه ذات (ج)په لوري پرانستي، سره له دې چې پر وړاندې یې دا ټولې صحنې او سپېڅلي ځایونه قرار لري، دا ټول یوازې د ابراهیم (ع) په یاد په ابراهیمي عقیده تمثیلوي. هغه د حجرالاسود په وړاندې ولاړ او د ابراهیمي مکتب د پیروانو له عقیدې سره د حضرت عمر(رض) د خبرو یاد ته ورځي چې ویل یې: ای توري تیګې ته ماته هېڅ ګټه او زیان نشي رسولای په خدای قسم دی چې که د خدای رسول ته مچې کړې نه وای؛ نو ما هېڅ کله هم ته نه مچې کولې. دغه حاجي بیا هم د دغه سمبولونو په لوري ګوري د شخصیتونو په یاد کېږي او د هغوئ له ژبو څخه د توحید عقیده اخلي او د خدای (ج)په یاد په حرکت کې کېږي.

په نړۍ کې د هابیل او قابیل دوه قطبونه د نړۍ له پیداینت نه وروسته په قدیم الزمان کې ظهور وکړ او قابیل د شر او دښمنۍ د سمبول په توګه وغوښتل چې د هابیل د پاکۍ او صفایۍ پر وړاندې ودرېږي او کله چې و نه توانېد، چې په سادګۍ سره خپلو شومو موخو ته ورسېږي؛ نو ویې غوښتل چې د قتل او تجاوز له لارې د هابیل حق تصرف کړي. د شر دغه سمبول د انسانیت له پراخېدو نه وروسته په درې شریرو سمبولونو چې عبارت له (اقتصادي سمبول چې تل د نورو د جیبونو په تشولو کې ونډه لري، د زور په سمبول سره چې تل په سلطه او قدرت او یا سیاسي حکمت په زور سره ورمېږونه تر خپل تصرف لاندې راولي او د ملتونو وینې له دې لارې نه تویې کړي، دی او هغوئ یې خپل غلامان جوړ کړي دي او درېیم سمبول هم تزویر دی چې ځینې خرڅ شوي دیني حقیقتونه د دوه شریرو سمبولونو په ګټه تفسیر او توجیه کوي او د ملتونو عقل او فکر نشه کوي او په دې ډول د ظلم دغه درې سمبولونه تل د ملتونو پر

Download from: www.aghalibrary.com

وړاندې ولاړ دي، چې عظيم الشان قرآن د زر يا ظالمانه اقتصاد سمبول د قارون په جامه کې تمثيل کړی او شرير سلطنتي سمبول يې چې په زور سره يې خپل ملت غلامی ته کش کړی وو؛ د فرعون په جامه کې او د تزوير سمبول د بلعم ابن باعور په نوم شخص کې بيان کړي، چې دغه درې شرير سمبولونه د موسی (ع)پر وړاندې ولاړ و؛ مګر موسی (ع)د حقيقتونو په درک سره او د الهي وحيې له سرچينې څخه په ګټه اخيستنې سره وتوانيد، د شر په درې واړو سمبولونو بريالی شي. يو يې په خاوره کې غرق کړ او بل يې په بحر کې او دريم يې د تاريخي حقيقتونو په لابلاوو کې را چپه کړ او بالاخره يې د توحيد بيرغ د هغوئ پر ځای ورپاوه.

مګر د موسی (ع)له تلو نه وروسته دغه شرير سمبولونه د بشريت د تاريخ په اوږدو کې دوام درلود او د توحيد د مکتب لومړني بنياد اېښودونکي د ملتونو د يو پارچه کولو لپاره داسې سمبول په حجاز کې کېښود چې ابراهيم (ع) د نړۍ د ټولو مصلحانو په څېر يې د الهي لارښوونو په بنسټ نوی فکري ښوونځی پالنې او د نړۍ پېژندنې خوځښت نشته او د بشري تاريخ د مسير پر خلاف د انحصاراتو او پولو او قدونو او غلاميو او لوړتيا غوښتنو د نابودولو خوځښت او په ورته وخت کې د نړۍ د وحدت له انسان سره د انسان وحدت رامنځته کېدل دا د ابراهيم (ع)نهضت دی.

دا ټول عظمت دی او دا دی چې انسانان هرکال او هر نسل کې بلل شوي، چې د ابراهيم (ع) د خاطرې په نوم په ګوښه کې راټول شوي او د هغه له اعمالو نه جدي پيروي کوي او اشاره وکړي او په دې شکل ټل بشري نسلونه چې د مسلمان په نوم د ابراهيمي رسالت د سرته رسولو او ادامې مسئول دي؛ له ابراهيم (ع) سره خپل پيوند خوندي کړي او هرکال دلته راشي او له هغه تعهد نوی کړي، چې دغه د تعهد نوي کول د بې پايه دروند مسئوليت بار د روښانه او پوه انسان پر اوږو باندې ږدي. هغه ستر مسئوليت چې له ابراهيم (ع) سره پيل شو او د انساني برابرۍ دورې ته انساني ورورۍ دورې ته او د شرک د ټولو عواملو نفي يعني انحرافي مذهب د نفي کولو دورې ته د بشري تاريخ د مسير د بېرته ګرځېدو او بېرته راګرځول دي. (نړۍ ليد او ايډيولوژي، تألیف دکتور علی شريعتي).

**د صفا او مروه تر منځ د منډو فلسفه:** د اسلام تاريخ اتلي مېرمني درلودې چې حقايقو ته د رسېدو لپاره ټل د کفر او شرک پر وړاندې د مبارزې په سنګر کې خپلې وينې قربان کړې دي. د اسلام لومړنۍ شهيده چې د ابوجهل پر وړاندې ودرېده او خپلې وينې يې له اسلام څخه قربان کړې او کله هم د ابراهيم (ع)مېرمن د مکې په وچه دښته کې د خپل يوازنی زوی لپاره چې وروسته يې بيا د ذبيح الله لقب په اتلولۍ سره وګاټه د څو ځاځکو اوبو د پيداکولو په موخه د صفا او مروه غونډيو ترمنځ منډې وهي. خدای (ج) د دغه مؤمنې مېرمنې دغه حرکت او غوښتنې د دعا دلاسونو له پورته کولو نه وړاندې پوره کوي او د اسماعيل تر قدمونو لاندې سپېڅلې چينه را باسي چې د بيت الله شريف درانه حاجيان د صفا اومروه ترمنځ په سعی کولو سره د دغې اتلې مېرمنې شهکارياني تمثيلوي، غواړي ځانونه په دې ليکه کې حساب کړي.

**اوومه فلسفه قرباني:** کله چې د بيت الله شريف حاجيان او له هغوئ سره ټول مسلمانان قربانۍ ځای ته ځي او د يوازني خدای (ج)د رضايت لپاره څاروي وړاندې کوي؛ په حقيقت کې هماغه ابراهيمي سنت په ياد کې لري، چې څنګه په اتلولۍ حاضر شو، چې خپل زوی الهي دربار ته قرباني کړي. هغه د خدای پېژندنې درس داسې عاشقانه په عملي شکل سره تطبيقوي، چې د زوی د محبت په نسبت يې د خدای (ج)محبت ته ترجيح ورکړي چمتو کېږي چې هغه د خدای (ج)په لاره قربان کړي او په همدې شکل دغه قربانۍ نه يوازې دا چې په ابراهيم (ع) پورې منحصرې پاتې نه شوې، مګر په دې حالت کې د اسماعيل (ع)اتلولۍ هغه ايمانداره ماشوم او دهغه فکر هم د حجاجو په ذهن کې ظهور کوي.

Download from: www.aghalibrary.com

هغه د اسماعیل په یاد کې غورځېږي چې د شیطاني وسوسو سره بیاهم چمتو دی چې خپلې وینې د خدای په لاره کې تویې کړي خپل ژوند د یوازني ذات (ج)نه قربان کړي خپل پلار ته وایي:

(یا ابت افعل ماتؤمر ستجدنی ان شاءالله من الصابرین)

ای پلاره! هر امر چې درته شوی هغه عملي کړه او انشاء الله چې ما به د صابرانو له جملې څخه ومومې.

په دې آیت شریف کې د اسماعیل (ع)فضیلت بیانیږي. هغه خپل پلار ته نه وایي چې هر څه غواړې ویې کړه بلکې ورته وائي هرڅه چې درته امرشوي هغه وکړه ځکه چې هغه د یو خدا حکم ته تسلیم دی او پوهیږي چې موحد پلار یې هغه کار نه کوي چې په هغه کې ظلم وي، بلکې د هغه هر قدم د الهي لارښوونو عملي تطبیق دی. خپل زوی ته وائي چې په ما باندې فرمان راغلی چې تا د الهي دربار قرباني کړم او زوی هم دغه قربانی ته حاضر شوی، خپل پلارته وایي چې هر څه درته امر شوی هغه وکړه او ما به صابر ومومې او په دې توګه دواړه پلار او زوی له الهي آزمویني بریالي راووتل او له جنت څخه پسه د قربانی لپاره رالیږل کیږي. او کله چې مسلمانان قرباني کوي تصمیم لري او تصمیم نیسي چې که د زامنو وړاندې کول یې د الله په دربارکې مطلوب وي له هغه نه دریغ نکوي او کله چې خپل ځان یې د اړتیا پر مهال الهي قربانۍ ځای ته یوړل شي حاضر دي. ځکه په دې حالت کې حجاج درس اخلي چې څنګه یو نوی ځوان چمتو کیږی چې خپل ځان د خدای (ج) قربانی کړي. هغوئ هلته هماغه خاطره بیا را ژوندۍ کوي. هغوئ د څاروي د ذبح کولو پر مهال دهغو دوو (زوی او پلار) په یاد کې غورځیږی چې هر یو د توحید او فدا کارۍ درسونه پرې ایښي دی. حاجي د قربانی په وړاندې کولو سره له خپل خدای (ج)نوی تعهد کوي چې هغه د اسماعیل (ع)په څېر هره شېبه قربانی ته چمتو دی. هغه د ابراهیم په څېر د خدای محبت ته د اولاد پر محبت باندې لوړوالی ورکوي او هر چېرې د خدای مینه مطرح شي ټول محبتونه هېروي د یو خدای په یاد به له هرشي نه تېرېږي.

همدا قرباني د فداکارۍ درس دی چې د افغانستان مسلمانانو له روسانو او د اسلام د دښمنانو سره په جګړه کې خپل زامن د قربانۍ جبهو ته ولېږل او لېږي. او هغه مهال چې خنساً هغه صحابیه مېرمن خپل څلور زامن د جهاد په میدان کې شهیدان مومي او د خدای (ج)په لاره کې د خپلو زامنو په قربانۍ باندې ویاړي.

**نهمه فلسفه د بیت الله نوم ایښودنه:** کعبه د مسلمانانو لپاره تر ټولو سپېڅلی ځای دی. د توحید سمبول بیت الله او د مسلمانانو قبله ده، مګر د کعبې ودانۍ چې حضرت ابراهیم او اسماعیل جوړه کړه، مادي جوړښت یې له خاورې او خټې څخه دی او کعبه شریفه سره له دې چې د خدای (ج)کور ورته ویل کیږی، ولې حقیقتاً متعال خدای (ج)د کور او تعمیر له لرلو نه پاک دی کعبې ته دا لقب یوازې د هغې د عظمت او احترام لپاره ورکړل شوی دی. ځکه د عبادت او اطاعت ځای او د اسلامي امت د توحید او یووالیسمبول دی. هېڅوک کعبې ته عبادت نکوي او کعبه چاته ګټه او زیان نشي رسولای.

د اسلام له پوهانو څخه یو تن د کعبې شریفې په اړه داسې نظر څرګندوي (د خدای د کور په زیارت یوه ډېره بنسټیزه مسئله دا ده چې ما احساس کړه او قاعدتاً تاسوهم احساس کړې دی چې موږ خپل ټول د دې کعبې په لوري لمونځ کړی دی. د خپل ژوند ټولې شېبې مو د دې جهت په لوري سپېڅلې کړې دی، تعظیم مو ورته کړی، تجلیل مو کړی دی او زموږ مسلمانانو لپاره د قبلې جهت یعنې کعبه له ټولو جغرافیایې یعنې شمال او جنوب او ختیځ او لوېدیځ جهتونو څخه ډېر له معنا نه ډک او ډېر ارزښتناک دی او اصولاً کعبه لکه هغه قالب چې زموږ ټولوعشقونه، زموږ ټولو ایمانونه، زموږ ټولو عقاید او زموږ ټولو کولتور او زموږ ټولو تاریخ او زموږ ټولو روح او معنویت او عاطفه

Download from: www.aghalibrary.com

ده. کعبه یوه پټه ده او ټوله سپېڅلتیا یې په همدې پټه والي کې دی او ټول عظمت یې په دې دی چې دغه پټه خدای (ج)ټاکلي ده اوپه هر بل ځای کې یې هم ټاکلی شوه. نه دا تیګې سپېڅلتیا لري او د غرونو له نورو تیګو سره فرق نکوي او حتی خپله حجر الاسود ذاتاً له نورو آسماني تیګوسره توپیر او فرق نلري. د دې کور ارزښت د دې په خاطر دی چې دا کور د دې لپاره پټه ده چې انسان په دې ژوند کې اود ځمکې په مخ او په دې نړۍ کې خپله مرتبه ورکه نکړي. ارزښت یې دا دی چې دا کور د توحید په نوم جوړ شوی، خپله کور نه هنري ارزښت لري، نه اقتصادي ارزښت لري، نه معماری ارزښت لري، نه ذاتي ارزښت لري او هېڅ بل ارزښت هم نلري، یوازې یو اعتقادی ما فوق بشري او بشري ارزښت لرېر.او هغه دا چې دیو فکر په نوم جوړشوی چې هغه فکر توحید دی د یو انسان په لاس جوړ شوی دی او هغه د توحید بنسټ اېښودونکی او د هغه ملګری د هغه زوی ؤ ذبیح د توحید قرباني).

بناءً د توحید د عقیدې په بنسټ کعبه صرف د مسلمانانو لپاره د توحید سمبول ده. هغوئ د خپلو لمونځونو پر مهال خپل مخونه د یوې قبلې په لوري کوي او په ګډه توګه د پروردګار په عبادت باندې بوختېږی د پروردګار ذات ته سجده کوي او شرط هم نده چې انسان د لمانځه پر مهال د کعبې پر وړاندې ودرېږي بلکې په هر ځای کې چې وي او په هر هېواد کې چې لمونځ کوي صرف خپل مخ همغه لوري ته اړوي او خپل لمونځ کوي. دغه یوه قبله لرل د مسلمانانو یووالی ښئي او همدغه د هغوئ د توحید سمبول د اسلامي امت د یووالي حقیقت ته هغوئ سوق کوي. حج ته د ټلو په وخت ټول د یوه کور چاپېره طواف کوي تر څو له مختلفو رنګونو سره د مختلفو خلکو ګرځېدل دلیل اوسي چې د اسلام سپېڅلی دین نژادي، قومي او تطبقاتي توپیرونه د تقوا په لوړوالي باندې تبدیل کړي دي او څوک رسولی نشي. هېڅوک کعبې ته عبادت نکوي او هېڅوک کعبې ته سجده نکوي.

**د ملتونو د اتحاد د نړۍ اعلامیې فلسفه:** هغه مهال چې مسلمانان سره یو ځای د عرفات د غره په لوري ودرېږي؛ الهي لارښوونو ته غوږ نیسي په داسې شکل، چې د سهار د لمانځه له اداکولو نه وروسته د ذی الحجې په نهمه ورځ په (مینا) کې البته د لمر له راختلو نه وروسته ټول حاجیان(لا اله الله والله اکبر او تلبیه) ویونکې د عرفات په لوري حرکت کوي او عرفات ته ځي، د ماسپښین او مازیګر لمونځونه د (نمیره) په مسجد کې ادا کوي او د ماسپښین د لمانځ پر مهال اما خطبه وایي په دې خطبه کې د نړۍ د ټولو مسلمانانو د یو والي د خطیب په واسطه لارښووني بیانېږي او د نړۍ ټول مسلمانان د الهي دربار ته لاسونه پورته کوي. د یو جسم په څېر د دې ورځې ټول مراسم ادا کوي.

**د طواف فلسفه:** کله چې مسلمانان د بیت الله شریف طواف کوي او د پتنګانو په څېر د کعبې چاپېره ګرځي، انسان ته یو عجیب حقیقت څرګندېږي او هغه دا چې د کعبې چاپېره دغه ګرځېدل د ساعت د عقربې په څېر دي چې د ۲۴ ساعتونو په اوږدو کې یوه شېبه هم توقف نکوي او د انسان د زړه د ضربان په څېر درېدل نلري. په همدې توګه مؤمنان د کعبې ګرد چاپېره د ۲۴ ساعتونو په اوږدو کې په ګرځېدو او طواف کې دي. او دا کار د یوه خدای (ج) په عبادت کې د اسلام لوړوالي ثابتوي، ځکه په ټولو دینونو کې عبادات په ځانګړیو وختونو کې وي، ولې د اسلام په سپېڅلي دین کې هېڅکله نه پرېکېږي او د کعبې تل تر تله طواف په دې حقیقت باندې دلیل دی.

د اسلام په سپېڅلي دین کې عبادت په ټولو برخو کې لکه وړاندې مو چې یادونه وکړه، هم د ژوند په ۲۴ ساعتونو کې ادا کېږي. یو کس له یو مسلمان پوه څخه د دې عبادت فلسفه وپوښتله چې تاسې څه وخت عبادت کوئ؟ هغه ورته وویل چې موږ مسلمانان د خپل په ۲۴ساعتونو کې عبادت کؤو.

هغه کس وویل: نو بیا تاسې هېڅ خوب نه کوئ. اسلامي پوه ورته وویل: موږ د پیغمبر (ص)په طریقه باندې خپل خوب کؤو. بناءً زموږ خوب هم په عبادت کې حسابېږي. د دغه پوه وینا د اسلام په سپېڅلي دین کې دعبادت حقیقي فلسفه

Download from: www.aghalibrary.com

بيانوي، ځکه د اسلام په سپېڅلي دين کي د يو مسلمان ټول اعمال د ژوند په ۲۴ ساعتونو کي له الهي احکامو سره سم ادا کېږي او هېڅ داسي وخت نشته چي له عبادت نه پرته تېر شي.

کله چي څوک د پيغمبر (ص) له طريقي سره سم واده وکړي؛ عبادت يې کړی دی.

کله چي څوک د پيغمبر (ص) له طريقي سره سم سوداګري وکړي؛ عبادت يې کړی دی.

کله چي څوک د پيغمبر (ص) له طريقي سره سم مېلمستيا جوړه کړي؛ عبادت يې کړی دی.

کله چي څوک د پيغمبر (ص) له طريقي سره سم خواړه وخوري؛ عبادت يې کړی دی.

کله چي څوک د پيغمبر (ص) له طريقي سره سم له خپلي مېرمني اوکورنۍ سره غوره اخلاق وکړي؛ عبادت يې کړی دی.

کله چي څوک د پيغمبر (ص) له طريقي سره سم د خپل ځان او کورنۍ لپاره د حلالي نفقي د لاسته راوړلو کوښښ وکړي؛ عبادت يې کړی دی.

کله چي څوک د پيغمبر (ص) له طريقي سره سم په موټر کي سپور شي او په موټر کي د کښېناستو اخلاقي آداب مراعت کړي؛ عبادت يې کړی دی.

کله چي څوک د پيغمبر (ص) له طريقي سره سم له خپلو ګاونډيانو سره نېکه معامله وکړي؛ عبادت يې کړی دی.

کله چي څوک د پيغمبر (ص) له طريقي سره سم له خپلو خپلوانو سره تګ او راتګ وکړي؛ عبادت يې کړی دی.

کله چي څوک د پيغمبر (ص) له طريقي سره سم خبرې وکړي؛ عبادت يې کړی دی.

کله چي څوک د پيغمبر (ص) له طريقي سره سم ناسته او ولاړه وکړي؛ عبادت يې کړی دی.

کله چي څوک د پيغمبر (ص) له طريقي سره سم خپل موراو پلار ته درناوی وکړي؛ عبادت يې کړی دی.

کله چي څوک د پيغمبر (ص) او صحابي مېرمنو؛ لکه بي بي سميه، بي بي عايشه، بي بي فاطمه، بي بي مريم، بي بي هاجره او بي بي اسماء له طريقي سره سم عمل وکړي، جامي واغوندي او واده وکړي؛ عبادت يې کړی دی.

**د زمزم فلسفه:** يو خورا مهم حقيقت دی او پوهېدل يې د هر مسلمان لپاره اړين دي. هغه دا سي چي د خدای مرسته هغه مهال د يو مؤمن انسان لپاره ٪ ۱۰۰ ور رسېږي چي له مادی اسبابو او ټولو مخلوقاتو څخه د دغه انسان تړاو پرې شي. کله چي ابراهيم (ع) پلار، ترونو، خپلوانو او ټولو دوستانو يې اورته وغورزاوه اوابراهيم (ع) يوازې پاتې شو او د نمرود په اور کي ډوب شو، نو يو پرېښته راغله او ورته يې وويل چي آيا مرسته غواړې؟ او مرستي ته اړتيالرې؟ ويې ويل:هو ولي ستا څخه نه. کله چي د اسلام پيغمبر د قريشو له خلکو څخه ناهيلی شو د طايف په لور يې خپله لاره ونيوه، ښايي چي هغوئ اورېدونکي غوږونه او ليدونکي سترګي نه لرلي، چي د زړه په پوهي سره يې حقيقتونه درک کړي وای؛ ولي هلته له قريشو نه هم ډېر بد غلامان او ماشومان يې د محمد (ص)او د هغه د ملګري زيد بن ثابت په لوري ورلېږل، چي دواړه په تيګو وولي او د پيغمبر له مبارکو پنو څخهويني په ځمکه باندې توی شوې. په دې مهال کي الهي ستره مرسته هغه ته ور ورسېده او هغه د الهي دربار ته د مېلمستيا لپاره غوښت او عرش ته يې پورته کړ، په همدې توګه د زمزم فلسفه هم هماغه الهي مرسته ده، چي کله بي بي حاجره له خپل زوی سره له ټولو انسانانو نه علاقه او هيله پرې کړه او د الله (ج)دربار ته يې مخ واړوه او هغه معصوم ماشوم د شيدو خوړلو پر مهال د ژوند لپاره اوبه نه درلودې او بېچاره مور يې دېخوا او ها خوا سرګردانه منډې وهلي.

Download from: www.aghalibrary.com

عزوجل خدای [ج] خپله مرسته راولیږله او د اسماعیل تر قدمونو لاندې د اوبو چینې جریان وموند او دغه اوبه، چې په ستونزمنو شیبو او له انسانانو څخه د هیلې د پرې کېدو په وخت کې د الهي مرستې په توګه جاري شوې دي؛ خپل ځان ته یې سپېڅلی نوم واخیست او مزه یې خوندوره نده، چې یې خلک د خوند لپاره نه؛ بلکې د سپېڅلتیا لپاره وڅښي.

## د حج فلسفه

حج د قرآني لارښوونو او نبوی[ص] احادیثو په رڼا کې د اسلام د سپیڅلي دین له مهمو ارکانو څخه مومو، چې د اسلام د پنځو بناوو له ډلې څخه د سپېڅلي اسلام پنځم رکن دی. که څه هم حج په ظاهر کې یو له اسلامي عباداتو څخه شمېرل کېږی، ولې د فلسفي حقیقتونو له نظره دغه اسلامي حکم د ځینو مهمو ځانګړنو لرونکی دی، چې په لږ ژورلید سره په دې حقیقت باندې پوهېږو. د حج د مراسمو اهمیت په لاندې ټکو کې تر مطالعې لاندې نیولی شو:

- د حج سیاسي معنویت
- د حج اقتصادي ونډه
- د حج ټولنیزه ونډه
- د حج کولتوري ونډه

Download from: www.aghalibrary.com

## د اتم څپرکي پوښتني

### الف: تشريحي پوښتني:

۱- په اسلام کې د عبادت فلسفه څه ده؛ واضح يې کړئ؟

۲-لمونځ په لغت او اصطلاح کې څه مفهوم لري ويې ليکی؟

۳-د لمانځه د حقيقت په اړه معلومات ورکړئ؟

۴-د لمانځه د فضيلت په اړه د يو آيت شريف ژباړه وليکئ؟

۵-روژه تعريف کړئ؟

۶-د روژی د حکمت او فلسفی په اړه معلومات ورکړئ؟

۷-زکات تعريف کړئ؟

۸-د زکات د فرضيت حکمت څه دی واضح يې کړئ؟

۹-د بی لمانځانو د سزا په اړه خپل معلومات وليکئ؟

۱۰-د حج فلسفه او حکمت په لنډ ډول وليکئ؟

### ب: سمي او غلطي پوښتني:

۱. د صلاة یوه معنا درود او دعا ده.

۲. حج په لغت کې د قصد په معنا ده.

۳. روژه يوازی له خوړلو او څښلو څخه منع کېدل دي او بس.

۴. لمونځ په الله اکبر سره پيل او په درود پای ته رسيږی.

۵. رمضان په لغت کې د گرمی د شدت په معنا راغلی دی.

### ج: خانه خالي پوښتني:

لاندي تش ځايونه د مبارکو آيتونو په ژباړي ډک کړئ:

۱. (ان الصلاة تنهی عن الفحشاء والمنکر) الاية...............................

۲.(فاذکرونی اذکرکم و اشکروا لی و لاتکفرون) د بقري سورة۱۵۲ آيت ............................

Download from: www.aghalibrary.com

مأخذونه او مراجع:

۱- قرآن کریم

۲- صحیح البخاري

۳- صحیح المسلم

۴- سنن ابن ماجه

۵- ترمذي

۶- سنن نسايي

۷- نړۍ لید، اسلامي، از استاد عبدالظاهر داعي.

۸- نړۍ لید اسلامي و عقیده اسلامي از پوهندوی عبد الواحد جهید

۹- عقیده اسلام متکی بر قرآن کریم و حدیث از حافظ، از حافظ استاد محمد رباني خطیبي

۱۰- عقیده اسلام در پرتو قرآن از نعمت الله وثیق

۱۱- اصول دعوه از عبدالکریم زیدان

۱۲- حلال و حرام از دوکتور یوسف قرضاوی

۱۳- د سلام پوهنتون او کابل مرکزي پوهنتونونو د اسلامي ثقافت استاذانو لیکچر نوټونه.

Download from: www.aghalibrary.com

Download from: www.aghalibrary.com